د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

کلنی بولټن، ۱۳۹۳ مالي کال

( د ۲۰۱۵ جنوري)

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

کلنی بولټن، ۱۳۹۳ مالي کال

(د ۲۰۱۵ جنوري)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون: ۲۱۰۰۲۹۳-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

برېښنالیک: mp@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د خپاره شویو مطالبو د نشرولو حق خوندي دی خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا کلنی بولټن د ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر ۲۰ پورې) اقتصادي او احصائیوي پرمختګونه توضیح کوي.

## د محتویاتو لړلیک


**د لوی رئیس پیغام** ـــــ ط

**عمومي کتنه** ـــــ ک

**نړیوال اقتصادي وضعیت** ـــــ ۳

**۱. راغوړېدلي اقتصادونه** ـــــ ۳

۱.۱ د چین اقتصاد ـــــ ۴

۲.۱ د روسیې اقتصاد ـــــ ۴

۳.۱ د هند اقتصاد ـــــ ۴

۴.۱ د ترکیې اقتصاد ـــــ ۴

**۲. پرمختللي اقتصادونه** ـــــ ۵

۱.۲ د متحدو ایالتونو اقتصاد ـــــ ۵

۲.۲ د جرمني اقتصاد ـــــ ۵

۳.۲ د بریتانیې اقتصاد ـــــ ۵

۴.۲ د فرانسې اقتصاد ـــــ ۵

۵.۲ د جاپان اقتصاد ـــــ ۵

۶.۲ د ایټالیې اقتصاد ـــــ ۵

**په ۲۰۱۴ کال کې نړیواله بېکاري** ـــــ ۶

**د انفلاسیون نړیوال بهیر** ـــــ ۷

**نړیواله سوداګري** ـــــ ۸

**په نړیوال اقتصاد کې د سفر او ګرځندوی سکتور ونډه** ـــــ ۱۰

**مالي تګلاره (پالیسي)** ـــــ ۱۲

**د پانګې او پولي بازار پرمختګونه** ـــــ ۱۷

۱. پولي پروګرام ـــــ ۱۷

۲. د نقدینه ګۍ حجم ـــــ ۱۷

۱.۲ خالصه نړیواله زیرمې ـــــ ۲۰

۳. د اسعارو د مبادلې بازار ـــــ ۲۰

۱.۳ د اسعارو نرخونه ـــــ ۲۰

۲.۳ د اسعارو لیلام ـــــ ۲۱

۴. د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط ـــــ ۲۴

۱.۴ د پانګه ایزه پاڼو لیلام ۲۴
۲.۴ الزامي او اضافي زیرمې ۲۴
**د انفلاسیون بهیر او لید لوری** ۳۳
**۱.** په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې ۳۴
۱.۱ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص پرمختیاوې ۳۵
۲.۱ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې پرمختیاوې ۴۰
۱.۲.۱ کلني پرمختیاوې ۴۱
**۲. د سیمې د انفلاسیون بهیر** ۴۳
۲.۱ په پاکستان کې انفلاسیون ۴۳
۲.۲ په هند کې انفلاسیون ۴۳
۳. د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری ۴۴
۱.۳ خطرونه ۴۴
**۴. د بهرني سکتور پرمختیاوې** ۴۷
۱.۴ د تادیاتو بیلانس ۴۷
۲.۴ د توکو سوداګري ۴۸
۳.۴ د سوداګرۍ لوری ۵۰
۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۵۳
۵.۴ بهرنۍ پوراینې ۵۵
۶.۴ خالصه نړیواله زیرمې ۵۶
**د حقیقي سکتور پرمختیاوې** ۶۱
**۱. کورني ناخالصه تولیدات د تولیدي سکتور پر اساس** ۶۱
**۱.۱** کورني ناخالصه تولیدات د لګښتونو د کټګوریو پر اساس ۶۴
۲. د ۱۳۹۴ کال لیدلوری ۶۵
**د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۶۹
**۱. د بانکي نظام شتمنی** ۶۹
**۱.۱ ناخالص پورونه** ۷۱
**۲.۱ د بانکونو ترمنځ طلبات** ۷۵
**۳.۱ پانګه اچونه** ۷۵
**۴.۱ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات** ۷۵
**۲. پوراینې** ۷۶

۱.۲ امانات ۷۷
۲.۲ پور اخیستنې ۷۷
۳. نقدینګی (سیالیت) ۷۷
۱.۳ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ۷۸
۴. پانګه ۷۸
۵. ګټورتیا (نافعیت) ۷۹
۶. د اسعارو خطر ۷۹
۷. د ټکټانې د نرخ خطر ۷۹

## د ګرافونو لیست


۱.۱ ګراف: کورنۍ ناخالصه تولیدات ۴
۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره پولي زیرمې ۱۸
۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره په ګردښت کې پیسې ۱۸
۳.۲ ګراف: پیسه وزمه، د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ونډه (٪) ۱۸
۴.۲ ګراف: امانات، د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ونډه (٪) ۱۹
۵.۲ ګراف: حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره هدف ۲۰
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ ۲۱
۷.۲ ګراف: د پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ ۲۱
۸.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ-۱۳۹۳ مالي کال ۲۱
۹.۲ ګراف: د ایراني ریال په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ-۱۳۹۳ مالي کال ۲۱
۱۰.۲ ګراف: د پانګه ایزه پاڼو ناترلاسه شوی مبلغ-۱۳۹۳ مالي کال ۲۴
۱۱.۲ ګراف: د ناترلاسه شوي پانګه ایزه پاڼو ونډه ۲۵
۱۲.۲ ګراف: د ۲۸ ورځني پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوي مبلغونه ۲۵
۱۳.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځني پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ۲۵
۱۴.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځني پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ۲۵
۱۵.۲ ګراف: د ټکټانې نرخونو میعادي جوړښت ۲۵
۱.۳ ګراف: د خوړو او کرنې اداري د خوراکي توکو د بیې شاخص ۳۴
۲.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ویشنه (کال په کال) ۳۵
۳.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د قیچي کارۍ میتود یا Trimmed Mean) ۳۵
۴.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۳۸
۵.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۴۰
۶.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۴۲
۷.۳ ګراف: په پاکستان کې انفلاسیون ۴۳
۸.۳ ګراف: په هند کې انفلاسیون ۴۴
۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس ۴۷
۲.۴ ګراف: د پانګې او مالي حساب ۴۸
۳.۴ ګراف: بهرني مستقیمې پانګونې ۴۸
۴.۴ ګراف: سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس(په میلیون ډالر) ۵۰
۵.۴ ګراف: د صادراتو لورۍ ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۵۳

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۲ مالي کال ۵۳
۷.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۵۴
۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۲ مالي کال ۵۴
۹.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۵۴
۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۲ مالي کال ۵۴
۱۱.۴ ګراف:د بهرنۍ پوراینې پرتله: د ۱۳۹۲ مالي کال څلورمه ربعه او ۱۳۹۳ مالي کال څلورمه ربعه ۵۶
۱۲.۴ ګراف: د تیرو ربعو په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې( په میلیون ډالر) ۵۶
۱.۵ ګراف: د لګښت له مخې د کورني ناخالصه تولیداتو کلنی ونډه (۱۳۹۳) ۶۴
۲.۵ ګراف: په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې د سکتورونو ونډه ۶۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ۷۰
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ۷۱
۳.۶ ګراف: د پورونو د پورتوفولیو کیفیت ۷۴
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه ۷۵
۵.۶ ګراف: د پوراینې ۹.۱۷ میلیارده افغانۍ زیاتیدنه ۷۶
۶.۶ ګراف: په افغانۍ ایښودل شوي امانات ۷۷
۷.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکیب ۷۷
۸.۶ ګراف: د اماناتو ۱.۹۹ سلنه ټیټوالی ۷۷
۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي ۷۷
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت) ۷۹
۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۷۹
۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ۷۹

## د جدولونو لیست

۱.۱ جدول: د سفر او سیاحت اقتصادي ونډه ۱۱
۱.۲ جدول: د نقدینه ګۍ حجم، ۱۳۹۳ مالي کال ۱۹
۲.۲ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د بهرنیو اسعارو د لیلام لنډیز ۲۲
۳.۲ جدول: د ۲۸ ورځني بیه لرونکو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی) ۲۶
۴.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو لیلام( په میلیون افغانی) ۲۷
۵.۲ جدول: د۳۶۴ ورځني بیه لرونکو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانی) ۲۸
۱.۳ جدول: د ملی عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه ( کال په کال) ۳۷
۲.۳ جدول: د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه ( ربعه په ربعه) ۳۹
۳.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۴۱
۴.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۴۲
۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس ۴۸
۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه ۴۹
۳.۴ جدول: د تجارتي توکو سوداګري ۵۰
۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه ۵۲
۵.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۲ مالي کال لومړی نیمایي ۵۲
۶.۴ جدول: د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر د ۲۱ په پای کې د بهرنیو پوراینو د اجزاوو وېشنه ۵۵
۷.۴ جدول: نړیواله خالصه زېرمې، له ۱۳۸۹ کال څخه تر ۱۳۹۲ کاله پورې ( په میلیون ډالر) ۵۷
۱.۵ جدول: د سکتورونو له مخې کورني ناخالصه تولیدات (GDP) (د سلنې په اساس) ۶۲
۲.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو لخوا د واقعي کورني ناخالصه تولیداتو وده (د سلنې له مخې) ۶۳
۳.۵ جدول: د لګښت د کټګوریو له مخې اسمي کورني ناخالصه تولیدات (کال په کال) ۶۵
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراینې ترکیب ۷۰
۲.۶ جدول: د کریډېټ سکتوري وېش ۷۳
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه ۷۸
۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان ۷۹



## د لوی رئیس پیغام

”د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمنونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تمرکز یې د بیو پر ثبات (د بانک لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي.“

## د لوی رئیس پیغام

خوښ یم چې د عالي شورا او د عامل پلاوي په استازیتوب د ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر تر ۲۰ پورې) لپاره د افغانستان بانک د اقتصادي او احصائیوي بولټن دا نسخه وړاندې کوم. دغه کلنی بولټن د افغانستان بانک د هغو فعالیتونو ښکارندوی دی چې موخه یې د انفلاسیون د نرخ ټیټول، د افغانی د مبادلوي نرخ ثبات او د باثباته اقتصادي ودې لپاره د یو لا پیاوړي بانکي سکتور رامنځ ته کول دي.

د ۱۳۹۳ مالي کال د افغانستان د اقتصاد لپاره له ننګونې ډک کال و. د سیاسي پیښو له امله اقتصادي وده تر اغېزې لاندې راغلې ده. د کورني ناخالصه تولیداتو حقیقي وده ۲.۱ سلنه اټکل شوې ده چې له تمې څخه ډېره ټیټه ده. سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا د پانګوونکو او مصرفوونکو پر هر اړخیز اعتماد باندې منفي اغېزه پرې ایښې ده. په ۱۳۹۳ کال کې کرنیز محصولات پرېمانه وو، خو سره له دې هم د ۱۳۹۲ کال له نرخ څخه لوړ نشو. د ځینو شاخصونو پر بنسټ، کېدای شي په ۱۳۹۴ کال کې اقتصادي وده لا کمزوره شي.

د ۲۰۰۹ کال د مارچ میاشتې راهیسې د انفلاسیون تر ټولو ټیټ نرخ ثبت شوی دی. د انفلاسیون عمومي نرخ ټیټېدونکي بدلونونه د تیر کال په څلورمه ربعه کې پیل شول او د ۱۳۹۳ مالي کال د څلورمې ربعې (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) تر پایه پورې یې دوام وموند. د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې (کال په کال) انفلاسیون ۱.۳ سلنې ته ورسېد. د مصرفي توکو د بیې شاخص (خوراکي او غیر خوراکي برخو) د انفلاسیون نرخ ښکته ثبت شوی دی، خو د خوراکي توکو نرخ بیا د پام وړ لړ شوی دی.

د پولي او پانګه ایز بازار په ۱۳۹۳ مالي کال کې مختلطه بهیر درلودلی دی. پولي زیرمې چې د عملیاتي هدف په توګه کارول کیږي، ۱۳ سلنه وده کړې ده چې ارزښت یې د کال په پای کې ۲۲۵ میلیارده ډالرو ته رسیږي. حقیقي پولي زیرمې د کال د پای د ۱۲.۷ سلنې هدف څخه لړخه پورته وې. له بلې خوا، د افغانستان بانک د خالصه نړیواله زیرمې هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) په کلنی توګه ۹.۵ سلنه وده کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۸.۳۴ سلنه وده ښکاره کوي او د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۰۲ میلیارده افغانیو ته رسیږي.

بهرنی سکتور د جاري حساب د کسر له امله تر فشار لاندې پاتې شوی، که څه هم لږ څه محدود شوی دی. د دې ترځنګ د ارزونې لاندې موده کې د پانګې په بهیدنې کې کموالی راغلی دی. سوداګریز کسر لږ شوی او تمه کیږي چې وده ومومي. د خدمتونو له لارې د پانګې بهیدنې او صادراتي عوایدو د ارزونې لاندې موده کې د جاري حساب د کسر د کمېدو په برخه کې مرسته کړې ده.

له بلې خوا، د افغانستان خالصه نړیواله زیرمو ۶ سلنه وده کړې ده چې د ۱۳۹۳ مالي کال له پایه د وارداتو نږدې ۱۱ میاشتې په بر کې نیسي چې د زیرمې شومره والي د نړیوال منل شوي معیارونو څخه په کافي اندازه لوړ دی. په همدې

حال کې د افغانستان د بهرني پوراینې تـولـیزې ونـډې د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې کموالی ثبت کړی دی.

بانکي سیستم په دې مالي کال کې خوځښت مـونـدلـی او ښې کړنې یې ترسره کړي دي. د بانکي سکتور شـتـمـنـۍ متعادله وده درلوده چې په عمده توګه د اماناتو په مـرسـتـه ترسره شوې ده.

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي د تېر کال په پرتله لږڅه زیات شوي دي. د امانـاتـو د لـږې

ودې اصلي لامل د ولسمشریزو ټاکنو اوږده پروسـه او پـه اقتصاد کې سیاسي ناډاډمنتیا په ګوته شوی دی.

په پای کې غواړم چې د بانک د ټـو مدیریتونو/آمریـتـونـو په تېره بیا د پولي سیاست د آمریت او د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د هڅو کارکوونکو له نه ستړې کـېـدونـکـې هلوځلو څخه ستاینه وکړم چې د دې خپرونې په ژباړې او خپرولو کې یې برخه اخیستې ده.

**خلیل صدیق**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

## عمومي کتنه

د نړۍ اقتصاد په ۲۰۱۴ کال کې په معتدله توګه وده موندلې خو د کورني ناخالصه تولیداتو وده بیا د کړکیچ د مخکې کچې په پرتله په زیاترو اقتصادونو کې د پام وړ اندازه لږه وه. اټکل شوې چې د نړۍ ناخالصه تولیدات د ۲۰۱۴ کال په موده کې ۲.۶ سلنه وده وکړي، چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۱ سلنه ډېره شوې ده، خو د ۲.۹ سلنې پلان شوې ودې په پرتله لږه ده.

په ۲۰۱۴ کال کې د پرمختللو اقتصادونو د ودې نرخ ۱.۶ سلنه اټکل شوی دی چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۴ سلنه وده ښکاره کوي. د نړۍ تر ټولو ستر اقتصاد د کال په لومړۍ ربعه کې په عمده توګه د ژمي د خرابې هوا له امله کمزورې وده درلوده، خو په دوهمه ربعه کې د پام وړ وده کړې چې کچه یې ۴.۶ سلنه ثبت شوې ده. په پایله کې، د ۲۰۱۴ کال په پای کې دې اقتصاد ۲ سلنه (کال په کال) وده موندلې ده.

د جاپان اقتصاد د ۲۰۱۴ کال په لومړۍ ربعه کې له پیاوړې ودې څخه ووت او په راتلونکو دوه پرله پسې ربعو کې د منفي ودې په درلودلو سره له تخنیکي رکود سره مخ شو. لوړه مصرفي مالیه چې خصوصي مصرف یې تر فشار لاندې راوستی دی، د انقباضي ودې اصلي لامل انګیرل کیږي. تمه کیږي چې په ۲۰۱۴ کال کې کلنۍ اقتصادي وده ۰.۴ سلنې ته ورسیږي.

په ۲۰۱۴ کال کې د کاناډا او استرالیا وده په ترتیب سره ۲.۳ سلنه او ۳ سلنه اټکل شوې ده، په داسې حال کې چې د فرانسې اقتصادي فعالیت له رکود سره مخ شوی او د ایټالیې اقتصاد بیا د دریم پرله پسې کال لپاره له انقباضي ودې سره مخ شوی دی.

په اروپا په تېره بیا په یورو سیمه کې اقتصادي فعالیت ډېر کمزوره ؤ، ځیني اقتصادونه له رکود سره مخ شوي او ځیني نور یې رکود ته د نږدې کېدو په حال کې دي.

د ختیځ آسیا پیاوړی اقتصادي فعالیت چې په ۲۰۱۴ کال کې یې ۶.۱ سلنه وده کړې ده ښایي چې د نړۍ تر ټولو چټکه اقتصادي وده موندونکې سیمه وي، په داسې حال کې چې د لویدیځې آسیا اقتصادي وده د نفتو د لږې بیې او په منځني ختیځ کې د جګړو له امله شا ته پاتې ده. اټکل کیږي چې په ۲۰۱۴ کال کې د لویدیځې آسیا د ودې نرخ ۲.۹ سلنه وي چې د تېر کال د ۴ سلنې ثبت شوي نرخ څخه ښکته دی.

په انتقالي اقتصادونو کې اقتصادي پرمختګ په سیمه کې د جیوپولیتیک تشنج له امله کمزوره پاتې شوی دی. د روسیې اقتصاد د اکراین کړکیچ په سر د لګیدلي بندیزونو له امله کمزوره شوی دی. د ګډو ګټو هېوادونو (CIS) کوچني اقتصادونه د پانګې د لږې بهیدنې او دې هېواد ته په بهر کې د مېشته وګړو د پیسو د کمې لیږنې له امله شا ته پاتې شوي دي.

په افغانستان کې پولي او پانګه ایز بازار په ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر له۲۱ څخه د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر تر ۲۰ پورې)کې یو مختلطه بهیر درلودلی دی. پولي زیرمې چې د عملیاتي هدف لپاره کارول کیږي، ۱۳ سلنه وده کړې ده، چې ارزښت یې د کال په پای کې ۲۲۴،۸۸۵.۸۱ میلیونه افغانی ته رسیږي. حقیقي پولي زیرمې د کال د پای ۱۲.۷ سلنې هدف څخه لږ څه پورته و. په ګردښت کې پیسې چې ''یو ضمني هدف'' ګڼل کیږي، د ارزونې لاندې کال کې تر ۱۷ سلنې پورې زیاتې شوي دي چې ۱۹۷،۰۲۲.۹۵ میلیونه افغانی ته رسیږي.

له بلې خوا د افغانستان بانک، د خالصه نړیواله زیرمو هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۳۸۴،۱۵۲ میلیونه افغانۍ پاتې شوی چې کلنۍ وده یې (کال په کال) ۹.۵۴ سلنه ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی، چې (د کال په کال) ۸.۳۴ سلنه وده ښکاره کوي چې د ارزونې لاندې کال په پای کې ارزښت یې ۴۰۱،۵۸۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د افغانستان بانک د دې لپاره چې د پولي زیرمې وده کنټرول کړي د آزاد بازار د عملیاتو په چوکاټ کې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو له پلورلو څخه د پولي ابزارو په توګه کار اخلي.

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۳،۳۴۱.۴۳ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو په بازار کې سیالیت مدیریت او د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ نا اړینه نوسانات راکم کړي.

د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوی مبلغ ۳۸ میلیارده افغانۍ پاتې شوی، په داسې حال کې چې د ارزونې لاندې موده کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱.۷۹ سلنه راټیټ شوی دی.

د اومه نفتو بیو د ۲۰۱۴ کال په وروستي ربعه کې ټیټیدونکی بهیر درلوده چې د نړۍ د نفت تولیدوونکو هېوادونو باندې شدیده اقتصادي فشار راوستی دی. دا اندیښنه هم شتون لري چې د نفتو په بیو کې زیات کموالی د نفتو د تولیدوونکو هېوادونو اقتصادي او سیاسي ثبات له ګواښ سره مخ کړي. پالیسي جوړوونکي باور لري چې ځیني عواملو د نفتو د بیې په غورځېدو کې ستر رول لوبولی دی. د نفتو د بیې لپاره تر ټولو لوی ټکان د OPEC غړي هېوادونو هغه اعلامیه وه چې له مخې یې د تولید اوسنی کچه باید وساتل شي.

په افغانستان کې عمومي انفلاسیون د ۲۰۰۹ کال د مارچ میاشتې راهیسې خپل تر ټولو ټیټ نرخ ثبت کړی دی. د انفلاسیون عمومي نرخ ټیټېدونکي بدلونونه د تېر کال په څلورمه ربعه کې هغه مهال پیل شول چې د انفلاسیون نرخ ۷.۳ سلنه ؤ. د څلورمې ربعې په پای (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) کې د هېواد په کچه د انفلاسیون نرخ ۱.۳ سلنه (کال په کال) ؤ. خوراکي او غیر خوراکي توکي چې د مصرفي توکو د بیې د شاخص د ټوکرۍ تر ټولې مهمې برخې ګڼل کیږي، د ۲۰۱۳ کال د څلورمې ربعې په پرتله د انفلاسیون ټیټ نرخ ثبت کړی دی، خو د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ څکه د پام وړ ټیټ و چې د سبزیجاتو بیې ټیټې وې.

د ټوکرۍ د دې فرعي برخې بیه منفي ۹.۶ سلنې ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې له ۳۰.۷ سلنې څخه ډېر ټیټ دی. د مخکې ذکر شویو بهرنیو عواملو ترڅنګ، د انفلاسیون په نرخ کې کموالی د هېواد د مهمو اقتصادي شاخصونو د ټیټېدونکي بهیر په پام کې نیولو سره څېړل کیږي. د ولسمشریزه ټولټاکنو د اوږدې پروسې له امله سیاسي اندیښنې، نامناسبه امنیتي شرایط او د پراختیایي پروژو کموالي د ارزونې لاندې موده کې اقتصادي فعالیت ټکنی کړی دی. دا ډول ټولیز عاید په جدي توګه کم شوی چې په خپل وار ټولیزه کورنۍ تقاضا یې تر فشار لاندې راوستې ده.

د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص پر بنسټ د انفلاسیون په نرخ کې بدلونونو د ارزونې لاندې موده کې د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص له نرخ سره ورته

والی لري. د ۲۰۰۹ کال د مارچ میاشتې راپدېخوا د کابل عمومي انفلاسیون د کلني سلنیز بدلونونو د سنجش له مخې د ۲۰۱۴ کال په ډیسمبر کې تر ټولو ټیټ منفي ۱.۱ سلنه ثبت شوی دی.

د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ته ورته د کابل خوراکي فرعي شاخص د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د پام وړ کموالی درلودلی دی. په کابل کې د خوراکي توکو د بیو د ټیټیدو صلي لامل سبزیجات په ګوته شوي چې د تېر کال په پرتله ۰.۳۵۶ سلنیزه د پام وړ ښکته شوی دی. د خوراکي توکو د فرعي شاخص دا فرعي برخه د ۱۳۹۲ مالي کال له ۳۰.۰ سلنه انفلاسیوني نرخ څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۵.۶ سلنې دیفلاسیون ته رالوېدلی دی.

بهرنی سکتور د ارزونې لاندې موده کې د جاري حساب د کسر او د پانګې د لږې بهیدنې له امله تر فشار لاندې پاتې شوی دی. د سوداګرۍ کسر ۲۳ سلنه لږ شوی او تمه کېږي چې لا هم کم شي. د شته شمېرو له مخې، د جاري حساب کسر د ۱۳۹۲ مالي کال له ۵،۵۹۲.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۴۳۹۲.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوی دی. د خدمتونو له لارې داخلېدونکي پانګې او د صادراتو عوایدو د ارزونې لاندې موده کې د جاري حساب د کسر په راکمېدو کې مرسته کړې ده.

خالصه نړیواله زیرمو (NIR) ۵.۹۹ سلنه وده کړې ده، چې د ۱۳۹۳ مالي کال تر پای پورې کولای شي نږدې ۱۱ میاشتې واردات تأمین کړي.

په همدې حال کې د افغانستان د بهرني پوراینې ټولیزه ونډه د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۸ سلنه کمه شوې ده.

په تېره لسیزه کې افغانستان د بیارغونې او بیا جوړېدنې لپاره لوی فرصت درلود. همدا دی چې د افغانستان اقتصادي وده په اوسط ډول ۹.۴ سلنه ثبت شوې ده چې په تېره لسیزه کې بې ساری وه. د دې پام وړ اوسط اقتصادي ودې نرخ وروسته د افغانستان اقتصادي وده د ۱۳۹۲ کال د ۶.۵ سلنې څخه په ۱۳۹۳ کال کې ۲.۱ سلنې اټکل شوي ودې ته د پام وړ کموالی موندلی دی.

په حقیقي سکتور کې ټولیزه تقاضا د ټاکنو د اوږده بهیر او د دې ترڅنګ د سیاسي او امنیتي اوښتون له امله چې د پانګوونکو د شمېر او د مصرفوونکو د اعتماد د کمېدو لامل شو، تر منفي اغېزې لاندې راغلی دی.

کرنیز محصولات د قناعت وړ ؤ، خو د تېر کال د بې ساري کچې څخه پورته نه شو. د اوسنیو شاخصونو د وضعیت په پام کې نیولو سره تمه کېږي چې په ۱۳۹۴ کال کې اقتصادي وده لږه وي.

کرنیز سکتور په ۱۳۹۳ کال کې ۳.۷ سلنه (کال په کال) وده کړې ده چې د تېر کال د ۸.۳ سلنې څخه ټیټ دی. همدا ډول نا کرنیز سکتورونو هم د ارزونې لاندې کال کې کمزوره وده ښکاره کړې ده. د صنعت سکتور د کلنۍ ودې نرخ ۲.۴ سلنه او د خدماتو سکتور بیا ۲.۲ سلنه وده ثبت کړې ده.

د بانکي سکتور شتمنۍ د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۹.۷۸ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۳ مالي کال (۲۰۱۴ ډیسمبر) کې نسبتاً لږه ۴.۵۰ سلنه یا ۱۱.۰۴ میلیارده افغانۍ وده تجربه کړې ده. د بانکي سکتور ټولیزې شتمنۍ د بانکي نظام د ټولیزو اماناتو د زیاتېدو له امله لوړ شوي دي.

د بانکي سکتور د ناخالصه پورونو پورتوفولیو د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱۱.۳۳ په پرتله د ۲۰۱۴ کال په اوږدو

کې ۷.۸۹ سلنه یا ۳.۷۱ میلیارده افغانۍ ته راټيټ شوی دی، چې ارزښت یې ۴۳.۲۳ میلیارده افغانۍ ؤ. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا اداینې، تصفیې، خسارې حساب او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه او په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو پر ورکړې د محدودیت لګول، د کموالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

امانات چې د بانکي سکتور مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، ارزښت یې ۲۱۸.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه پوراینې ۹۶.۶۰ سلنه جوړوي او د تېر کال (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) د ۸.۱۰ سلنې زیاتوالي په پرتله ۵.۳۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د اماناتو د لږې ودې اصلي لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه او په اقتصاد کې سیاسي ناډاډمنتیا ګڼل کیږي. د بانکي نظام ډېری امانات په امریکایي ډالرو (۶۲.۶۱ سلنه) او ورپسې افغانۍ امانات ۳۴.۰۸ سلنه دي.

د بانکي نظام پانګې په څلورمه ربعه کې پیاوړې وضعیت درلوده او کچه یې د ۶.۶۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۳۰.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیده چې د زیاتیدو اصلي لامل یې د بانکي نظام د ګټورتیا زیاتوالی په ګوته شوی دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت( Capital Adequacy Ratio) ۲۶.۴۶ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی.

د بانکي سکتور ګټه ۲۰۱۴ مالي کال په اوږدو کې ښه شوې ده چې ۲.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږیاو د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱.۴۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۰.۹۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۸.۱۸ سلنې ودې په پرتله ۷.۳۵ سلنې ته راکمه شوې ده. د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټې د کمېدو لامل د لګښتونو د نسبت زیاتوالی په ګوته شوی دی. دولتي بانکونه، خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی دی.



# ۱

# وضعیت اقتصادی ونزوئلا

# ۱
# نړیوال اقتصادي وضعیت

**نړیوال اقتصادي وضعیت**

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د نړۍ اقتصاد په معتدله توګه وده موندلې ده، خو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ بیا د کړکیچ د مخکې کچې په پرتله په ډېری اقتصادونو کې لږه وه. داسې اټکل کېده چې د نړۍ ناخالصه تولیدات (WGP) به د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ۲.۶ سلنه وده وکړي چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۱ سلنیزه وده ښکاره کوي، خو د ۲.۹ سلنه وړاندې ویل شوې ودې په پرتله لږه ده.

د پرمختللو اقتصادونو د ودې نرخ په ۲۰۱۴ کال کې ۱.۶ سلنه اټکل شوی ؤ چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۴ سلنه وده ښکاره کوي. د نړۍ تر ټولو ستر اقتصاد د کال په لومړی ربعه کې کمزوره اقتصادي وده درلوده چې اصلي لامل یې د ژمي بده هوا ښودل شوی دی، خو په دوېمه ربعه کې یې د پام وړ پرمختګ کړی چې کچه یې ۴.۶ سلنه ثبت شوې ده. په پایله کې دې اقتصاد د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې ۲ سلنه (کال په کال) وده وموندله.

د جاپان اقتصاد د ۲۰۱۴ کال د لومړي ربعې له پیاوړې ودې څخه په راتلونکو دوو پرله پسې ربعو کې له تخنیکي رکود سره مخ شو. لوړه مصرفي مالیه چې خصوصي مصرف یې تر فشار لاندې راوستی دی، د انقباضي ودې اصلي لامل ګڼل کېږي. په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد کلنۍ اقتصادي وده ۰.۴ سلنه اټکل شوې ده.

په ۲۰۱۴ کال کې د کاناډا او استرالیا اقتصادي وده په ترتیب سره ۲.۳ سلنه او ۳ سلنه اټکل شوې ده، حال دا چې د فرانسې اقتصادي فعالیت له رکود سره مخ شوی او د ایټالیې اقتصاد هم د تمې له مخې د درېم پرله پسې کال لپاره کمزوره وده درلوده.

په اروپا په تېره بیا په یورو سیمه کې اقتصادي کړنې ډېرې کمزوره شوي دي، ځیني اقتصادونه له رکود سره مخ شوي او ځیني نور یې د رکود په حال کې دي.

د ختیځ آسیا پیاوړي اقتصادي کړنې چې په ۲۰۱۴ کال کې یې ۶.۱ سلنه وده درلوده، د نړۍ د چټکه وده موندونکې سیمې په توګه ثابت شوی دی، حال دا چې د لویدیځ آسیا اقتصادي وده د نفتو د بیې د کمېدو او په منځني ختیځ کې د وسله والې جګړې له امله شاته پاتې دی. په ۲۰۱۴ کال کې د لویدیځ آسیا د اقتصادي ودې نرخ ۲.۹ سلنه اټکل شوی دی چې د تېر کال د ۴ سلنې ثبت شوي نرخ څخه ټیټوالی ښکاره کوي.

په انتقالي اقتصادونو کې اقتصادي پرمختګ په سیمه کې د جیوپولیتیک تشنج له کبله کمزوره شوی دی. د روسیې اقتصاد د اکراین د کړکېچ په سر د لګیدلي بندیزونو له کبله وروسته پاتې دی. د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو کوچني اقتصادونه د پانګې د لږې بهیدنې او د دې هېوادونو ته په بهر کې د مېشته وګړو د پیسو د کمې لیږنې له امله شاته پاتې شوي دي.

## ۱. راغوږېدلي اقتصادونه

په ۲۰۱۴ کال کې د راغوږېدونکي او انتقالي (د بدلون په حال کې) اقتصادونو وده متفاوته وه. ځیني هېوادونه د جیوپولیتیک او سیاسي تشنج تر څنګ د تشکیلاتي نابرابریو، بیخ بنسټیزه تنګوالي او د لوی اقتصاد د نااغېزناکه مدیریت په شان له بیلابیلو ننګونو سره مخ شوي دي.

د یوې ډلې په توګه د هېوادونو وده ۴.۳ سلنه اټکل شوې ده چې تمه کیږي په راتلونکو دوو کلونو کې لا وده وکړي، حال دا چې د انتقالي اقتصادونو وده د راتلونکي کال لپاره

۰.۸ سلنه اټکل شوې ده.

د نړۍ سخت مالي شرایط، د راغوړېدونکي اقتصادونو د کمزوره کېدو خطر، جیوپولیتیک تشنج او د ایبولا د ناروغۍ خپرېدل پر سیمه ایز او نړیوال اقتصادي ودې باندې منفي اغېزې درلودلی شي.

۱.۱ ګراف:کورني ناخالصه تولیدات

د بیې پر اساس عیار شوي، زنځیره ای شاخص (۲۰۱۰=۱۰۰)




سرچینه: سوداګریز اقتصاد/د اقتصادي تحلیل اداره

### ۱.۱ د چین اقتصاد

د چین کورني ناخالصه تولیدات په ۲۰۱۴ کال کې ۶۳،۶۴۶.۳ میلیارده یوان ته رسېږي چې د تېر کال راهیسې ۷.۴ سلنه وده یعني په تېرو ۲۴ کلونو کې تر ټولو ټیټه وده ښکاره کوي.

د کال په منځ، په دوېمه ربعه کې یې تر ټولو لوړه وده ۷.۵ سلنه (کال په کال)ثبت کړې ده، حال دا چې په درېمه او څلورمه ربعه کې یې تر ټولو ټیټه وده درلوده چې په دواړو دورو کې په ترتیب سره ۷.۳ سلنه وده ښکاره کوي.

د دې ودې اصلي لاملونه کرنیزو محصولات، صنعتي تولیدات او د بازار پلورنې په ګوته شوي دي چې د کلني اسمي نرخ په اساس په ترتیب سره ۰.۹ سلنه، ۸.۳ سلنه او ۱۲ سلنه وده موندلې ده. د ثابتې شتمنۍ په پانګونې او په صادراتو او وارداتو کې کموالی د کمزوره ودې ستر لاملونه ګڼل کېږي.

### ۲.۱ د روسیې اقتصاد

د اروپایي بندیزونو او د نفتو د ټیټو بیو په پایله کې د نړۍ ستر انرژي صادروونکی اقتصاد په ۲۰۱۴ کال کې ۰.۷ سلنه وده موندلې چې د تېر کال د ودې په پرانډې لږه ده.

### ۳.۱ د هند اقتصاد

په ۲۰۱۴ کال کې د ۷.۵ سلنې ودې په درلودلو سره د هند اقتصاد په ورته دوره کې د چین له اقتصادي ودې څخه هم مخکښه دی. د ملي عوایدو د پرمختللي اټکل له مخې چې د ۲۰۱۵ کال د فبروری میاشتې په ۹ نېټه خپور شوی دی، ټمه کېږي چې د هند حقیقي کورني ناخالصه تولیدات به ۱۰۶.۵۷ تریلیون هندي روپۍ ترلاسه کړي. د کورني ناخالصه تولیداتو وروستی اټکل د لومړي اټکل د ۷.۴ تریلیون هندي روپۍ څخه زیات ؤ. د دې ودې ستر لاملونه د مالي سکتور، د غیر منقوله ملکیتونو د معاملو او نور سکتورونه ګڼل کیږي چې له ۷ سلنې زیاته وده یې ثبت کړې ده؛ ورپسې تولیدي او ودانیزې برخې چې په ترتیب سره ۶.۸ سلنه او ۴.۵ سلنه وده کړې، په دې ودې کې مهمه ځای درلود.

### ۴.۱ د ترکیې اقتصاد

د ترکیې اقتصاد په ۲۰۱۴ کال کې ۲.۹ سلنه وده کړې ده چې ارزښت یې ۱۲۶.۷۰ میلیارده لیرې ته رسېږي. د دې ودې عمده لاملونه حکومتي نهایي لګښتونه، کورني نهایي لګښتونه او د ناخالصه ثابته پانګې جوړول دي. په ۲۰۱۴ کال کې حکومتي لګښتونه ۴.۶ سلنه زیات شوي، ورپسې کورني

لګښتونه او بیا د ناخالصه ثابته پانګې جوړول ځای لري.

## ۲. پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۲ د متحدو ایالتونو اقتصاد

د امریکې د متحدو ایالتونو د حقیقي کورنی ناخالصه تولیداتو کلنی نرخ په ۲۰۱۴ کال کې ۲.۴ سلنې ته زیات شوی دی، چې د تېرو دوو کلونو په پرتله په ترتیب سره ۰.۰۲ او ۰.۰۱ سلنیزه زیاتوالی ښکاره کوي.

د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې عمده لاملونه د شخصي استهلاکي لګښتونه، غیر استوګنیځه ثابته پانګونه، صادرات او د داخلي او ایالتي حکومتونو لګښتونه ګڼل کیږي.

### ۲.۲ د جرمني اقتصاد

په ۲۰۱۴ کال کې د جرمني اقتصادي فعالیت ثابت پاتې شوی چې کورني ناخالصه تولیداتو یې ۱.۶ سلنه وده ثبت کړې ده چې دا وده د تېر کال او د تېرې لسیزې د ۱.۲ سلنې د کلني اوسط نرخ په پرتله لوړوالي ښکاره کوي.

نهائي استهلاکي لګښتونه د دې ودې اصلي لامل دی. نور لاملونه یې د پانګې رغونه، سوداګري او تولید ګڼل کیږي.

### ۳.۲ د بریتانیایي اقتصاد

په ۲۰۱۴ کال کې بریتانیې د کورني ناخالصه تولیدات مثبته وده ثبت کړې ده چې ارزښت یې ۱۶۹۸ میلیارده پاونډ ته رسیږي. د دویم اټکل له مخې چې د دې هېواد د ملي احصائیې اداري لخوا د ۲۰۱۵ کال د فبروری میاشتې په ۲۶ نېټه خپور شوی ؤ، د بریتانیې اقتصاد د تېر کال د ۱.۳ سلنې په پرتله ۲.۶ سلنه وده کړې ده. د کورني ناخالصه تولیداتو وده بیا د لومړي اټکل سره چې د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۲۷ نېټه خپور شوی ؤ، هیڅ توپیر نه ښکاره کوي.

### ۴.۲ د فرانسې اقتصاد

د فرانسې اقتصاد د ۲۰۱۴ کال په لومړي نیمایي کې تر ټکنی ودې وروسته په دوهمه نیمایي کې بېرته رغېدنه پیل کړه.

په ۲۰۱۴ کال کې د فرانسې اقتصاد تېر کال ته ورته ۰.۴ سلنه مثبته وده درلوده. د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د فرانسې اقتصاد مختلط فعالیت درلودلی دی. په لومړي ربعه کې له رکود او په دوېمه ربعه کې له انقباضي وضعیت وروسته د فرانسې اقتصاد په درېمه ربعه کې د ۰.۳ سلنې ودې په درلودلو سره صعودي بهیر درلودلی دی او په وروستي ربعه کې یې بیا نسبتاً لږه ۰.۱ سلنه وده درلوده.

### ۵.۲ د جاپان اقتصاد

د جاپان اقتصاد د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د ۲.۲ سلنه کلني نرخ په ثبتولو سره له رکود څخه وتلی دی. د لومړنیو شمېرو له مخې، د جاپان کورني ناخالصه تولیدات د دوو پرله پسې ربعو له انقباضي ودې وروسته ۰.۶ سلنه (کال په کال) وده موندلې ده. په ټولیزې ودې کې د بهرنی تقاضا ونډه ۰.۰۲ سلنه وه، حال دا چې د خصوصي لګښت ونډه ۰.۳ سلنې ته رسیږي.

د جاپان اقتصاد په ۲۰۱۴ کال کې پر خرڅلاو باندې د مالیې لګولو له امله چې خصوصي لګښت یې کم کړی و، له تخنیکي رکود سره مخ شو.

### ۶.۲ د ایټالیې اقتصاد

د ایټالیې اقتصاد د ۲۰۱۲ کال راپدېخوا انقباضي حالت لري. د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د ایټالیې کورني ناخالصه تولیدات د تېر کال د ورته دورې په پرتله ۰.۵ سلنه کم شوي دي. د کورني ناخالصه تولیداتو د کمېدو اصلي عوامل ټرانسپورټي تجهیزات، بیا رغونې او د ناخالصه ثابته پانګې رغونه دي.

## په ۲۰۱۴ کال کې نړیواله بېکاري

اټکل کېده چې په ۲۰۱۴ کال کې نړیواله وزګارتیا ۱.۴ سلنه زیاته شي چې د تېر کال په پرتله یې بدلون موندلی نه دی، خو د کړکېچ مخکې کلونو کې له ثبت شوي ۱.۷ سلنې څخه راکمه شوې ده.

په پرمختللو هېوادونو کې د دندو کچه په مثبته لوري روانه وه، سره له دې چې د کړکېچ مخکې کچې څخه لاهم دا کچه ټیټه ده. د کارګرانو لپاره لږه تقاضا، د کارګرانو د ګډون ټیټ نرخ او تشکیلات د دې ټیټوالي لاملونه ګڼل کیږي.

په ځینو سترو د غوړېدا په حال اقتصادونو لکه برازیل او روسیې کې دندې د پام وړ زیاتې شوې دي، خو په پرمختلونکو هېوادونو کې په کې د پام وړ بدلون نه تر سترګو کیږي.

**د امریکې متحده ایالات:** د ۲۰۱۴ کال په پای کې د بېکارۍ نرخ ۵.۶ سلنه ثبت شوی دی چې د تېر کال د ورته مودې له ۶.۷ سلنې څخه راټیټ شوی دی. د بېکارۍ نرخ په ۲۰۱۴ کال کې ۰.۰۱۱ سلنې ته راښکته شوی دی. د بېکارو وګړو شمېر د ۲۰۱۳ کال په پرتله په ۲۰۱۴ کال کې ۲۰ سلنه راټیټ شوی دی.

**جرمني:** په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د بېکارۍ نرخ ۴.۸ سلنه ؤ چې د تېر کال د ورته مودې د ۵.۱ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي . د ۲۰۱۴ کال په پای کې ۱.۹۱ میلیونه وګړي بېکاره ؤ چې د تېر کال د ۲.۱ میلیونه په پرتله یې کچه ټیټه شوې ده.

**بریتانیا:** د بریتانیې د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۴ کال په پای کې ۵.۷ سلنې ته رسیده چې د تېر کال د ورته مودې د ۷.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۴ کال په پای کې د دې هېواد دندې په دوامداره توګه زیاتې شوي، دا ځکه چې د ۱۶ او ۶۴ کلونو ترمنځ د کاري وګړو اندازه ۷۳.۲ سلنې ته رسېده چې د تېرې ربعې او د تېر کال د ورته ربعې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

د شاوخوا ۹.۰۵ میلیونه وګړو په ډله کې چې ۱۶ او ۶۴ کلونو ترمنځ عمرونه لري او له دندې ګوښه شوي او کار پسې نه ګرځي، د تېرې ربعې په پرتله ۲۲،۰۰۰ تنه زیات شوي دي.

**جاپان:** په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د بېکارۍ کلنی اوسط نرخ ۳.۴ سلنه ښودل شوی چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۴ سلنه ټیټ شوی دی. د کال په اوږدو کې د بېکارۍ تر ټولو لوړ میاشتنی نرخ د کال په لومړۍ، شپږمه او اوومه میاشت کې ( ۳.۷ سلنه) ثبت شوی دی، حال دا چې د دې هېواد د بیکارۍ تر ټولو ټیټ نرخ د کال په وروستي میاشت کې ثبت شوی ؤ چې ۳.۴ سلنې ته رسېده.

**ایټالیا:** د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د ایټالیې د بېکارۍ نرخ د تېر کال په وړاندې ۱۳.۲ سلنه لوړ شوی، په داسې حال کې چې د رکود نرخ ۳۵.۳ سلنه راښکته شوی دی.

**چین:** د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په ۲۳ نېټه د دې هېواد د بشري منابعو او د ټولنیزو تامیناتو وزارت لخوا د خپاره شویو شمېرو له مخې په ۲۰۱۴ کال کې د چین په ښاري سیمو کې د بېکارۍ نرخ ۴.۹ سلنې ته رسیږي چې دا شمېره د ۲۰۱۳ کال د نرخ په پرتله ۰.۰۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. دا نرخ په ارزونې لاندې کال کې د چین حکومت لخوا له ټاکل شوي هدف څخه ټیټ شوی دی. د چین حکومت ژمنه کړې چې له ۱۰ میلیونو څخه زیاتې دندې رامنځ ته کړي او د بېکارۍ نرخ له ۴.۶ سلنې څخه ښکته وساتي.

**روسیه:** په ۲۰۱۴ کال کې د روسیې د بېکارۍ نرخ ۵.۲ سلنه ثبت شوی دی چې د تیر کال د ۵.۶ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي. په ربعوار ډول د بېکارۍ تر ټولو لوړ نرخ په لومړي ربعه کې ثبت شوی چې ۵.۵ سلنې ته رسیږي، حال دا چې تر ټولو ښکته نرخ په درېمه ربعه کې ثبت شوی چې ۴.۹ سلنې ته رسیږي.

**د انفلاسیون نړیوال بهیر**

په ۲۰۱۴ کال کې د انفلاسیون نرخ د نړۍ په کچه نامتوازنه ؤ. په ځینو پرمختللو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ وده کړې وه، په ورته وخت کې د پرمختګ په حال او اوښتونکو اقتصادونو کې لوړه پاتې شوې، حال دا چې ځینې نور هېوادونه له دیفلاسیوني خطر سره مخ شوي دي.

تمه کېږي چې نړیوال انفلاسیون ۱.۵ سلنې ته ورسېږي چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۲ سلنیزه زیاتوالی ښکاره کوي. اټکل کېږي چې د اروپایي ټولنې هېوادونو انفلاسیون په سلو کې له ۵۰ سلنې زیات کموالی ومومي. په ۲۰۱۴ کال کې د انفلاسیون نرخ ۰.۷ سلنه ثبت شوی چې د تېر کال له ۱.۵ سلنې څخه کم شوی دی. د انفلاسیون نرخ د ټیټېدو عمده لاملونه کمزوره وده، په تولید کې نیمګړتیاوې او د کورنیو اسعارو د ارزښت زیاتېدل ښودل شوي دي.

اټکل کېږي چې د انتقالي اقتصادونو د انفلاسیون منځنی نرخ به ۱.۸ سلنه زیات شي چې دلیل یې د کورني پیسو د بیو ټیټېدل په ګوته شوی دی.

**د امریکې متحده ایالات:** د مصرفي توکو د بیې شاخص په ۲۰۱۴ کال کې ۰.۸ سلنه زیات شوی چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۰۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په ۲۰۱۴ کال کې (د ۲۰۱۳ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۴ تر ډیسمبر پورې) د مصرفي توکو د بیې شاخص په تېرو پنځو لسیزو کې د دویم ځل لپاره ټیټ ثبت شوی دی چې د تېرې لسیزې د ۲.۱ سلنې کلني اوسط زیاتوالي په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

د مصرفي توکو د بیې د شاخص د کمېدو اصلي لامل د انرژۍ شاخص په ګوته شوی چې په ۲۰۱۴ کال کې ۱۰.۶ سلنه راښکته شوی دی.

**جرمني:** په وروستیو کلونو کې جرمني د انفلاسیون په کلني اوسط نرخ کې ټیټېدونکي فشارونه تجربه کړي دي. د انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر په ۲۰۱۱ کال کې هغه مهال پیل شو چې د انفلاسیون نرخ ۲.۱ سلنه ثبت شوی ؤ او په ۲۰۱۴ کال کې یې نرخ د ۰.۹ سلنې په درلودلو سره ټیټېدونکي بهیر درلوده.

په ۲۰۱۴ کال کې د عمومي بیو د کمېدو ستر لامل د انرژۍ بیو شدیده کمېدل په ګوته شوی دی. تر ټولو زیات کموالی د تودولو تیلو (د مرکز ګرمیو لپاره د سونګ توکو) او ورپسې د موټرو نفتي موادو په بیو کې راغلی دی چې په ترتیب سره ۷.۸ سلنه او ۴.۴ سلنې ته رسیږي.

د ۲۰۱۳ کال په پرتله په ۲۰۱۴ کال کې د توکو ټولیزه بیې ۰.۲ سلنه زیاتې شوې، چې د خدماتو د بیو د ۱.۶ سلنې زیاتوالي په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

**بریتانیا:** د ۲۰۱۴ کال په پای کې د دې هېواد د مصرفي توکو د بیې شاخص ۵ سلنې ته رسیده. د کال په پای کې د بریتانیا د مصرفي توکو د بیې د شاخص اصلي لاملونه رستورانتونه، هوټلونه، زده کړه، الکول او تمباکو ګڼل کیږي.

تر ټولو زیاته ونډه رستورانتونو او هوټلونو ثبت کړې چې ۲۸ سلنه زیاتوالي یې درلود.

بریتانیا د انفلاسیون تر ټولو لوړ نرخ د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ او جون په میاشتو کې درلوده، حال دا چې تر ټولو ټیټ نرخ

یې د ډیسمبر په میاشت کې ثبت شوی دی.

**فرانسه:** د دې هېواد د مصرفي توکو د بیې شاخص ۰.۱ سلنه (کال په کال) زیات شوی دی. خدمات او تولیدي محصولات په ترتیب سره ۱.۶ سلنه او ۰.۲ سلنه زیات شوي دي، حال دا چې د خوراکي توکو او د انرژۍ بیې په ترتیب سره ۰.۴ سلنه او ۴.۴ سلنه راښکته شوي دي. همدا ډول د دې هېواد اصلي انفلاسیون په منفي محدوده کې پاتې شوی چې منفي ۰.۱ سلنه (کال په کال) ثبت شوی دی.

**جاپان:** په ۲۰۱۴ کال کې د جاپان انفلاسیون ۲.۷ سلنې ته رسېږي چې د ۲۰۱۳ کال د ۰.۴ سلنې په پرتله لوړ شوی دی. د انرژۍ، تازه خوراکي توکو، با دوامه توکو او د خدماتو بیې د عمومي انفلاسیون د زیاتیدو اصلي لاملونه دي.

**ایټالیا:** د خبر رسوني ملي اداره (NIC) له لوري د ۲۰۱۴ کال لپاره د انفلاسیون کلنی اوسط نرخ ۰.۲ سلنه سنجول شوی، چې د تېر کال د ۱.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

**چین:** په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د مصرفي توکو د بیې شاخص ۲.۰ سلنه زیات شوی دی. د دې هېواد په ښاري سیمو کې عمومي بیې ۲.۱ سلنه او په کلیوالي سیمو کې ۱.۸ سلنه لوړې شوي دي.

**روسیه:** د ۲۰۱۴ کال په پای کې د روسیې د انفلاسیون کلنی نرخ ۱۱.۴ سلنې ته رسېده چې د کال په اوږدو کې د میاشتو پر اساس د انفلاسیون تر ټولو لوړ نرخ دی. د بیې د زیاتېدو عمده لاملونه د متحدو ایالاتو او د اروپايي ټولنې لخوا په دې هېواد لګول شوي بندیزونه او د دې ترڅنګ د رُبل د ارزښت ټیټېدل په ګوته شوي دي.

**هند:** د ۲۰۱۴ کال په پای کې د مصرفي توکو د بیې ترکیبي شاخص (کلیوالي او ښاري) ۵ سلنې ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله د پام وړ کموالی څرګندوي. د زیاترو توکو بیې د تېر کال په پرتله ښکته شوي دي.

په ۲۰۱۴ کال کې نهايي کورني استهلاکي لګښتونه ۱.۳ سلنه او حکومتي نهائي استهلاکي لګښتونه ۴.۶ سلنه په ثابته بیو سره زیات شوي دي.

## نړیواله سوداګري

نړیواله سوداګرۍ په ۲۰۱۴ کال کې کمزوره وده درلوده چې په اټکلیزه توګه ۳.۴ سلنې ته ورسید.

د پرمختللو هېوادونو د صادراتو کچه ۳.۵ سلنه وده کړې او تمه کیږي چې د دې هېوادونو صادرات به په راتلونکي کال کې لا ښه شي. د امریکې صادراتو په ۲۰۱۴ کال کې پیاوړې وده درلوده خو تمه کیږي چې په راتلونکي کال کې د ډالرو د زیاتېدو له کبله راښکته شي. د لویدیځ اروپايي هېوادونو لخوا د ثبات راوستلو لپاره اوچت شوي ګامونه به صادراتو ته وده ورکړي او د یورو د ارزښت په راټیټولو کې به اغېزناکه رول ولري خو په دې هېوادونو کې واردات محدود کړي، په داسې حال کې چې د جاپان د ین ارزښت کموالی به د دې هېواد د صادراتو پر ودې باندې مثبتې اغېزې پرېږدي.

د ګډو ګټو هېوادونو صادرات په ۲۰۱۴ کال کې د سیمه ییز جیوپولیتیک تشنج له کبله په شدیده توګه زیانمنه شوي او تمه کیږي چې شاوخوا صفر (۰) کې پاتې شي. د وارداتو نرخ هم په اټکلیزه ډول ۳.۴ سلنې ته په ۲۰۱۴ کال کې راټیټ شوی دی.

د ودې په حال کې هېوادونو د صادراتو وده ۳.۹ سلنه اټکل شوې ده، حال دا چې د واردات د صادراتو په پرتله ۰.۰۱ سلنه درجه ټیټوالی په ګوته کوي.

**د امریکې متحده ایالات:** په ۲۰۱۴ کال کې د توکو او خدمتونو د صادراتو ارزښت ۲۳۴۵.۴۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده، حال دا چې د وارداتو ارزښت ۲۸۵۰.۴۷ میلیارده امریکایي ډالره ؤ چې د ۵۰۵.۰۵ میلیارده امریکایي ډالرو کسر ښکاره کوي. د امریکې د متحدو ایالتونو سوداګریز کسر په ۲۰۱۴ کال کې ۶ سلنه ثبت شوی دی چې د تېر کال په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د متحدو ایالتونو د سوداګرۍ کسر د کورني ناخالصه تولیداتو ۲.۹ سلنه جوړوي چې د تېر کال د ۲.۸ سلنې څخه لوړوالی ښکاره کوي.

**جرمني:** په ۲۰۱۴ کال کې جرمني د سوداګرۍ په برخه کې ۲۱۸.۹ میلیارده یورو ډېریدنه (مازاد) تجربه کړې چې ټولیزه صادرات یې ۱۱۳۳.۵ میلیارده یورو او ټولیزه واردات یې ۹۱۶.۶ میلیارده یورو ته رسیږي.

فرانسه د جرمني ډېر مهم سوداګریز شریک دی چې د ارزونې لاندې موده کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په ټولیزه توګه د ۱۶۹.۴ میلیارده یورو په ارزښت سوداګریزې معاملې ترسره شوي دي. هالنډ د دې هېواد دویم ستر سوداګریز شریک او ورپسې چین درېم سوداګریز شریک دی چې ټولیزه سوداګریزې معاملې یې په ترتیب سره ۱۶۱.۳ میلیارده یورو او ۱۵۴.۰ میلیارده یورو ته رسیږي.

**بریتانیا:** په ۲۰۱۴ کال کې د بریتانیې د سوداګرۍ کسر ۳۴.۸ میلیارده پاونډ ته لوړ شو چې د تېر کال په پرتله ۳.۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د ۲۰۱۰ کال راهیسې تر ټولو لوی کسر ګڼل کیږي. په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد دواړه صادرات او واردات راکم شوي؛ که څه هم صادراتو د وارداتو په پرتله د پام وړ ټیټوالی موندلی دی. صادرات ۱۴.۶ میلیارده پاونډ حال دا چې واردات ۷.۳ میلیارده پاونډ راښکته شوي دي.

**فرانسه:** په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد سوداګریزو توکو صادراتو او وارداتو د تېر کال په پرتله کموالی موندلی دی. د سوداګریزو توکو ټولیزه صادراتو ارزښت ۵۶۶.۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده حال دا چې د سوداګریزو توکو د وارداتو ۶۵۹.۹ میلیارده امریکایي ډالره و چې د ۹۳.۲ میلیارده امریکایي ډالرو کسر ښکاره کوي. دا سوداګریز کسر د تېر کال په پرتله ۸.۶ میلیارده امریکایي ډالره ټیټ شوی دی. الوتکې، درمل او موټرې د دې هېواد د مهمو صادراتي توکو په ډله کې راځي حال دا چې نفتي مواد د وارداتي توکو په سر کې ځای لري.

**ایټالیا:** د ایټالیې د احصائیې د ملي ادارې (Istat) لخوا د خپور شوي راپور له مخې، د ۲۰۱۴ کال د څلورمې ربعې پرمهال د ایټالیې د ټولیزه صادراتو ارزښت ۱۱۴،۰۹۴ میلیونه یورو ته رسېده چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۳.۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د ټولیزه وارداتو ارزښت یې ۱۰۰،۸۲۹ میلیونه یورو و چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۲.۰ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

**چین:** په ۲۰۱۴ کال کې د چین بهرني سوداګرۍ ۳.۴ سلنه (کال په کال) وده موندلې چې د تېر کال ۷.۶ سلنه ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې چین د ۳۸۲.۴۶ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت سوداګریزه ډېریدنه ثبت کړې ده چې د تېر کال په پرتله ۴۷.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې هېواد د ټولیزه صادراتو کچه ۴.۳ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د ټولیزه وارداتو کچه یې ۱.۹۶ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د تېر کال د شمېرو په پرتله صادرات ۶.۱ سلنه او

تولیزه واردات ۰.۴ سلنه زیات شوي دي چې په پایله کې د دې هېواد د ۴۷.۷ سلنې سوداګریزې ډېریدنې لامل شوی دی.په ۲۰۱۴ کال کې له اروپایي ټولنې سره د چین د سوداګرۍ کچه چې د دې هېواد تر ټولو لوی سوداګریز شریک ګڼل کیږي، ۸.۹ سلنه زیات شوی دی، حال دا چې د سوداګرۍ بهیر له متحدو ایالتونو او د آسیا د سهیل ختیځ هېوادونو ټولنې ASEAN سره په ترتیب سره ۵.۴ سلنه او ۲.۹۵ سلنه زیات شوی دی. که څه هم له جاپان سره د دغه هېواد سوداګرۍ بیا ۱ سلنه راټیټه شوې ده.

**روسیه:** په ۲۰۱۴ کال کې د روسیې د ټولیزه صادراتو ارزښت ۴۹۷.۷۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده حال دا چې د ټولیزه وارداتو ارزښت یې ۳۰۸.۰۳ میلیارده امریکایي ډالره ؤ، چې ۱۸۹.۱ میلیارده امریکایي ډالره ډېربېنت ښکاره کوي. د روسیې سوداګریزه ډېرېدنه د تېر کال په پرتله ۴.۳ سلنه وده موندلې ده.

**هند:** د دې هېواد ټولیزه صادرات (د ۲۰۱۴ کال له اپریل څخه تر ډیسمبر پورې) ۲۴۱،۱۵۳.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ۲۳۱،۸۲۹.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴.۰۲ سلنه وده ښکاره کوي، حال دا چې ټولیزه واردات د تېر کال د ورته دورې د ۳۳۸،۹۰۷.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله (د ۲۰۱۴ کال له اپریل تر دسمبر پورې) ۳۵۱،۲۰۵.۷ میلیونه امریکایي ته رسېده. په ۲۰۱۴ کال کې (له اپریل تر دسمبر پورې) د سوداګرۍ کسر ۱۱۰،۰۵۱.۹۵ میلیونه امریکایي ډالره اټکل شوی دی چې د تېر کال د ۲.۸ سلنې کسر په وړاندې لوړوالی ښکاره کوي.

**ترکیه:** په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د توکو او خدمتونو صادرات ۶.۸ سلنه زیات شوي دي حال دا چې د توکو او خدمتونو واردات بیا په ثابته بیو سره ۰.۲ سلنه لږ شوي دي. د دې هېواد د توکو او خدماتو صادرات ۶.۸ سلنه زیات شوي دي چې ارزښت یې په ثابتې بیې کې ۳۴.۱۱۱ میلیارده ترکي لیرې ته رسیږي او ۲۰.۷ سلنه زیات شوي دي چې ارزښت یې په اوسنیو بیو کې ۴۸۴.۹۸۳ میلیارده ترکي لیرې ته رسیږي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د توکو او خدمتونو صادرات ۰.۲ سلنه کم شوي دي چې ارزښت یې په ثابتو بیو کې ۳۵.۵۸۲ میلیارده ترکي لیرې ته رسیږي او ۱۱.۵ سلنه زیات شوي دي چې ارزښت یې په اوسنیو بیو کې ۵۶۲.۲۷۱ میلیارده ترکي لیرې ته رسیږي.

## په نړیوال اقتصاد کې د سفر او ګرځندوی سکتور ونډه

د سفر او ګرځندوی سکتور د سوداګرۍ، راکړې او ورکړې، د دندو رامنځ ته کولو او د تاریخي او کلتوري آثارو د خوندي ساتلو سره سره له کورني ناخالصه تولیداتو سره هم مرسته کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د سفر او ګرځندوی د نړیوالې شورا (WTTC) لخوا د خپور شوي راپور له مخې، دې سکتور ۷.۶ تریلیونه امریکایي ډالره عاید درلوده چې د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو ۱۰ سلنه جوړوي او ۲۷۷ میلیونه دندې یې د نړۍ په اقتصاد کې رامنځ ته کړې دي. سره له دې چې دغه سکتور له یو لړ ننګونو لکه د اسعاري بیو د راټیټېدو او د امریکایي ډالرو په وړاندې د اسعارو له نوساناتو سره مخ شوی و خو بیا هم د تېر کال په پرتله ۷.۱۴ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د نړۍ له اقتصاد سره د دغه سکتور د مستقیمې مرستې ارزښت ۲۳۶۴.۸ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د

نړیوال اقتصاد ۳.۱ سلنه جوړوي او کچه يې د تېر کال د ۲۱۵۵.۴ میلیارده امریکايي ډالرو په پرتله لوړه شوې ده. خو د ۴.۳ سلنه وړاندې ويل شوي کچې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. تمه کېږي چې دا سکتور به په راتلونکي کې له نړیوال اقتصاد سره ۲۴۵۱.۱ میلیارده امریکايي ډالرو مرسته وکړي.

په ۲۰۱۴ کال کې د سفر او ګرځندوی سکتور په مستقیمه توګه ۱۰۵ میلیونه دندې رامنځ ته کړې چې په ټولیزه توګه د نړۍ ۳.۶ سلنه دندې جوړوي. د تېر کال په پرتله د دې سکتور دندې ۴.۵ سلنه زیات شوي دي چې په ټولیزه توګه ۴.۵ میلیونه دندې جوړوي چې له ۲.۲ سلنې مخکینې اټکل څخه زیاتوالی ښکاره کوي. په نړیواله بوختیا کې د دې سکتور ټولیزه ونډه ۹.۴ سلنه ده چې د تېر کال په پرتله ۰.۰۵ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د سیلانیانو صادراتو ۶.۸ سلنه وده کړې چې ارزښت يې ۱۳۸۳ میلیارده امریکايي ډالرو ته رسېږي او د ټولیزه صادراتو ۵.۷ سلنه جوړوي.

په نړیواله پانګه اچونه کې د دې سکتور د پانګونې ونډه ۴.۳ سلنه ده چې ارزښت يې ۸۱۴.۴ میلیارده امریکايي ډالرو ته رسېږي.

**۱.۱ جدول: د سفر او ګرځندوی اقتصادي ونډه: اسمي(نومیزه) بیې**

| نړۍ (میلیارد امریکايي ډالر، اسمي بیې) | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 اټکلیزه | 2024 نهایي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. د سیاحت کوونکو صادرات | 1.088 | 971 | 1.061 | 1.200 | 1.237 | 1.296 | 1.356 | 2.617 |
| ۲. کورني لګښتونه (د حکومتي انفرادي لګښتونو په ګډون) | 2.785 | 2.550 | 2.733 | 3.072 | 3.147 | 3.221 | 3.360 | 6.822 |
| ۳. د سیاحت داخلي مصرف (= ۲+۱) | 3.874 | 3.521 | 3.794 | 4.272 | 4.384 | 4.517 | 4.716 | 9.438 |
| ۴. د سیاحتي خدمتونو د برابرونکو لخوا پېرنې، د وارداتي توکو په ګډون (د عرضې زنځیر) | -2.019 | -1.805 | -1.959 | -2.227 | -2.288 | -2.361 | -2.469 | -2.019 |
| ۵. د کورني ناخالصه تولیداتو کې د سفر او سیاحت مستقیمه ونډه (= ۴+۳) | 1.855 | 1.716 | 1.834 | 2.045 | 2.096 | 2.156 | 2.247 | 4.448 |
| ۶. نور وروستي اغېزې (غیر مستقیمه او وضع شوې د کورني عرضې زنځیر | 1.739 | 1.584 | 1.712 | 1.951 | 2.007 | 2.070 | 2.165 | 4.413 |
| ۷. د پانګې پانګونه | 733 | 637 | 640 | 713 | 735 | 755 | 800 | 1.775 |
| ۸. د حکومت مجموعي لګښت | 350 | 357 | 379 | 410 | 415 | 415 | 423 | 753 |
| ۹. له غیر مستقیمه لګښت څخه وارد شوي توکي | 271 | 233 | 273 | 297 | 313 | 329 | 344 | 600 |
| ۱۰. وضع شوې | 1.091 | 1.044 | 1.088 | 1.204 | 1.235 | 1.266 | 1.312 | 2.588 |
| ۱۱. له کورني ناخالصه تولیداتو کې د سفر او سیاحت ونډه (= ۶ + ۸ + ۷ + ۸ + ۹ + ۱۰) | 6.038 | 5.571 | 5.926 | 6.620 | 6.801 | 6.991 | 7.291 | 14.576 |
| د دندې اغېزې (۰۰۰) ۱۲. له دندو سره د سفر او سیاحت مستقیمه مرسته | 99.207 | 96.198 | 96.548 | 98.096 | 99.502 | 100.894 | 103.069 | 126.257 |
| ۱۳. له دندو سره د سفر او سیاحت ټولیزه مرسته | 262.457 | 254.666 | 251.604 | 256.757 | 261.152 | 265.855 | 272.417 | 346.901 |
| نوري شاخصې ۱۴. له ساحې وتلي سفر لګښتونه | 991 | 886 | 966 | 1.080 | 1.121 | 1.171 | 1.224 | 2.338 |

سرچینه: د سفر او ګرځندوی نړیواله شورا، د ۲۰۱۵ کال د سفر او ګرځندوی اقتصادي اغېزه

## مالي تګلاره (پاليسي)

په ۲۰۱۴ کال کې سترو پرمختللو هېوادونو پر مالي ټينګښت باندې د عوايدو او لګښتونو له پلوه تمرکز درلوده چې په پايله کې د دې هېوادونو د بودجې منځنۍ اندازه راټيټه شوې چې د دوی پر اقتصادونو باندې لږه انقباضي اغېزه کوي.

د څو کلونو مالي سختګيريو د متحدو ايالتونو د بودجې کسر ۶۴۹ مېلیارده امريکايي ډالرو ته راټيټ کړی دی چې د تېر کال د ۳۱ مېلیارده امريکايي ډالرو په پرتله کموالی ښکاره کوي. په اروپايي ټولنه کې مالي ټينګښت (استحکام) د اقتصاد د نزولي بهير، د مالياتي عوايدو د خسارې او د بانکي نظام سره د مالي مرستې له کبله ډېر سوکه روان دی.

د هڅوونکي ګامونو په پورته کولو او په ۲۰۱۴ کال کې د لوړې مصرفي ماليې له تصويبولو وروسته د دې هېواد مالياتي کسر راکم شوی دی.

د راغوړېدونکي او انتقالي اقتصادونو عامه پوراينې او بودجوي کسر په ټوليزه توګه له پرمختللو اقتصادونو څخه ټيټې دي او له بلې خوا د دې اقتصادونو مالي پرمختګونه په ۲۰۱۴ کال کې متغيره بهير درلودلی دی.

## پولي سياست

د نړۍ بېلابېلو هېوادونو د واکمن وضعيت په پام کې نیولو سره بېلابېل پولي سياستونه اتخاذ کړي دي. د اقتصادي وضعيت د ورو رغېدنې له امله د سترو پرمختللو هېوادونو مرکزي بانکونو په ۲۰۱۴ کال کې د مقداري آسانتياوو بهير ته دوام ورکړی. د امريکې فدرال بانک تصميم ونيو که چېرې د انفلاسيون نرخ له ۰.۲ سلنې څخه ټيټ پاتې شي نو د فدرال د ټکټاني نرخ به د ۰.۰۰ او ۰.۲۵ سلنې په محدوده کې وساتي.

د پولي سياست د ابزارونو د معلوماتو ( Forward Guidance) پر بنسټ چې د اروپا د مرکزي بانک لخوا د جولای په مياشت کې خپور شوي دي، دې بانک تصميم نيولی چې د ټکټاني نرخ د اوږد مهال لپاره په ټاکلي حد يا له هغه ټيټ وساتي. د ۲۰۱۴ کال په سپتمبر مياشت کې د اروپا مرکزي بانک( ECB ) پر ځينو آسانتياوو لکه د اماناتو آسانتيا او د شپې د سياليت آسانتيا د ټکټاني نرخ په ثابت ډول ساتلی دی.

د بريتانيې مرکزي بانک د اکتوبر مياشتې په غونډه کې ويلي دي چې د ټکټاني نرخ به په ثابته توګه په ۵ سلنه کې وساتي او همدا ډول زياته کړې يې چې دا نرخ به تر هغه وخته پورې ثابته پاتې شي چې د دې هېواد د بېکارۍ نرخ له ۷ سلنې څخه راټيټ شوی نه وي. سره له دې چې د دې هېواد د بېکارۍ نرخ له ټاکل شوي حد څخه راښکته شوی خو د ټکټاني نرخ لا هم ثابته پاتې دی.

د جاپان بانک د ۲۰۰۹ کال راهيسې د آسانتيا کمي او کيفي پاليسۍ پلان ته دوام ورکړی او د ټکټاني نرخ يې له ۰.۱۰ سلنې څخه ښکته ساتلی دی.

د پرمختګ په حال اقتصادونو مرکزي بانکونو د پرمختللو هېوادونو بېلابېلې تګلارې (پاليسی) اتخاذ کړي دي.

د پانګې د تيښتې او د اسعارو د بيو د ټيټېدو د کنټرول په موخه د برازيل، هند او سويلی افريقا مرکزي بانکونو د خپل ټکټاني نرخونه زيات کړي دي. د برازيل مرکزي بانک په ۲۰۱۴ کال کې د خپل ټکټاني نرخ درې برابره لوړ کړی دی، په داسې حال کې چې د روسيې مرکزي بانک د خپل ټکټاني مهم نرخونه شپږ برابره زيات کړي دي څو د انفلاسيون او د روبل ټيټوالی کنټرول کړي. همدا ډول د اندونيزيا مرکزي بانک بيا د خپل ټکټاني نرخ ثابته ساتلی دی.

اخځلیکونه:


www.bls.gov

www.bea.gov

www.census.gov

www.destatis.de

www.ons.gov.uk

www.insee.fr

www.soumu.go.jp

www.cao.go.jp

www.stat.go.jp

www.istat.it

www.stats.gov.cn

Www. english.gov.cn

www.turkstat.gov.tr/

www.gks.ru

www.reuters.com

www.bloomberg.com

UN Comtrade and UN Service Trade

www.mospi.nic.in

World economic situation and prospects / UN, New York, 2015

Travel & Tourism, Economic Impact 2015, World

www.data.un.org

# ۲

# د پانګې او پولي بازار پرمختګونه

**د بانکي او پولي بازار پرمختګونه**

د بانکي او پولي بازار پرمختګونه؛ پولي پروګرام، د نقدینګۍ حجم، د اسعارو د مبادلې نرخونه، خالصه نړیوالې زیرمې او د دې ترڅنګ د آزاده بازار عملیات تر ارزونې لاندې نیسي. په ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۳ د ډیسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ د ډیسمبر تر ۲۰ پورې) کې پولي زیرمې د افغانستان بانک د عملیاتي هدف په توګه ۱۳ سلنه وده کړې ده چې ارزښت یې د ارزونې لاندې کال په پای کې ۲۲۴،۸۸۵.۸۱ میلیونه افغانۍ ته رسېده. د حقیقي پولي زیرمو وده د کال د پای له ۱۲.۷ سلنه ټاکلي هدف څخه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه د ارزونې لاندې کال کې ۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ارزښت یې ۱۹۷،۰۲۲.۹۵ میلیونه افغانۍ ته رسېږي. له بلې خوا د افغانستان بانک؛ د خالصه نړیواله زیرمو هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۳۸۴،۱۵۲ میلیونه افغانۍ وې چې ۹.۵۴ سلنه کلنۍ وده یې (کال په کال) ثبت کړې ده. د پراخه مهفوم په توګه پیسې هم ورته بهیر درلودلی چې ۸.۳۴ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي او کچه یې د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۰۱،۵۸۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د افغانستان بانک د پولي زیرمو د ودې د کنټرول لپاره د آزاده بازار تر عملیاتو لاندې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو د پلور له پولي ابزارو څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۳ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۳،۳۴۱.۴۳ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو په بازار کې سیالیت د مدیریت موضوع ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او ناوړه نوسانات راکم کړي.

د پانګه ایزه پاڼو ناترلاسه شوی مبلغ ۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي حال دا چې د ارزونې لاندې موده کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱.۷۹ سلنه راټیټ شوی دی.

### ۱. پولي پروګرام

د پولي سیاست د کاري اډانې له مخې، پولي زیرمې د ارزونې لاندې کال کې د یو مهم عملیاتي هدف او د کړنو د معیار په توګه عمل کړی، حال دا چې په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه د افغانستان بانک د لومړنی موخې یعني د کورنیو بیو د ثبات لپاره طرحه شوی دی. د پولي زیرمو کره مبلغ چې د کورنیو بیو د ثبات او د افغانستان بانک د عمده هدف په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې کلني هدفونه هر یو له ۸ سلنې څخه ۱۲.۷ سلنې او بیا ۱۲.۳ سلنې ته تجدید شوي دي. حقیقي پولي زیرمو ۱۳ سلنه وده کړې چې د کال د پای له هدف څخه لوړ دی.

د ۱۳۹۳ مالي کال په پیل کې دواړو پولي زیرمو او په ګردښت کې پیسو ټیټېدونکی بهیر تجربه کړی دی چې عمده لامل یې د ولسي جرګې لخوا د ملي بودجې په تصویب کې د پام وړ ځنډ بلل شوی دی، خو سره له دې دواړو برخو د کورنیو عوایدو د کچې د کمېدو له امله چټکه وده کړې ده. کورني عواید د ارزونې لاندې موده کې له ټاکلي هدف څخه لاندې پاتې شوي دي، چې اصلي لاملونه یې کمزوره اقتصادي کړنې، د نا امنۍ زیاتیدل، د ولسمشریزو ټولټاکنو اوږده پروسه، له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو وتل او د حکومت زیات لګښتونه ګڼل کیږي.

۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ مالی کال لپاره پولې زیرمې (۲۰۱۳ دسمبر څخه ۲۰۱٤ دسمبر پورې)




۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۳ مالی کال لپاره په ګردښت کې پیسې (۲۰۱۳ دسمبر څخه ۲۰۱٤ دسمبر پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲. د نقدینګی حجم

د پولي سیاست د لوی آمریت پولي څانګه د نقدینګی حجم [د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) او د پراخه مهفوم په توګه پیسې (M2)] د پولي او مالي احصائیې (MFS) د میتودولوژۍ او تعریف له لارې محاسبه کوي. د محدوده مفهوم په توګه پیسې ټول بانکنوټونه، سکې او جاري امانتونه او د سوداګریزو بانکونو نورې نقدي شتمنۍ چې د افغانستان بانک سره ساتل کیږي، رانغاړي. په داسې حال کې چې د پراخه مفهوم په توګه پیسو په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نورې لږې نقدي (سیال) شتمنۍ شاملې دي. په ۱۳۹۳ مالي کال کې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) (کال په کال ۹.۵۴ سلنه وده کړې ده.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کچه ۴۰۱،۵۸۳ میلیونه افغانۍ ته لوړه شوې چې د ودې په ټولیزه نرخ کې ۸.۳۴ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي، چې د تېر کال د ورته مودې له ۹.۴ سلنه ثبت شوې کچې څخه ټیټ دی. د پراخه مفهوم په توګه پیسې(M2) د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) اصلي مرسته کوونکې برخه جوړوي.

پیسه وزمه (Quasi Money) یا موده ایز (میعادي) امانتونه چې د (M1) بله برخه جوړوي، د ۱۳۹۲ مالي کال په پرتله د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې منفي ۱۲.۷۹ سلنه وده کړې ده. په ورته وخت کې پیسه وزمه یوازې د پراخه مفهوم په توګه پیسو ۴ سلنه جوړوي. له همدې کبله په (M1) کې بدلونونه پر (M2) باندې د پام وړ اغېزه نه کوي. په افغانی موده ایز امانتونو تویر کال په کال ۲،۶۵۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي حال دا چې پر اسعارو د موده ایزه امانتونو ارزښت ۹۶ میلیونه افغانۍ ثبت شوې دی.

په ورته وخت کې د جاري امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه پیسو د ارزونې لاندې کال کې ۴۸.۷۳ سلنې ته رسیږي، چې د تېر کال ۵۰.۹۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول پیسه وزمه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو یوه برخه جوړوي، د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴.۳۴ سلنې ته راټیټه شوې ده چې د تېر کال د ورته مودې د ۵.۳۹ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په افغانی موده ایزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ۱.۳۰ سلنه جوړوي. حال دا چې په اسعارو امانتونه د محدوده مفهوم په توګه د پیسو(M2) ۳.۰۴ سلنه جوړوي.

۳.۲ ګراف: د M2 د وډې په توګه پیسه وزمه (٪)




۴.۲ ګراف: جاري امانات د پراخه مفهوم په توګه د پیسو د وډې پر اساس




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱.۲ جدول: د نقدینګی حجم، د ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۳ کال د ډيسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ کال د ډيسمبر تر ۲۰ پورې)
ارقام په میلیون افغانی، خو دا چې په بل ډول ښودل شوی وي

| | 1391 | 1392 | کال په کال | توپیروالی | 1393 | کال په کال | توپیروالی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | | | مبلغ | | |
| **۱- خالصه بهرنی شتمنی** | 425,376 | 483,924 | 13.8% | 58,548 | 487,005 | 0.64% | 3,081 |
| (الف) بهرنی شتمنی | 455,731 | 513,630 | 12.7% | 57,899 | 514,730 | 0.21% | 1,100 |
| د افغانستان بانک اسعاري زيرمې | 372,713 | 421,774 | 13.2% | 49,061 | 427,621 | 1.39% | 5,847 |
| سره زر | 60,424 | 60,424 | 0.0% | 0.000 | 47,509 | -21.37% | 0.000 |
| نور | 312,289 | 361,350 | 15.7% | 49,061 | 380,112 | 5.19% | 18,762 |
| نورې بهرنی شتمنی | 83,018 | 91,856 | 10.6% | 8,838 | 87,109 | -5.17% | -4,747 |
| (ب) بهرني پوراینې | 30,354 | 29,706 | -2.1% | -649 | 27,725 | -6.67% | -1,981 |
| **۲- خالصه کورنی شتمنی** | -86,537 | -113,241 | 30.9% | -26,704 | -85,422 | -24.57% | 27,819 |
| الف- خالص کورنی کریډټ | -44,492 | -45,657 | 2.6% | -1,165 | -28,650 | -37.25% | 17,008 |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | -86,566 | -91,121 | 5.3% | -4,555 | -71,193 | -21.87% | 19,928 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | -86,267 | -90,911 | 5.4% | -4,645 | -71,077 | -21.82% | 19,834 |
| مرکزي حکومت لپاره کریډټ | 32,831 | 33,727 | 2.7% | 896 | 32,922 | -2.39% | -805 |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | 119,097 | 124,638 | 4.7% | 5,540 | 103,999 | -16.56% | -20,639 |
| د دولت او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | -299 | -210 | -29.8% | 89 | -116 | -44.61% | 94 |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | 43,024 | 46,814 | 8.8% | 3,789 | 43,943.42 | -6.13% | -2,870 |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | -950 | -1,349 | 42.0% | -399 | -1,399.69 | 3.73% | -50 |
| (ب) د پانګې حسابونه | 83,686 | 110,484 | 32.0% | 26,797 | 100,220 | -9.29% | -10,263 |
| (ت) نور خالص اقلام | 41,641 | 42,900 | 3.0% | 1,259 | 43,448 | 1.28% | 548 |
| **۳- د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)** | 338,840 | 370,684 | 9.4% | 31,844 | 401,583 | 8.34% | 30,899 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) | 319,164 | 350,696 | 9.9% | 31,532 | 384,152 | 9.54% | 33,456 |
| په ګردښت کې پیسې (CiC) (هغه پیسې چې د امانات اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 142,761 | 161,944 | 13.4% | 19,183 | 188,451 | 16.37% | 26,507 |
| جاري امانتونه | 176,403 | 188,751 | 7.0% | 12,348 | 195,701 | 3.68% | 6,950 |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | 19,675 | 19,988 | 1.6% | 312 | 17,431 | -12.79% | -2,557 |
| په افغانۍ امانتونه | 7,079 | 7,867 | 11.1% | 788 | 5,214 | -33.72% | -2,653 |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | 12,597 | 12,121 | -3.8% | -476 | 12,217 | 0.79% | 96 |
| له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غیر دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پاڼې (Securities) | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |

## ۱.۲ خالصه نړیواله زیرمې

د افغانستان بانک نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او پیاوړي بهرني اسعاري زیرمې لکه امریکایي ډالر، یورو او انګلیسي پاونډ شامل دي.

د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د خالصه نړیواله زیرمو ټولیزه کچه ۲۵۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې وه، حال دا چې ټولیزه حقیقي وده یې له ټاکلي هدف یعنې ۱۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۳۹۴ میلیونه امریکایي ډالره لوړه شوې ده.

د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې حقیقي خالصه نړیواله زیرمې ۷،۰۷۵.۴۱ میلیونه امریکایي ډالره وې.

د خالصه نړیواله زیرمو د زیاتېدو ستر لاملونه د بهرنیو اسعارو بهیدنې (جریانونه) په ځانګړي توګه د بسپنه ورکوونکو هېوادونو مرسته او په زیرمو کې د پانګه اچونې ټولیزه ونډه ګڼل کیږي.

۵.۲ ګراف: حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره هدف
(د ۲۰۱۳ ډیسمبر څخه د ۲۰۱۴ دسمبر پورې)




سرچینه: د پولي سیاست د لوی آمریت پولي سروې

## ۳. د اسعارو د مبادلې بازار

### ۱.۳ د اسعارو نرخونه

د افغانستان بانک لومړنی موخه د بیو ثابت ساتل دي. د افغانستان بانک د دې لپاره چې دا هدف ترلاسه او وساتي د پالیسۍ د سالمه تطبیق ترڅنګ له خپل پولي ابزارونو څخه په ګټوره توګه کار اخلي.

د افغانستان بانک د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اسمي نرخ تر هدف لاندې نه نیسي. که څه هم اړینه ده چې د مبادلې په نرخ کې هغه نوسانات وڅارل شي چې اقتصادي شاخصونه اغیزمن کوي. دا کار د افغانستان بانک اړ باسي چې د مبادلې د مدیریت شوي نرخ د رژیم پر بنسټ په بازار کې لاسوهنه وکړي.

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې د اوسط نرخ ورځنۍ شرحه په لاندني ګراف کې ښودل شوې ده. افغانۍ د یو شمېر سترو اسعارو په وړاندې کمزوره شوې ده چې ستر لاملونه یې سوداګریز کسر، له هېواده د بهرنیو ځواکونو وتل او په هېواد کې د اقتصادي او سیاسي ناډاډمنتیا له کبله اندیښنې په ګوته شوې دي. د افغانۍ ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې ۱.۷۹ سلنه راټیټ شوی چې د ارزونې لاندې کال په پای کې یو ډالر په ۵۸.۰۷ افغانۍ مبادله کېده.

همدا شان د افغانۍ ارزښت د هندي او پاکستانۍ روپۍ په

وړاندې په ترتیب سره ۰.۷۷ سلنه او ۶.۶۸ سلنه راکم شوی دی. د دې ترڅنګ د افغانۍ ارزښت د یورو، بریتانیایي پاونډ او ایراني ریال په وړاندې په ترتیب سره ۹.۰۷، ۲.۴۶ او ۱۴.۲۹ سلنه لوړ شوی دی.

۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ۱۳۹۳ مالي کال (۲۰۱۳ ډیسمبر څخه ۲۰۱۴ ډیسمبر پورې)




۷.۲ ګراف: د پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ۱۳۹۳ مالي کال (۲۰۱۳ ډیسمبر څخه ۲۰۱۴ ډیسمبر پورې)




۸.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستانی روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ۱۳۹۳ مالي کال (۲۰۱۳ ډیسمبر څخه ۲۰۱۴ ډیسمبر پورې)




۹.۲ ګراف: د ایراني ریا ل په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ۱۳۹۳ مالي کال (۲۰۱۳ دسمبر څخه ۲۰۱۴ دسمبر پورې)




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت، د سروې برخه

### ۲.۳ د اسعارو لیلام

د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک په اوونۍ کې دوه ځلې د اسعارو لیلام او په اوونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي. د اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو لیلام د افغانستان بانک عمده پولي ابزارونه جوړوي. د افغانستان بانک د بهرني اسعارو د لیلام اندازه زیاته کړې ده څو له بازار څخه اضافه نقدینګي لرې کړي او د بهرني اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو نوساناتو مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ارزوني لاندې کال کې په ټولیزه توګه ۳.۳۴۱ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۴.۶۹۸ میلیارده امریکایي ډالره وه. په اوسط ډول په هر لیلام کې ۳۷ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۳۲ داوطلبان کټونکي اعلان شوي دي چې په هر داوطلب باندې په اوسط ډول ۳۴.۸۱ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي. په ۱۳۹۲ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۳.۴۸۲ میلیارده امریکایي ډالره لیلام شوي دي، حال دا چې په هغه موده کې ټولیزه

تقاضا ۴.۹۸۵ میلیارده امریکایي ډالره وه چې په اوسط ډول په هر لیلام کې ۳۸ داوطلبانو ګډون کړی ۀ چې له دې ډلې ۳۴ تنه ګټونکي اعلان شوي چې په اوسط ډول په هر یو باندې ۳۳،۸۱ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي.

## ۲.۲ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د بهرني اسعارو د لیلام لنډیز (په میلیون امریکائی ډالرو)

| د لیلام نېټه | د داوطلبانو شمیر | تر ټولو لوړه بیه | ترټولو ټیټه بیه | د بازار د مبادلې نرخ | کسر شوې بیه | اعلان شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | ټولیزه تقاضا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴- دسمبر-۲۰۱۳ | 48 | 56.72 | 56.00 | 56.75 | 56.64 | 50 | 50.25 | 75.1 |
| ۲۸- دسمبر-۲۰۱۳ | 45 | 56.26 | 55.80 | 56.27 | 56.12 | 50 | 49.93 | 65.78 |
| ۳۱- دسمبر-۲۰۱۳ | 43 | 55.99 | 55.30 | 56.01 | 55.92 | 40 | 39.8 | 69.35 |
| ۴- جنوری-۲۰۱۴ | 30 | 56.44 | 56.00 | 56.37 | 56.40 | 35 | 34.55 | 59.95 |
| ۷-جنوری-۲۰۱۴ | 45 | 56.20 | 55.80 | 56.17 | 56.18 | 30 | 19.65 | 50.75 |
| ۱۱-جنوری-۲۰۱۴ | 46 | 56.90 | 56.10 | 56.75 | 56.84 | 25 | 25.6 | 47.35 |
| ۱۴- جنوری-۲۰۱۴ | 39 | 56.94 | 56.01 | 56.95 | 56.84 | 25 | 24.65 | 32.2 |
| ۱۸- جنوری-۲۰۱۴ | 42 | 56.93 | 56.12 | 56.85 | 56.88 | 25 | 25.3 | 39.15 |
| ۲۱-جنوری-۲۰۱۴ | 40 | 56.73 | 56.01 | 56.71 | 56.65 | 25 | 19.65 | 35.8 |
| ۲۵- جنوری-۲۰۱۴ | 37 | 57.04 | 56.50 | 57.04 | 57.00 | 25 | 20.1 | 30.9 |
| ۲۸- جنوری-۲۰۱۴ | 40 | 57.22 | 56.12 | 57.20 | 57.18 | 30 | 29.85 | 40.2 |
| ۱- فبروری-۲۰۱۴ | 39 | 57.35 | 56.85 | 57.07 | 57.06 | 30 | 24 | 36.95 |
| ۴- فبروری-۲۰۱۴ | 31 | 56.86 | 56.55 | 56.81 | 56.80 | 25 | 9.25 | 27.5 |
| ۸- فبروری-۲۰۱۴ | 37 | 57.19 | 57.00 | 57.14 | 57.16 | 20 | 19.7 | 33.42 |
| ۱۱- فبروری-۲۰۱۴ | 36 | 57.14 | 56.80 | 57.14 | 57.13 | 20 | 20.5 | 28.45 |
| ۱۶- فبروری-۲۰۱۴ | 26 | 57.60 | 56.50 | 57.26 | 57.22 | 20 | 17.05 | 22.7 |
| ۱۸- فبروری-۲۰۱۴ | 27 | 57.23 | 57.02 | 57.21 | 57.20 | 20 | 19.65 | 25.5 |
| ۲۲- فبروری-۲۰۱۴ | 33 | 57.21 | 56.60 | 57.20 | 57.16 | 20 | 19.85 | 25.95 |
| ۲۵- فبروری-۲۰۱۴ | 38 | 57.36 | 57.10 | 57.32 | 57.32 | 20 | 24.1 | 30.95 |
| ۱- مارچ-۲۰۱۴ | 38 | 57.44 | 56.80 | 57.41 | 57.39 | 30 | 30 | 38.6 |
| ۴- مارچ-۲۰۱۴ | 36 | 57.69 | 57.46 | 57.65 | 57.64 | 30 | 35.2 | 44.65 |
| ۸- مارچ-۲۰۱۴ | 33 | 57.47 | 57.03 | 57.48 | 57.30 | 40 | 30.9 | 36.3 |
| ۱۲- مارچ-۲۰۱۴ | 30 | 57.36 | 56.85 | 57.44 | 57.16 | 35 | 30.25 | 32.25 |
| ۱۵- مارچ-۲۰۱۴ | 34 | 57.25 | 56.75 | 57.30 | 57.11 | 35 | 34.75 | 39.25 |
| ۱۸-مارچ-۲۰۱۴ | 41 | 57.18 | 56.80 | 57.20 | 57.12 | 35 | 34.7 | 50.95 |
| ۲۳- مارچ-۲۰۱۴ | 36 | 57.36 | 57.13 | 57.31 | 57.27 | 25 | 25.35 | 35.35 |
| ۲۵- مارچ-۲۰۱۴ | 35 | 57.25 | 57.00 | 57.26 | 57.23 | 25 | 24.5 | 37.95 |
| ۲۹- مارچ-۲۰۱۴ | 39 | 57.45 | 57.25 | 57.40 | 57.40 | 25 | 30.05 | 40.25 |
| ۱- اپریل-۲۰۱۴ | 39 | 57.59 | 57.00 | 57.61 | 57.53 | 35 | 34.45 | 49.5 |
| ۸- اپریل-۲۰۱۴ | 40 | 57.05 | 56.62 | 57.09 | 56.96 | 60 | 51.65 | 72.15 |
| ۱۲- اپریل-۲۰۱۴ | 39 | 57.21 | 57.00 | 57.15 | 57.16 | 30 | 33.05 | 49.65 |
| ۱۵- اپریل-۲۰۱۴ | 40 | 57.05 | 56.60 | 57.07 | 57.00 | 35 | 34.45 | 43.85 |
| ۱۹- اپریل-۲۰۱۴ | 37 | 57.11 | 56.90 | 57.11 | 57.05 | 30 | 32.65 | 39.1 |
| ۲۲- اپریل-۲۰۱۴ | 39 | 57.05 | 56.89 | 57.06 | 57.02 | 30 | 31.45 | 45.55 |
| ۲۶- اپریل-۲۰۱۴ | 39 | 57.14 | 56.95 | 57.12 | 57.12 | 30 | 31.2 | 46.6 |
| ۲۹- اپریل-۲۰۱۴ | 39 | 57.29 | 57.10 | 57.25 | 57.24 | 30 | 30.7 | 45 |
| ۳- می-۲۰۱۴ | 40 | 57.22 | 56.20 | 57.22 | 57.20 | 40 | 34.75 | 56.4 |
| ۶- می-۲۰۱۴ | 38 | 57.32 | 57.14 | 57.28 | 57.30 | 30 | 28.2 | 48.55 |
| ۱۰- می-۲۰۱۴ | 38 | 57.33 | 57.01 | 57.32 | 57.31 | 30 | 31.6 | 43.15 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳- می-۲۰۱۴ | 36 | 57.34 | 57.06 | 57.35 | 57.32 | 35 | 36.5 | 44.5 |
| ۱۷- می-۲۰۱۴ | 36 | 57.55 | 57.11 | 57.55 | 57.49 | 30 | 29.35 | 40.5 |
| ۲۰- می-۲۰۱۴ | 35 | 57.50 | 57.30 | 57.50 | 57.47 | 30 | 30 | 43.4 |
| ۲۴- می-۲۰۱۴ | 41 | 57.63 | 57.14 | 57.64 | 57.60 | 30 | 33.85 | 44.05 |
| ۲۷- می-۲۰۱۴ | 29 | 57.53 | 57.33 | 57.55 | 57.36 | 35 | 35.05 | 35.95 |
| ۳۱- می-۲۰۱۴ | 35 | 57.60 | 57.38 | 57.62 | 57.55 | 35 | 34.15 | 47.95 |
| ۳- جون-۲۰۱۴ | 39 | 57.71 | 57.13 | 57.71 | 57.68 | 35 | 34.4 | 54.05 |
| ۷- جون-۲۰۱۴ | 40 | 57.81 | 57.21 | 57.77 | 57.78 | 35 | 41.2 | 54.25 |
| ۱۰- جون-۲۰۱۴ | 39 | 57.92 | 57.68 | 57.92 | 57.90 | 40 | 41 | 61.3 |
| ۱۷- جون-۲۰۱۴ | 39 | 57.51 | 57.12 | 57.63 | 57.48 | 60 | 60.35 | 85.65 |
| ۲۱- جون-۲۰۱۴ | 41 | 58.00 | 57.12 | 57.97 | 57.96 | 35 | 35.35 | 55.55 |
| ۲۴- جون-۲۰۱۴ | 35 | 57.81 | 57.40 | 57.82 | 57.73 | 40 | 39.95 | 49.9 |
| ۲۸- جون-۲۰۱۴ | 37 | 57.99 | 57.78 | 57.97 | 57.93 | 40 | 40.9 | 55.05 |
| ۱- جولای-۲۰۱۴ | 35 | 57.96 | 57.80 | 57.97 | 57.90 | 40 | 39.9 | 50.9 |
| ۵- جولای-۲۰۱۴ | 38 | 57.91 | 57.66 | 57.90 | 57.87 | 40 | 40 | 54.15 |
| ۸- جولای-۲۰۱۴ | 32 | 57.72 | 57.50 | 57.70 | 57.62 | 40 | 40 | 46.05 |
| ۱۲- جولای-۲۰۱۴ | 33 | 57.76 | 57.60 | 57.80 | 57.72 | 35 | 34.35 | 43.55 |
| ۱۵- جولای-۲۰۱۴ | 32 | 56.96 | 56.61 | 56.96 | 56.81 | 35 | 35.2 | 41.55 |
| ۱۹- جولای-۲۰۱۴ | 32 | 56.64 | 56.25 | 56.64 | 56.52 | 30 | 36.35 | 38.25 |
| ۲۲- جولای-۲۰۱۴ | 33 | 56.68 | 56.41 | 56.71 | 56.61 | 30 | 39.45 | 48.55 |
| ۲۶- جولای-۲۰۱۴ | 33 | 56.31 | 55.90 | 56.34 | 56.25 | 35 | 39.4 | 52.3 |
| ۲- اگست-۲۰۱۴ | 29 | 56.49 | 56.28 | 56.51 | 56.42 | 35 | 35.25 | 41.8 |
| ۵- اگست-۲۰۱۴ | 33 | 56.60 | 56.29 | 56.54 | 56.46 | 35 | 35.35 | 46.6 |
| ۹- اگست-۲۰۱۴ | 36 | 56.30 | 55.80 | 56.30 | 56.26 | 35 | 36.3 | 51.65 |
| ۱۲- اگست-۲۰۱۴ | 39 | 56.75 | 56.55 | 56.74 | 56.73 | 35 | 37.25 | 61.85 |
| ۱۶- اگست-۲۰۱۴ | 38 | 56.71 | 56.12 | 56.67 | 56.68 | 40 | 40.3 | 64.05 |
| ۲۳- اگست-۲۰۱۴ | 39 | 57.29 | 56.61 | 57.29 | 57.22 | 35 | 36.3 | 48.7 |
| ۲۶- اگست-۲۰۱۴ | 37 | 57.06 | 56.81 | 57.02 | 57.02 | 35 | 35.85 | 49.35 |
| ۳۰- اگست-۲۰۱۴ | 38 | 57.05 | 56.73 | 57.00 | 56.99 | 35 | 35.3 | 50.2 |
| ۲- سپتمبر-۲۰۱۴ | 41 | 57.51 | 57.12 | 57.50 | 57.48 | 35 | 35 | 61.1 |
| ۶- سپتمبر-۲۰۱۴ | 36 | 57.24 | 56.80 | 57.24 | 57.17 | 35 | 38.65 | 45.05 |
| ۱۳- سپتمبر-۲۰۱۴ | 34 | 57.60 | 57.30 | 57.51 | 57.46 | 35 | 34.7 | 42.15 |
| ۱۶- سپتمبر-۲۰۱۴ | 36 | 57.18 | 56.55 | 57.16 | 57.07 | 35 | 33.2 | 48.6 |
| ۲۳- سپتمبر-۲۰۱۴ | 36 | 57.37 | 57.00 | 57.35 | 57.30 | 35 | 34.3 | 46.35 |
| ۲۷- سپتمبر-۲۰۱۴ | 34 | 56.90 | 56.50 | 57.05 | 56.80 | 35 | 24.85 | 34.3 |
| ۳۰- سپتمبر-۲۰۱۴ | 35 | 56.96 | 56.81 | 56.88 | 56.92 | 20 | 20.15 | 32.45 |
| ۱۱- اکتوبر-۲۰۱۴ | 33 | 57.55 | 57.20 | 57.36 | 57.52 | 25 | 30.45 | 36.6 |
| ۱۴- اکتوبر-۲۰۱۴ | 34 | 57.56 | 57.40 | 57.70 | 57.50 | 35 | 37.4 | 44.6 |
| ۱۸- اکتوبر-۲۰۱۴ | 32 | 57.75 | 57.11 | 57.77 | 57.72 | 35 | 36 | 43.7 |
| ۲۱-اکتوبر-۲۰۱۴ | 36 | 57.90 | 57.50 | 57.92 | 57.83 | 40 | 40.4 | 52.6 |
| ۲۵- اکتوبر-۲۰۱۴ | 35 | 57.94 | 57.45 | 57.81 | 57.70 | 35 | 43.05 | 46.3 |
| ۲۸- اکتوبر-۲۰۱۴ | 37 | 57.84 | 57.60 | 57.87 | 57.78 | 40 | 39.5 | 58.6 |
| ۱- نومبر-۲۰۱۴ | 36 | 57.61 | 57.35 | 57.64 | 57.51 | 40 | 39.85 | 55.5 |
| ۴- نومبر-۲۰۱۴ | 38 | 57.57 | 57.35 | 57.65 | 57.53 | 40 | 37.65 | 63.9 |
| ۸- نومبر-۲۰۱۴ | 35 | 57.82 | 57.41 | 57.81 | 57.78 | 35 | 37.8 | 51.05 |
| ۱۱- نومبر-۲۰۱۴ | 39 | 57.83 | 57.60 | 57.83 | 57.82 | 35 | 35.15 | 61.95 |
| ۱۵- نومبر-۲۰۱۴ | 37 | 57.93 | 57.76 | 57.94 | 57.91 | 35 | 35.15 | 54.45 |
| ۱۸- نومبر-۲۰۱۴ | 40 | 57.93 | 57.76 | 57.92 | 57.89 | 40 | 41.35 | 63.4 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲- نومبر-۲۰۱۴ | 43 | 58.15 | 57.81 | 58.12 | 58.12 | 40 | 48.2 | 71.95 |
| ۲۵- نومبر-۲۰۱۴ | 39 | 58.16 | 57.96 | 58.14 | 58.13 | 45 | 44.5 | 65.7 |
| ۲۹- نومبر-۲۰۱۴ | 38 | 57.89 | 57.50 | 57.88 | 57.84 | 50 | 54.05 | 67.45 |
| ۲- دسمبر-۲۰۱۴ | 42 | 57.88 | 57.14 | 57.89 | 57.85 | 50 | 49.2 | 78.25 |
| ۶- دسمبر-۲۰۱۴ | 38 | 57.99 | 57.80 | 57.97 | 57.94 | 50 | 49.45 | 62.55 |
| ۹- دسمبر-۲۰۱۴ | 39 | 58.06 | 57.88 | 58.04 | 58.03 | 50 | 47.55 | 72.75 |
| ۱۳- دسمبر-۲۰۱۴ | 37 | 57.88 | 57.66 | 57.92 | 57.84 | 50 | 49.25 | 66.75 |
| ۱۶- دسمبر-۲۰۱۴ | 40 | 58.05 | 57.80 | 58.07 | 58.01 | 50 | 47.6 | 76.65 |
| ۲۰- دسمبر-۲۰۱۴ | 37 | 58.07 | 57.80 | 58.09 | 58.02 | 45 | 45.15 | 58.7 |
| **ټولیز** | | | | | | **3,340.00** | **3,341.43** | **4,698.00** |

## ۴. د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط

### ۱.۴ د پانګه ایزه پاڼو لیلام

د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د دوېم پولي ابزار په توګه کار اخلي څو د پیسو عرضه مدیریت کړي. پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو له خوا د زیاتې نقدینګۍ د جذبولو لپاره کارول کېږي.

پانګه ایزې پاڼې د افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکې پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار مشتریانو او ډېرى جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو ته په اوونۍ کې یو ځل وړاندې کېږي.

اوس مهال د افغانستان بانک د یوه میاشت، شپږو میاشتو او د یوه کال پانګه ایزې پاڼې وړاندې کوي. د یوه کال بیه لرونکې پاڼې په وروستیو کې بازار ته معرفي کړې دي څو د دې پولي ابزار کارونې ته پراختیا ورکړي.

د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه نا ترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۳۷.۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۳۰.۶۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۳.۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بیه لرونکې پاڼو په کچه کې دا زیاتوالی د پولي ابزار د پیاوړتیا یوه مهمه نښه ده چې د افغانستان بانک د دې وړ ګرځوي چې د بهرنیو اسعارو د لیلام کچه راټیټه او خپلې زیرمې زیاتې کړي.

د ۲۸ ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه ۳.۸ میلیارده افغانۍ وه چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې یو شان پاتې شوې ده، حال دا چې د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو سر رسید کچه ۱۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي او کچه یې ۹.۳ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده. د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲۴.۷ میلیارده افغانۍ ته رسېږي.

۱۰.۲ ګراف د ۲۰۱۴ مالي کال په اوږدو کې د ټولیز سر رسید مودو ناترلاسه شوې کچو اجزاوو ویشنه توضیح کوي.

د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې تکتانې نرخ ۳.۵ سلنه او د ۱۸۲ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۵.۱۷ سلنې ته رسېږي، حال دا چې د ۳۶۴ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۷.۱ سلنه وه.

۱۰.۲ ګراف: د پانګه ایزې پاڼې ناترلاسه شوی مبلغ-۱۳۹۳ مالي کال
(۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کاله پورې)




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۱.۲ ګراف: د ناترلاسه شوې پانګه ایزو پاڼو کچه




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۲.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنيو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۳.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنيو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۴.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنيو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۵.۲ ګراف: د ټکټاني د نرخونو موده ایز جوړښت
د ګټي انحنا (۲۰۱۳ ډیسمبر څخه ۲۰۱۴ ډیسمبر پورې)




سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۴ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریز بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولیزه اماناتو ۸ سلنه د افغانستان بانک سره د الزامي زیرمو په توګه وساتي چې د خدمتونو په بدل کې يې یوه سلنه ځانته ګرځوي چې د تېرو ۲۸ ورځو پانګه ایزو پاڼو لیلام د کسر شوي نرخ څخه لاندې يا د اماناتو د تسهيل نرخ سره برابر دی.

د دې لپاره چې سوداګریزو بانکونو ته آسانتیاوې برابرې شي چې خپل سیالیت په سمه توګه مدیریت کړي او ورته فرصت ورکړل شي چې د پانګه ایزه پاڼو څخه ببل پر خپل اضافي زیرمې باندې هم پانګونه وکړي، د افغانستان بانک په

۱۳۸۵ کال (۲۰۰۶ تر ۲۰۰۷) کې د شپې دایمي آسانتیاوې (Overnight standing facilities) معرفي کړې دي. که څه هم دغه نوښت د لنډې مودې لپاره لغو شوی و څو د پولي ابزار په توګه د هغه اغېزناکي وڅاري چې دا کار د غوره پولي سیاست لپاره لاره هواروي.

**د شپې پور آسانتیا (Overnight Credit Facility):** دا آسانتیا سوداګریزو بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي، د شپې په اساس د افغانستان بانک نه په افغانی پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې آسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تېرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه پورته دی. دا پور اخیستنه د پانګه ایزه پاڼو د ناترلاسه شوي مبلغ په مرسته تضمین کېږي. د ټکتاني د نرخ د دې ډول لوړوالي اصلي لامل خپل منځي پور ورکړې لپاره د سوداګریزو بانکونو هڅول دی.

**۳.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)**

| د پیل نیټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولیزو داوطلبیو شمیره | د وړل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (د سلنې له مخې) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ ارزښت (په سلنه) | د داوطلبی تر ټولو لوړ ارزښت (د سلنې له مخې) | عیار شوی اوسط (د سلنې له مخې) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ دسمبر – ۲۰۱۳ | 2,500 | 2,290 | 2,330 | 6 | 6 | 3.4 | 3.38 | 3.41 | 3.388 |
| ۳۱ دسمبر – ۲۰۱۳ | 2,500 | 1,750 | 1,750 | 5 | 5 | 3.41 | 3.38 | 3.41 | 3.391 |
| ۷ جنوری – ۲۰۱۴ | 1,850 | 380 | 380 | 2 | 2 | 3.42 | 3.4 | 3.42 | 3.407 |
| ۱۴ جنوری – ۲۰۱۴ | 2,850 | 100 | 100 | 2 | 2 | 3.43 | 3.42 | 3.43 | 3.422 |
| ۲۱ جنوری – ۲۰۱۴ | 2,600 | 1,260 | 1,310 | 4 | 4 | 3.45 | 3.043 | 3.5 | 3.437 |
| ۲۸ جنوری – ۲۰۱۴ | 1,750 | 1,860 | 1,960 | 5 | 5 | 3.46 | 3.44 | 3.5 | 3.445 |
| ۴ فبروری – ۲۰۱۴ | 1,500 | 90 | 180 | 1 | 1 | 3.46 | 3.46 | 3.47 | 3.46 |
| ۱۱ فبروری – ۲۰۱۴ | 1,500 | 160 | 160 | 1 | 1 | 3.46 | 3.45 | 3.46 | 3.455 |
| ۱۸ فبروری – ۲۰۱۴ | 2,000 | 1,210 | 1,260 | 3 | 3 | 3.46 | 3.45 | 3.49 | 3.459 |
| ۲۵ فبروری – ۲۰۱۴ | 2,000 | 530 | 800 | 4 | 3 | 3.46 | 3.45 | 3.6 | 3.458 |
| ۴ مارچ – ۲۰۱۴ | 1,500 | 560 | 560 | 4 | 4 | 3.5 | 3.45 | 3.5 | 3.469 |
| ۱۲ مارچ – ۲۰۱۴ | 1,500 | 430 | 430 | 4 | 4 | 3.52 | 3.49 | 3.52 | 3.5 |
| ۱۸ مارچ – ۲۰۱۴ | 2,500 | 1,180 | 1,180 | 3 | 3 | 3.56 | 3.51 | 3.56 | 3.518 |
| ۲۵ مارچ – ۲۰۱۴ | 1,500 | 730 | 1,130 | 5 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.6 | 3.555 |
| ۱ اپریل – ۲۰۱۴ | 1,500 | 400 | 500 | 3 | 3 | 3.56 | 3.55 | 3.58 | 3.557 |
| ۸ اپریل – ۲۰۱۴ | 1,400 | 260 | 310 | 2 | 2 | 3.56 | 3.55 | 3.58 | 3.557 |
| ۱۵ اپریل – ۲۰۱۴ | 1,500 | 1,600 | 1,600 | 5 | 5 | 3.56 | 3.53 | 3.56 | 3.547 |
| ۲۲ اپریل – ۲۰۱۴ | 2,000 | 1,140 | 1,190 | 6 | 6 | 3.56 | 3.54 | 3.6 | 3.556 |
| ۲۹ اپریل – ۲۰۱۴ | 2,000 | 550 | 600 | 5 | 5 | 3.56 | 3.55 | 3.58 | 3.557 |
| ۶ می – ۲۰۱۴ | 1,000 | 610 | 610 | 4 | 4 | 3.56 | 3.47 | 3.56 | 3.541 |
| ۱۳ می – ۲۰۱۴ | 2,000 | 1,070 | 1,070 | 5 | 5 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.557 |
| ۲۰ می – ۲۰۱۴ | 1,500 | 970 | 970 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.555 |
| ۲۷ می –۲۰۱۴ | 1,000 | 590 | 605 | 4 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.57 | 3.544 |
| ۳ جون – ۲۰۱۴ | 1,000 | 770 | 820 | 4 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.58 | 3.555 |
| ۱۰ جون – ۲۰۱۴ | 1,500 | 2,083 | 2,133 | 9 | 9 | 3.56 | 3.49 | 3.57 | 3.551 |
| ۱۷ جون – ۲۰۱۴ | 2,500 | 1,400 | 1,400 | 7 | 7 | 3.56 | 3.54 | 3.56 | 3.555 |
| ۲۴ جون– ۲۰۱۴ | 1,500 | 590 | 640 | 4 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.554 |
| ۱ جولای –۲۰۱۴ | 2,000 | 880 | 880 | 5 | 5 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.558 |
| ۸ جولای –۲۰۱۴ | 3,000 | 1,283 | 1,283 | 5 | 5 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.553 |
| ۱۵ جولای –۲۰۱۵ | 2,500 | 120 | 120 | 1 | 1 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۲۲ جولای –۲۰۱۴ | 1,000 | 650 | 650 | 3 | 3 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.554 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ آگست -۲۰۱۴ | 2,500 | 560 | 560 | 4 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.554 |
| ۱۲ آگست -۲۰۱۴ | 1,500 | 1,710 | 1,710 | 5 | 5 | 3.56 | 3.54 | 3.56 | 3.554 |
| ۲۶ آگست -۲۰۱۴ | 1,000 | 400 | 400 | 1 | 1 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۲ سپتمبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 500 | 500 | 2 | 2 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۱۰ سپتمبر -۲۰۱۴ | 2,500 | 1,400 | 1,400 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.554 |
| ۱۶ سپتمبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 600 | 600 | 5 | 5 | 3.56 | 5 | 3.56 | 3.558 |
| ۲۳ سپتمبر -۲۰۱۴ | 2,500 | 980 | 980 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.56 |
| ۳۰ سپتمبر -۲۰۱۴ | 3,000 | 1,350 | 1,350 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.55 |
| ۷اکتوبر -۲۰۱۴ | 2,000 | 580 | 580 | 4 | 4 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.559 |
| ۱۴اکتوبر -۲۰۱۴ | 2,000 | 700 | 700 | 3 | 3 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.551 |
| ۲۱اکتوبر -۲۰۱۴ | 2,000 | 850 | 850 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.558 |
| ۲۸اکتوبر -۲۰۱۴ | 2,000 | 770 | 770 | 7 | 7 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.559 |
| ۴ نومبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 500 | 500 | 4 | 4 | 3.56 | 3.554 | 3.56 | 3.559 |
| ۱۱ نومبر -۲۰۱۴ | 1,000 | 700 | 700 | 3 | 3 | 3.56 | 3.55 | 3.56 | 3.554 |
| ۱۸ نومبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 1,060 | 1,060 | 6 | 6 | 3.56 | 3.555 | 3.56 | 3.559 |
| ۲۵ نومبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 810 | 810 | 6 | 6 | 3.56 | 3.557 | 3.56 | 3.56 |
| ۲ دسمبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 610 | 620 | 4 | 4 | 3.56 | 3.559 | 3.56 | 3.56 |
| ۹ دسمبر -۲۰۱۴ | 1,500 | 1,390 | 1,410 | 6 | 6 | 3.56 | 3.55 | 3.59 | 3.557 |
| ۱۶ دسمبر -۲۰۱۴ | 2,500 | 1,025 | 1,225 | 5 | 5 | 3.56 | 3.56 | 3.561 | 3.56 |
| **ټولیزه** | **91,950** | **43,991** | **45,636** | | | | | | |

## ۴.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)

| د پیل نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولیزو داوطلبیو شمیره | د ورل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (د سلنې له مخې) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ ارزښت (د سلنې له مخې) | د داوطلبی تر ټولو لوړ ارزښت (د سلنې له مخې) | عیار شوی اوسط (د سلنې له مخې) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ دسمبر – ۲۰۱۳ | 2000 | 770 | 770 | 4 | 4 | 4.97% | 4.96 | 4.97 | 4.96 |
| ۷ جنوری – ۲۰۱۴ | 1000 | 450 | 450 | 2 | 2 | 4.98% | 4.97 | 4.98 | 4.98 |
| ۱۴ جنوری – ۲۰۱۴ | 1380 | 150 | 150 | 2 | 2 | 5.00% | 4.98 | 5.00 | 4.99 |
| ۲۱ جنوری – ۲۰۱۴ | 1500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 5.05% | 5.05 | 5.05 | 5.05 |
| ۲۸ جنوری – ۲۰۱۴ | 1500 | 150 | 250 | 3 | 2 | 5.05% | 5.05 | 5.11 | 5.05 |
| ۴ فبروری – ۲۰۱۴ | 1500 | 100 | 150 | 2 | 1 | 5.05% | 5.05 | 5.06 | 5.05 |
| ۱۱ فبروری – ۲۰۱۴ | 2000 | 100 | 100 | 2 | 2 | 5.06% | 5.05 | 5.06 | 5.05 |
| ۱۸ فبروری – ۲۰۱۴ | 1500 | 404 | 424 | 4 | 4 | 5.06% | 5.06 | 5.10 | 5.06 |
| ۲۵ فبروری – ۲۰۱۴ | 1500 | 110 | 110 | 1 | 1 | 5.15% | 5.10 | 5.15 | 5.11 |
| ۴ مارچ – ۲۰۱۴ | 1000 | 150 | 270 | 3 | 2 | 5.17% | 5.15 | 5.20 | 5.16 |
| ۱۲ مارچ – ۲۰۱۴ | 3500 | 500 | 500 | 4 | 4 | 5.19% | 5.15 | 5.19 | 5.17 |
| ۱۸ مارچ – ۲۰۱۴ | 2500 | 300 | 350 | 2 | 2 | 5.20% | 5.19 | 5.25 | 5.19 |
| ۲۵ مارچ – ۲۰۱۴ | 1500 | 350 | 550 | 3 | 2 | 5.20% | 5.19 | 5.24 | 5.19 |
| ۱ اپریل – ۲۰۱۴ | 1700 | 624 | 624 | 4 | 4 | 5.20% | 5.19 | 5.20 | 5.20 |
| ۸ اپریل – ۲۰۱۴ | 1600 | 150 | 150 | 2 | 2 | 5.20% | 5.19 | 5.20 | 5.20 |
| ۱۵ اپریل – ۲۰۱۴ | 1500 | 1142 | 1142 | 4 | 4 | 5.21% | 5.18 | 5.21 | 5.20 |
| ۲۲ اپریل – ۲۰۱۴ | 1200 | 580 | 580 | 3 | 3 | 5.21% | 5.19 | 5.21 | 5.21 |
| ۲۹ اپریل – ۲۰۱۴ | 1500 | 220 | 220 | 2 | 2 | 5.21% | 5.20 | 5.21 | 5.21 |
| ۶ می – ۲۰۱۴ | 1500 | 885 | 1118 | 4 | 4 | 5.21% | 5.05 | 5.25 | 5.19 |
| ۱۳ می – ۲۰۱۴ | 1000 | 988 | 988 | 4 | 4 | 5.23% | 5.21 | 5.23 | 5.21 |
| ۲۰ می – ۲۰۱۴ | 1000 | 106 | 106 | 2 | 2 | 5.23% | 5.22 | 5.23 | 5.22 |
| ۲۷ می – ۲۰۱۴ | 1000 | 250 | 348 | 4 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ جون – ۲۰۱۴ | 1000 | 488 | 488 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۰ جون – ۲۰۱۴ | 1000 | 1135 | 1165 | 7 | 7 | 5.23% | 5.06 | 5.23 | 5.21 |
| ۱۷ جون – ۲۰۱۴ | 1500 | 375 | 375 | 3 | 3 | 5.23% | 5.22 | 5.23 | 5.22 |
| ۲۴ جون – ۲۰۱۴ | 2000 | 293 | 333 | 4 | 4 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱ جولای – ۲۰۱۴ | 1500 | 916 | 916 | 3 | 3 | 5.23% | 5.20 | 5.23 | 5.23 |
| ۸ جولای – ۲۰۱۴ | 2000 | 744 | 744 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۵ جولای – ۲۰۱۴ | 1500 | 4 | 4 | 1 | 1 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲۲ جولای – ۲۰۱۴ | 1000 | 50 | 50 | 1 | 1 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۵ آگست – ۲۰۱۴ | 1000 | 400 | 400 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۲ آگست – ۲۰۱۴ | 1500 | 534 | 834 | 2 | 2 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲۶ آگست – ۲۰۱۴ | 1500 | 582 | 882 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲ سپتمبر – ۲۰۱۴ | 1500 | 708 | 708 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۰ سپتمبر – ۲۰۱۴ | 1500 | 250 | 350 | 3 | 2 | 5.23% | 5.22 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۶ سپتمبر – ۲۰۱۴ | 1500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲۳ سپتمبر – ۲۰۱۴ | 2500 | 400 | 400 | 2 | 2 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۳۰ سپتمبر – ۲۰۱۴ | 3000 | 300 | 300 | 2 | 2 | 5.23% | 5.22 | 5.23 | 4.67 |
| ۱۷اکتوبر – ۲۰۱۴ | 3000 | 200 | 200 | 1 | 1 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۴ اکتوبر – ۲۰۱۴ | 2500 | 435 | 435 | 3 | 3 | 5.23% | 5.22 | 5.23 | 5.22 |
| ۲۱ اکتوبر – ۲۰۱۴ | 1000 | 400 | 400 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲۸ اکتوبر – ۲۰۱۴ | 1000 | 100 | 100 | 2 | 2 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۴ نومبر – ۲۰۱۴ | 1500 | 150 | 150 | 1 | 1 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۱ نومبر – ۲۰۱۴ | 1500 | 525 | 525 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۸ نومبر – ۲۰۱۴ | 1000 | 150 | 150 | 2 | 2 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲۵ نومبر – ۲۰۱۴ | 1000 | 350 | 350 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۲ دسمبر – ۲۰۱۴ | 1000 | 350 | 350 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۹ دسمبر – ۲۰۱۴ | 2000 | 520 | 530 | 3 | 3 | 5.23% | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| ۱۶ دسمبر – ۲۰۱۴ | 2000 | 698 | 748 | 5 | 5 | 5.23% | 5.23 | 7.10 | 5.23 |
| **ټولیزه** | **77380** | **19885** | **21585** | | | | | | |

## ۵.۲ جدول: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)

| د پیل نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولیزو داوطلبیو شمیره | د وړل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (د سلنې له مخې) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ ارزښت (د سلنې له مخې) | د داوطلبی تر ټولو لوړ ارزښت (د سلنې له مخې) | عیار شوی اوسط (د سلنې له مخې) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ اپریل -۲۰۱۳ | 500 | 150.00 | 208 | 4 | 2 | 5.00 | 5 | 5 | 5.00 |
| ۱۶ اپریل -۲۰۱۳ | 500 | 3,900.00 | 3,950 | 7 | 6 | 5.20 | 4.48 | 4.906 | 4.91 |
| ۲۳ اپریل -۲۰۱۳ | 500 | 880.00 | 1,180 | 4 | 3 | 5.20 | 5 | 5.093 | 5.09 |
| ۳۰ اپریل -۲۰۱۳ | 500 | 1,298.18 | 1,318 | 6 | 5 | 5.20 | 5.09 | 5.192 | 5.19 |
| ۷ می -۲۰۱۳ | 500 | 995.00 | 995 | 5 | 5 | 5.30 | 5.09 | 5.255 | 5.26 |
| ۱۴ می -۲۰۱۳ | 500 | 1,415.00 | 1,580 | 6 | 4 | 5.30 | 5.12 | 5.259 | 5.26 |
| ۲۱ می -۲۰۱۳ | 500 | 50.00 | 55 | 2 | 1 | 5.35 | 5.35 | 5.35 | 5.35 |
| ۲۸ می -۲۰۱۳ | 500 | 175.00 | 175 | 3 | 3 | 5.50 | 5.11 | 5.267 | 5.27 |
| ۴ جون -۲۰۱۳ | 500 | 678.95 | 724 | 6 | 5 | 5.55 | 5.35 | 5.472 | 5.47 |
| ۱۱ جون -۲۰۱۳ | 500 | 1,265.00 | 1,265 | 4 | 3 | 5.60 | 5.45 | 5.534 | 5.53 |
| ۱۸ جون -۲۰۱۳ | 1500 | 425.00 | 425 | 4 | 4 | 5.65 | 5.5 | 5.582 | 5.58 |
| ۲۵ جون ۲۰۱۳ | 1500 | 1,027.21 | 1,032 | 6 | 5 | 5.70 | 5.5 | 5.684 | 5.68 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ جولای -۲۰۱۳ | 1500 | 215.06 | 215 | 3 | 3 | 5.80 | 5.7 | 5.714 | 5.71 |
| ۱۶ جولای -۲۰۱۳ | 1500 | 575.00 | 575 | 4 | 4 | 5.90 | 5.8 | 5.811 | 5.81 |
| ۲۳ جولای -۲۰۱۳ | 1500 | 710.28 | 710 | 4 | 4 | 6.10 | 5.9 | 6.034 | 6.03 |
| ۳۰ جولای – ۲۰۱۳ | 1500 | 20.00 | 35 | 2 | 1 | 6.20 | 6.2 | 6.2 | 6.20 |
| ۱۳ آگست -۲۰۱۳ | 1500 | 423.74 | 424 | 2 | 2 | 6.50 | 6.2 | 6.329 | 6.33 |
| ۲۰ آگست -۲۰۱۳ | 1500 | 135.02 | 155 | 3 | 3 | 6.60 | 6.6 | 6.6 | 6.60 |
| ۲۷ آگست -۲۰۱۳ | 1500 | 190.02 | 260 | 6 | 4 | 6.70 | 6.65 | 6.676 | 6.68 |
| ۳ سپتمبر -۲۰۱۳ | 1500 | ردشوی داوطلبی | 135 | 3 | 0 | 0.00 | 6.8 | 0 | 0.00 |
| ۱۰ سپتمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 1,600.00 | 1,610 | 4 | 4 | 6.80 | 6.65 | 6.675 | 6.68 |
| ۱۷ سپتمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 200.00 | 220 | 3 | 3 | 6.90 | 6.82 | 6.86 | 6.86 |
| ۲۴ سپتمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 320.00 | 320 | 3 | 3 | 6.95 | 6.9 | 6.906 | 6.91 |
| ۱ اکتوبر -۲۰۱۳ | 1500 | 30.00 | 160 | 3 | 1 | 6.95 | 6.95 | 6.95 | 6.95 |
| ۲۲ اکتوبر -۲۰۱۳ | 1500 | | هیڅ داوطلبي نشته | | | | | | |
| ۵ نومبر -۲۰۱۳ | 1500 | All bids rejected | 110 | 2 | | | 7 | | |
| ۱۲ نومبر -۲۰۱۳ | 1500 | 150.00 | 250 | 2 | 1 | 6.98 | 6.98 | 6.98 | 6.98 |
| ۲۶ نومبر -۲۰۱۳ | 1500 | 15.00 | 130 | 3 | 1 | 6.98 | 6.98 | 6.98 | 6.98 |
| ۳ دسمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 80.00 | 143 | 2 | 2 | 6.98 | 6.98 | 6.98 | 6.98 |
| ۱۰ دسمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 127.00 | 127 | 2 | 2 | 7.00 | 6.98 | 6.988 | 6.99 |
| ۱۷ دسمبر -۲۰۱۳ | 1500 | 110.00 | 110 | 1 | 1 | 7.05 | 7 | 7.014 | 7.01 |

سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لیدلوری

**د انفلاسیون بهیر او لیدلوری**

په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې د لوی اقتصادي رکود وروسته د نړۍ اقتصاد د ۲۰۱۳ کال په پرتله په ۲۰۱۴ کال کې د پام وړ خو نامتوازنه وده تجربه کړې ده. د دې کال تر پایه پورې د نړۍ اقتصادي فعالیت په ځینو سترو پرمختللو اقتصادونو او د دې ترڅنګ د ختیځ آسیا په ځینو پرمختلونکو هېوادونو کې د پرمختیاوو له کبله چټکه وده کړې ده، خو د بدلون دا چټکتیا دومره نه وه چې د تېر کال راتلونکي هیلې او لیدلوري لا ګټوره کړي. که څه هم د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې نړۍ کوم لوی یا د پام وړ اقتصادي زیان لیدلی نه دی، خو سره له دې هم د اقتصاد لپاره یو ښه کال نه ؤ. د دې اصلي لامل په اکراین او عربي هېوادونو کې د سیاسي کړکېچ زیاتېدل په ګوته شوی دی. د نړۍ سوداګرۍ هم خپل افقي بهیر ته دوام ورکړی دی. او کورني ناخالصه تولیداتو هم هومره وده نه ده کړې چې په عمده توګه په وارداتي لګښت او پانګه ایزه توکو کې لړوالی په ګوته کوي. د (G20) هېوادونو د اقتصادي وضعیت د څېړلو په برخه کې باید وویل شي چې د متحدو ایالتونو اقتصادي وده د تېرو څو کلونو په پرتله په عمده توګه د غوره مالي شرایطو او پولي سیاست له امله ثابته پاتې شوې ده، حال دا چې جاپان او د یورو سیمه (په ځانګړې توګه جرمني، فرانسه او ایټالیا) په ۲۰۱۴ کال کې لږه وده څرګندوي. د کمزوره ودانیزو فعالیتونو او د لږ لګښت له کبله په چین کې اقتصادي وده لږڅه کمه شوې ده. هند د ودې نسبتاً لوړ نرخ ښکاره کوي چې کولی شي د نړۍ پر اقتصاد باندې د ځینو هېوادونو د کمزوره اقتصادي فعالیت له منفي اغېزو څخه یو نه یو ډول ځان وژغوري. په ۲۰۱۴ کال کې د دې هېواد د زیاتې پانګونې، لږه سیاسي ناډاډمنتیا او حکومتي ژمنو له امله اقتصادي ماشین پیاوړی کړی دی.

د اومه نفتو بیې د ۲۰۱۴ کال په وروستي ربعه کې نزولي بهیر درلوده، چې په زیات شونتیا سره د نړۍ د نفتو پر تولیدوونکو هېوادونو باندې شدیده اقتصادي فشارونه وارد کړي دي. د دې ترڅنګ نورې اندیښنې هم شتون لري چې د نفتو د بیې کمېدل به د نفتو د تولیدوونکو هېوادونو اقتصادي او سیاسي ټیکاو وګواښي. د (OPEC) سازمان د اعلامیې له امله د نفتو د بیو د تولید د اوسني نرخ د ساتلو په برخه کې تر ټولو ستر ټکانونه لیدلي دي. له دې سربېره، په نړیوال حقیقي اقتصاد کې د کمزوره اقتصادي فعالیتونو له امله د نفتو په بیو کې خنډونه رامنځ ته شوي دي. د نفتو په بیې کې خنډونه د عرضې د مثبت ټکانونو له لارې وارد شوي دي چې د نفتو په تولید کې د نه تمې وړ زیاتوالی ښکاره کوي او د نفتو تقاضا باندې منفي ټکانونه هم په راتلونکي کې د شدیده نفتي تولیداتو هیلې او تمې څرګندوي. د OPEC او نا OPEC هېوادونو د نفتو د ټولیزې عرضې وده زیاته شوې ده، حال دا چې د کال په اوږدو کې د OPEC هېوادونو اوومه نفتو لپاره تقاضا راکمه شوې ده.

د اقتصادي فعالیتونو ضمني اقتصادي بهیر، په نړۍ کې د تقاضا د کچې ټیټوالی، د خوراکي توکو د تولید په اړه د مثبتو هیلو او د نفتو د بیې د پام وړ کموالی په پام کې نیولو سره د کال په څلورمه ربعه کې د نړۍ د انفلاسیون نرخ هم کم شوی دی.

له یوې خوا د نفتو بیې لږې او د تقاضا په تناسب پریمانه خوراکي توکي تولید شوي، له بلې خوا د سوداګریزو توکو بیې د پام وړ ۲۸ سلنه راټیټې شوي دي چې له دې ډلې په ۲۰۱۴ کال کې د خوراکي توکو بیې په اوسط ډول ۳.۸ سلنه

راکمې شوې دي.[۱]

۱،۳ ګراف: د خوراکي توکو د بیې شاخص
( د خوراکي توکو او بیه لرونکو محصولاتو سازمان)




له بلې خوا کمزوره اقتصادي کړنې چې د نړیوال اقتصادي وضعیت د رغیدنې لپاره ناهیلي کوونکي دي، هم د سوداګریزو توکو د بیو په لوېدو او ځګېدو کې ونډه درلودلې ده. په ورته وخت کې، د بهرنیو اسعارو په وړاندې د امریکایي ډالرو د ارزښت د زیاتوالي له امله د نړیوال سوداګریزو توکو بیې زیانمنوونکی پاتې شوي دي.

د امریکې متحده ایالات د ارزونې لاندې کال په پای کې د انفلاسیون تر ټولو ټیټ نرخ درلوده چې په تېرو پنځو کلونو کې بې ساری دی. په یورو سیمه کې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر میاشتې راهیسې خپل تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلی دی. یونان، بلغاریا او اسپانیا د انفلاسیون نرخ ټیټې شمېرې ثبت کړي دي، حال دا چې د رومانیا، اتریش او فنلنډ انفلاسیون تر ټولو لوړ نرخونه ښکاره کوي.

همدا ډول، مخ پر ودې اقتصادونه هم د کال په اوږدو کې د انفلاسیون ټیټ نرخ تجربه کړی دی. چین چې د نړۍ دوهم ستر اقتصاد دی د تېرو پنځو کلونو راهیسې د انفلاسیون تر ټولو ټیټ نرخ درلودلی دی. په هند کې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو په موده کې د ټکټانې د نرخونو په زیاتېدو او د پولي سیاست د ټینګولو په پایله کې پر عمومي بیو باندې فشارونه راکم شوي دي. د څو کلونو دوه رقمي نرخ وروسته په ۲۰۱۴ کال کې د انفلاسیون نرخ شاوخوا ۵ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د سیمې او نړۍ په کچه د انفلاسیون نرخ غورځېدنې په افغانستان کې پر عمومي بیو باندې اغېزه کړې ده. د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه (۱۳۹۳ مالي کال) کې په افغانستان کې د انفلاسیون کلنی نرخ د پام وړ ۱.۳ سلنه کم شوی دی، حال دا چې د تېر کال په ورته موده کې ۷.۳ سلنه و. په نړۍ کې د خوراکي توکو او د نفتو لږه بیه او معتدله اقتصادي فعالیت د هغو دوو عمده بهرنیو عواملو په توګه پېژندل کېږي چې په افغانستان کې یې د انفلاسیون نرخ راښکته کړی دی. سربېره پر دې، سیاسي ناډاډمنتیا او لږه ټولیزه تقاضا بیا هغه کورني عوامل دي چې په هېواد کې د انفلاسیون د ټیټ نرخ سبب ګرځېدلي دی. د ارزونې لاندې کال په څلورمه ربعه کې سیاسي او امنیتي بې ثباتي خپل اوج ته رسېدلې وه (په تېره بیا د هېواد په شمال او سهیلي سیمو کې) چې له امله یې اقتصادي فعالیتونه کمزوره شوي دي. په همدې حال کې د سیمې د اقتصادي فعالیتونو د سروې[۲] د لاسته راوړنو پر بنسټ، په کرنیز سکتور کې د ځینې مطلوبه پراختیاوو سربېره نورو ټولو سکتورونو د کال په څلورمه ربعه کې د فعالیتونو د پام وړ کموالي راپور ورکړی دی. د حکومت او انجوګانو لخوا د پلې شویو پروژو شمېر هم د ارزونې لاندې موده کې د پام وړ کم شوی دی.

### ۱. په افغانستان کې د مصرفي توکو د بیې شاخص

په افغانستان کې عمومي انفلاسیون د ۲۰۰۹ کال د مارچ میاشتې راهیسې تر ټولو ټیټ نرخ ثبت کړی دی. د عمومي انفلاسیون د نرخ ټیټېدونکی بهیر د تېر کال په څلورمه ربعه

(۱) د خوړو او کرنې د نړیوالې ادارې د خوراکی توکو د بیسې شاخص

(۲) د افغانستان بانک هر دوه میاشتې وروسته په شپږو سترو ولایتونو کې د سیمه ایزو اقتصادي فعالیتونو سروې تر سره کوي.

شو چې د انفلاسیون نرخ ۷.۳ سلنه و. د څلورمي ربعي (د ۲۰۱۴ دسمبر) په پای کې د هېواد په کچه د انفلاسیون نرخ (کال په کال) ۱.۳ و. خوراکي توکو او نا خوراکي توکو چې د مصرفي توکو د بيې شاخص د ټوکرۍ عمده اجزاوې جوړوي، د ۲۰۱۳ کال د څلورمي ربعي په پرتله د انفلاسیون نرخ ټیټ ثبت کړې دی، د خوراکي توکو د بیو د چټکه کموالی مونډلی چې د سبزیجاتو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. د ټوکرۍ د دې فرعي برخې بیه منفي ۹.۶ سلنې ته رسېده چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۰.۷ سلنې په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. د مخکې ذکر شویو بهرني عواملو ترڅنګ د انفلاسیون نرخ ټیټوالی په هېواد کې د مهم اقتصادي شاخصو د ټیټېدونکي بهیر په پام کې نیولو سره هم شنل کېدای شي. د ولسمشریزو ټولټاکنو اوږده پروسه، ناډاډمنه امنیتي وضعیت او د لږ شمېر پراختیایي پروژو له امله سیاسي اندیښنې د ارزونې لاندې کال په موده کې د کمزوره اقتصادي فعالیت ستر لاملونه ګڼل کیږي. له همدې امله، ټولیز عاید په شدیده توګه راکم شوی دی چې په خپل وار یې ټولیزه کورنی تقاضا تر فشار لاندې راوستې ده.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې، د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص په ټوکرۍ کې د انفلاسیون نرخ بدلونونه د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ته ورته بدلونونه په ګوته شوي دي. د ۲۰۰۹ کال د مارچ میاشتې راپدېخوا د کابل عمومي انفلاسیون چې د کلني سلنيز بدلونونو له مخې محاسبه کیږي، د ۲۰۱۴ کال په دسمبر کې تر ټولو ټیټ منفي ۱.۱ سلنه نرخ ثبت کړی دی.

د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ته ورته د کابل د خوراکي توکو فرعي شاخص هم د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د پام وړ کموالی تجربه کړی دی. په کابل کې د خوراکي توکو د بیې د ټیټوالي ستر لامل سبزیجات شودل

شوي دي چې بیې یې د تېر کال په پرتله د پام وړ ۳.۵۶ سلنه کم شوي دي. د خوراکي توکو د فرعي شاخص دا فرعي برخه د ۱۳۹۲ مالي کال د ۳۰.۰ سلنه انفلاسیوني نرخ څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۵.۶ سلنه (کال په کال) دیفلاسیوني نرخ ته راټیټه شوې ده.



۲.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص برخو ویشنه (کال په کال)

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د دې لپاره چې د بهرنیو عواملو د اغېزو مخه ونیول شي او د پولي سیاست د لوی آمریت د پالیسیو اغېزناکي د عمومي بیې ثبات پورې اړه ولري نو پکاره ده چې اصلي انفلاسیون (د ۳۰ سلنه قیچي کارۍ میتود په مرسته چې د اوسط پیدا کولو یو میتود دی) محاسبه شي. د ارزونې لاندې کال په پای کې د دې میتود په مرسته د محاسبه شوي اصلي انفلاسیون نــرخ (کال په کال) ۴.۲۸ سلنه و.



۳.۳ ګراف: اصلی انفلاسیون (۲۸ سلنه قیچِي کارۍ میتود TM )

## ۱.۱ د ملي عمومي مصرفي توکو د بيو د شاخص پرمختياوې

### ۱.۱.۱ کلني پرمختياوې

ملي عمومي انفلاسيون چې په هېواد کې د عمومي بيو د بدلونونو د محاسبې په مرسته سنجول کېږي. د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر مياشتې راهيسې د کمېدو په حال کې دی. د ۲۰۱۳ کال په څلورمه ربعه کې د انفلاسيون نرخ ۷.۳ سلنه ثبت شوی و. يو کال وروسته د ۲۰۱۴ کال په ورته موده کې دا نرخ (کال په کال) د پام وړ ۱.۳ سلنې ته راټيټ شو چې د يوه کال په اوږدو کې ۰.۰۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. د خوراکي توکو فرعي شاخص چې د مصرفي توکو د بيې د عمومي شاخص تر ټولو لويه برخه جوړوي. د ناخوراکي توکو د فرعي شاخص په پرتله د پام وړ ټيټوالی څرګندوي. د خوراکي توکو انفلاسيون د ۲۰۱۴ کال په دسمبر مياشت کې ۲.۹ سلنې ته راښکته شوی دی چې د ۲۰۱۳ کال د ورته ربعې د ۹.۶ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د خوراکي توکو د فرعي شاخص د بدلون ۶.۷ سلنه چې لامل يې د سبزيجاتو په بيو کې د پام وړ کموالی ښودل شوی دی. د مصرفي توکو د بيې د شاخص دا فرعي برخه د عمومي شاخص تر ټولو ستره برخه يعني ۷.۹ سلنه جوړوي. له همدې امله د دې برخو په بيو کې هر ډول بدلون کولای شي په عمومي انفلاسيون کې بدلون راولي. د سبزيجاتو بيه د ۲۰۱۴ کال په دسمبر مياشتې کې ۹.۶ سلنې ديفلاسيوني نرخ درلوده چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۰.۰ سلنې انفلاسيوني نرخ په پرتله د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. د سبزيجاتو د بيې د کمېدو عمده لامل مناسبه هوا ښودل شوې چې له امله يې په هېواد کې کرنيز محصولات زيات شوي دي. د تازه او وچې مېوو د بيې د زياتوالي پرته د خوراکي توکو نورو ټولو فرعي اجزاوو په هېواد کې د ښه حاصلاتو او د کال په اوږدو کې د نړيوال خوراکي توکو د بيې د کموالي له امله ټيټېدونکی بهير ثبت کړی دی. په ورته وخت کې، د مصرفي توکو د بيې د شاخص د ناخوراکي توکو برخې فرعي شاخص هم د کال په کال محاسبې پر بنسټ د ارزونې لاندې موده کې ۰.۵ سلنه ديفلاسيوني نرخ درلودلی چې د ۲۰۱۳ کال د څلورمې ربعې د ۴.۹ سلنې انفلاسيوني نرخ په پرتله کموالی ښکاره کوي. کور جوړونې، بريښنا، اوبه او ګاز د ارزونې لاندې موده کې د ناخوراکي توکو په شاخص کې د ديفلاسيون ستر لاملونه ګڼل کېږي چې د دې فرعي برخې بيې ۹.۷ سلنه ديفلاسيوني نرخ ته راغورځېدلي دي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲.۱ سلنه انفلاسيوني نرخ په پرتله کموالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د کور جوړونې د بيو د کمېدو لامل په هېواد کې د راتلونکو سياسي او امنيتي انديښنو له کبله د ملکيتونو کرايو لپاره لږه تقاضا په ګوته شوې ده. د ناخوراکي توکو نورې اړوندې فرعي برخې لکه پوښاک، اثاثيې او کورني توکو هم د ارزونې لاندې موده کې د پام وړ ټيټوالی موندلی دی. له بلې خوا، ټرانسپورټ د ۲۰۱۳ کال د څلورمې ربعې په پرتله د ۲۰۱۴ کال په ورته ربعه کې د انفلاسيون ډېر لوړ نرخ ثبت کړی دی. امنيتي انديښنې او ستونزې او ټرانسپورټ د انفلاسيون د زياتېدو ستر لاملونه دي.

## ۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو ویشنه

(د کال پر اساس د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ مارچ میاشت= ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۲ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۲ دوهمه ربعه | ۱۳۹۲ دریمه ربعه | ۱۳۹۲ څلورمه ربعه | ۱۳۹۳ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۳ دوهمه ربعه | ۱۳۹۳ دریمه ربعه | ۱۳۹۳ څلورمه ربعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **6.4** | **7.6** | **8.0** | **7.3** | **5.6** | **5.6** | **4.2** | **1.3** |
| **خوراکي توکي او څښناك** | **52.0** | **5.2** | **6.9** | **9.1** | **9.6** | **10.0** | **9.7** | **6.8** | **2.9** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 12.8 | 13.7 | 14.6 | 9.1 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 |
| غوښه | 7.2 | 6.0 | 5.3 | 6.6 | 5.0 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 4.9 | 4.1 | 7.8 | 5.0 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | -0.5 | -2.3 | -0.4 | 0.3 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | -1.7 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | -3.2 | -2.0 | -0.1 | 4.7 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 |
| سبزیجات | 7.9 | -3.3 | 6.6 | 15.3 | 30.7 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | -9.6 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 3.4 | 4.7 | 2.8 | 2.4 | 2.5 | -1.6 | -0.2 | -1.0 |
| آچار، ترشي او... | 0.9 | 8.8 | 10.2 | 5.6 | 8.1 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.6 | 8.5 | 6.8 | 6.6 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 |
| **ناخوراکي توکي** | **48.0** | **7.7** | **8.4** | **6.8** | **4.9** | **1.1** | **1.4** | **1.4** | **-0.5** |
| تمباکو | 0.4 | 11.5 | 19.5 | 21.2 | 10.9 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 |
| پوښاک | 7.0 | 8.0 | 10.3 | 8.9 | 8.8 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 |
| کور جوړونه | 20.7 | 11.8 | 11.1 | 6.8 | 2.1 | -8.5 | -9.1 | -8.8 | -9.7 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 3.9 | 6.0 | 6.5 | 8.7 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 |
| روغتیا | 3.3 | 11.3 | 13.0 | 11.2 | 8.0 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | -2.5 | -1.5 | 3.6 | 5.8 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 |
| اړیکې | 1.1 | -6.7 | -6.4 | -4.5 | -2.5 | -1.5 | -1.4 | -2.0 | -3.4 |
| زده کړه | 0.7 | 7.1 | 1.7 | 1.8 | 1.8 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 3.2 | 3.5 | 2.6 | 2.3 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 2.4 | 2.8 | 3.7 | 1.8 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 |
| متفرقه | 1.8 | 5.5 | 5.2 | 6.6 | 8.0 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 |
| **اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه – قیچي کارۍ میتود Trimmed Mean)** | | **4.9** | **5.8** | **5.8** | **5.6** | **6.4** | **6.3** | **5.6** | **4.3** |
| **اصلي انفلاسیون (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تمباکو پرته عمومي انفلاسیون)** | | **5.9** | **7.4** | **7.2** | **7.2** | **4.3** | **3.6** | **1.7** | **-0.8** |

*سرچینه: د احصائیې ملي اداره، د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه*

### ۲.۱.۱ د ملي مصرفي توکو د بیې په شاخص کې درې میاشتنی پرمختیاوې

د انفلاسیون په نرخ کې درې میاشتنی بدلونونه په هېواد کې د بیو د بدلونونو بل اړخ وړاندې کوي. د ملي عمومي انفلاسیون د درې میاشتني پرمختیاوو ارزونه مونږ ته دا موکه راکوي چې په لنډمهاله توګه د مصرفي توکو د ټوکرۍ بیې ولټوو.

د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د خوراکي توکو د بیو د زیاتېدو له امله لوړېدونکی بهیر درلودلی دی. د ۲۰۱۴ کال په دیسمبر میاشت کې د انفلاسیون عمومي نرخ ۱.۳ سلنه (ربعه په ربعه) و چې د همدې کال د لومړۍ ربعې راهیسې تر ټولو لوړه کچه ښکاره کوي. د کال په کال بدلونونو برعکس، د مصرفي توکو د بیې د شاخص عمده برخې (خوراکي او ناخوراکي توکي) د ۲۰۱۴ کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې مختلطه بهیر ښکاره کوي. د خوراکي توکو فرعي شاخص د ارزونې لاندې موده کې زیات شوی دی، حال دا چې د ناخوراکي توکو فرعي شاخص بیا ټیټېدونکی بهیر درلوده چې تر یوه بریده د خوراکي توکو د بیو اغېزې جبرانوي.

خوراکي توکي د ارزونې لاندې کال په څلورمه ربعه کې ۲.۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې په تېره ربعه کې یې ۱.۰ سلنه دیفلاسیوني نرخ ثبت کړی دی. د مصرفي توکو د بیې د شاخص په کلنی بدلونونو کې سبزیجاتو هم د ارزونې لاندې کال په څلورمه ربعه کې د خوراکي توکو د فرعي شاخص تر ټولو مهمه برخه جوړوي. د خوراکي توکو د فرعي شاخص نورې برخې بیا مختلطه بدلونونه ښکاره کوي. د ډوډۍ، حبوباتو او غوښې بیې ټیټې شوي خو د شېدو، پنیرو، هګیو، غوړیو او شحمیاتو، تازه او وچې مېوې بیې بیا زیاتې شوي دي. له بلې خوا، د دې

شاخص ناخوراکي برخې په دې موده کې لږڅه کموالی ښکاره کوي (د سپتمبر د ۰.۶ سلنې څخه په دیسمبر کې ۰.۵ سلنې ته راکم شوی)، چې عمده لامل یې د ټرانسپورټ د بیو پام وړ ټیټوالی ګڼل کېږي. ټرانسپورټ د ۲۰۱۴ کال د درېمې ربعې د ۲.۴ سلنې انفلاسیوني نرخ په پرتله په څلورمه ربعه کې ۳.۵ سلنه دیفلاسیوني نرخ ثبت کړی دی.




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د ربعې په ربعې شننې له لارې یو شمېر هغه داخلي او بهرنی عوامل چې د عمومي انفلاسیون په بدلونونو کې یې مهم رول درلوده، پېژندل شوي دي. په نړیوالو بیو کې د بدلونونو د بهیر او د دې ترڅنګ په هېواد کې د ناوړه سیاسي او اقتصادي شرایطو له امله د ناخوراکي توکو انفلاسیون راکم شوی دی، حال دا چې موسمي عواملو د عرضې بهیر اغېزمن کړی او د خوراکي توکو بیې یې زیاتې کړې دي.

**۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو ویشنه**

(د ربعې پر اساس د بدلونونو سلنه)

د ۲۰۱۱ مارچ میاشت = ۱۰۰))

| | ۱۳۹۱ مالي کال * | | | ۱۳۹۲ مالي کال | | | | ۱۳۹۳ مالي کال | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **0.1** | **0.8** | **4.8** | **0.6** | **1.2** | **1.1** | **4.2** | **-1.0** | **1.2** | **-0.2** | **1.3** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **-0.3** | **-0.3** | **5.4** | **0.5** | **1.3** | **1.7** | **5.9** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** | **2.0** |
| ډوډۍ او حبوبات | 1.6 | 2.2 | 8.4 | 0.2 | 2.4 | 3.0 | 3.2 | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 |
| غوښه | 0.7 | 0.6 | 2.1 | 2.6 | 0.0 | 1.8 | 0.6 | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | -0.6 | 1.2 | 3.9 | 0.4 | -1.4 | 4.8 | 1.2 | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 |
| غوړي او شحمیات | 1.7 | -1.2 | 1.4 | -2.3 | -0.2 | 0.7 | 2.1 | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 |
| تازه او وچه میوه | 0.7 | -2.9 | -3.6 | 2.7 | 2.0 | -1.0 | 0.9 | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 |
| سبزیجات | -7.8 | -8.5 | 14.5 | 0.0 | 1.7 | -1.0 | 29.9 | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 |
| بوره او خواږه توکي | 0.1 | 3.8 | 1.9 | -2.3 | 1.3 | 1.9 | 1.5 | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 |
| آچار، ترشي او... | 2.5 | 2.1 | 2.9 | 1.0 | 3.8 | -2.1 | 5.3 | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.1 | 3.2 | 2.3 | -0.2 | 3.0 | 1.6 | 2.1 | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 |
| **ناخوراکي توکي** | **0.5** | **2.0** | **4.3** | **0.8** | **1.1** | **0.6** | **2.4** | **-2.9** | **1.4** | **0.6** | **0.5** |
| تمباکو | 0.4 | -1.9 | 11.0 | 2.1 | 7.5 | -0.5 | 1.5 | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 |
| پوښاک | -0.1 | 2.3 | 3.9 | 1.7 | 2.1 | 0.9 | 3.8 | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 |
| استوګنځی | 1.1 | 3.6 | 6.7 | 0.1 | 0.4 | -0.4 | 2.0 | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 |
| فرنیچر او کورني توکي | 0.8 | 0.7 | 0.4 | 1.9 | 2.8 | 1.2 | 2.5 | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 |
| روغتیا | 0.2 | 3.0 | 4.3 | 3.4 | 1.8 | 1.3 | 1.2 | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 |
| ترانسپورټ | -0.8 | -2.1 | 1.5 | -1.0 | 0.2 | 2.9 | 3.6 | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 |
| اړیکې | -1.7 | -2.7 | -1.3 | -1.1 | -1.4 | -0.7 | 0.7 | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 |
| زده کړه | 4.6 | 0.8 | -0.1 | 1.7 | -0.6 | 0.8 | 0.0 | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 |
| معلومات او کلتور | -0.2 | 0.8 | 1.2 | 1.3 | 0.1 | 0.0 | 0.9 | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.2 | 0.2 | 1.7 | 0.2 | 0.6 | 1.1 | -0.1 | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 |
| متفرقه | 0.6 | 0.5 | 2.6 | 1.6 | 0.3 | 2.0 | 4.0 | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت دکارکوونکو محاسبه**

*افغانستان خپل مالي کال د ۱۳۹۱ کال راپدېخوا بدل کړی دی. نوی مالي کال د دسمبر په ۲۱ پیل او د دسمبر په ۲۰ پای ته رسیږي. د همدې بدلون له امله د ۱۳۹۱ نوی مالي کال ۹ میاشتې رانغاړي.

## ۲.۱ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې پرمختیاوې

### ۱.۲.۱ کلني پرمختیاوې

د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ته ورته د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص هم د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې د انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر تجربه کړی دی. په کابل کې د عمومي انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۴ کال په د سمبر میاشت کې ۱.۱ سلنه دیفلاسیوني نرخ ته راښکته شوی، حال دا چې د تېر کال په ورته موده کې یې ۶.۷ سلنه انفلاسیوني نرخ درلوده. د مصرفي توکو د بیې د شاخص د ټوکرۍ عمده برخې (خوراکي او ناخوراکي توکي) د څلورمې ربعې په پای کې د پام وړ کموالی موندلی دی. خوراکي توکي چې په هېواد کې د مصرفي توکو د بیې د شاخص تر ټولو مهمه برخه جوړوي، د څلورمې ربعې په پای کې د پام وړ ۷.۹ سلنیزه درجه کموالی ښکاره کوي او ۱.۸ سلنې (کال په کال) ته رسیږي، حال دا چې د ۲۰۱۳ کال په وروستي ربعه کې یې کچه ۹.۷ سلنه ثبت شوې وه. سبزیجاتو د ارزونې لاندې موده کې د پام وړ ۳.۵۶ سلنه ټیټوالی موندلی دی. د کال پر اساس، د خوراکي توکو د فرعي برخې بیه د تېر کال د ۳۰.۰ سلنې په پرتله منفي ۵.۶ سلنې ته راټیټه شوې ده.

۵.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

ناخوراکي توکي چې د مصرفي توکو د بیې د شاخص د ټوکرۍ بله ستره برخه جوړوي، د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربعه کې دیفلاسیوني نرخ ثبت کړی دی. د کور جوړونې بیې ټیټېدونکی بهیر درلوده، چې د ناخوراکي توکو د فرعي شاخص بیې د ۲۰۱۳ کال د څلورمې ربعې د ۴.۶ سلنې انفلاسیوني نرخ څخه د ۲۰۱۴ کال د ورته ربعې په پای کې ۳.۱ سلنه دیفلاسیوني نرخ ته راښکته شوی دی. د سیاسي ناڅرګندتیا له امله د کورونو د کرایو تقاضا ډېره کمه شوې چې دا برخه یې د ۲۰۱۳ کال د دسمبر میاشتې د ۳.۶ سلنې انفلاسیوني نرخ څخه د ۲۰۱۴ کال د دسمبر میاشتې ۱۳.۴ سلنې دیفلاسیوني نرخ ته د پام وړ راټیټه کړې ده.

### ۳.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاو وېشنه

(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ مارچ = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۲ لومړی ربعه | ۱۳۹۲ دوهمه ربعه | ۱۳۹۲ درېیمه ربعه | ۱۳۹۲ څلورمه ربعه | ۱۳۹۳ لومړی ربعه | ۱۳۹۳ دوهمه ربعه | ۱۳۹۳ درېیمه ربعه | ۱۳۹۳ څلورمه ربعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **عمومي شاخص** | 100 | **5.8** | **7.4** | **5.7** | **6.7** | **1.8** | **1.2** | **1.2** | -1.1 |
| **خوراکي توکي او څښاک** | 52.0 | **2.6** | **5.1** | **5.4** | **9.7** | **7.9** | **5.5** | **5.4** | 1.8 |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 11.8 | 13.4 | 12.6 | 10.4 | 7.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 |
| غوښه | 7.2 | 9.3 | 5.3 | 3.4 | 4.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 | 2.6 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 0.4 | -2.0 | -1.0 | 2.3 | 6.1 | 9.9 | 8.7 | 5.9 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | 0.1 | -0.4 | 3.4 | 1.1 | -0.9 | -3.1 | -5.1 | -5.5 |
| وچه او تازه مېوه | 4.8 | -8.6 | -6.3 | -4.2 | 2.3 | 6.5 | 8.8 | 7.4 | 12.9 |
| سبزیجات | 7.9 | -6.5 | 7.2 | 8.6 | 30.0 | 24.7 | 15.8 | 8.9 | -5.6 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 2.0 | 1.1 | -1.1 | -1.4 | -0.5 | -6.9 | -3.5 | -5.1 |
| اچار، ترشي او ... | 0.9 | 14.2 | 9.0 | 4.0 | 4.8 | 8.3 | 7.0 | 9.2 | 7.2 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 4.1 | 6.8 | 6.4 | 6.6 | 7.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 |
| **نا خوراکي توکي** | 48.0 | **8.1** | **8.9** | **5.9** | **4.6** | **-2.4** | **-1.7** | **-1.6** | -3.1 |
| تمباکو | 0.4 | 6.0 | 10.0 | 11.6 | 10.3 | 11.2 | 13.3 | 11.5 | 15.5 |
| پوښاک | 7.0 | 3.7 | 7.5 | 4.9 | 5.8 | 7.8 | 11.5 | 11.3 | 10.3 |
| استوګنځی | 20.7 | 11.7 | 12.3 | 7.0 | 3.6 | -12.2 | -13.2 | -13.1 | -13.4 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 3.8 | 3.8 | 4.9 | 6.8 | 6.2 | 13.4 | 13.2 | 12.5 |
| روغتیا | 3.3 | 20.9 | 19.4 | 9.1 | 7.9 | 7.8 | 7.3 | 8.7 | 4.1 |
| ترانسپورټ | 4.7 | -4.4 | -1.9 | 3.2 | 8.0 | 33.3 | 33.2 | 32.1 | 19.4 |
| اړیکې | 1.1 | -0.4 | -1.2 | -0.7 | -0.7 | -0.8 | -2.2 | -4.0 | -5.0 |
| زده کړه | 0.7 | 0.5 | 0.7 | 1.0 | 0.9 | -0.1 | 2.8 | 1.9 | 2.1 |
| تفریح او کلتور | 0.1 | 1.7 | 0.9 | -0.2 | 2.0 | 14.0 | 14.6 | 19.1 | 18.3 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 0.8 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 | 3.1 |
| متفرقه | 1.8 | 2.4 | 0.9 | 2.8 | 5.0 | 4.3 | 7.9 | 3.8 | 5.0 |
| **اصلي انفلاسیون (۲۸ سلنه TM)** | | **3.3** | **3.7** | **3.5** | **4.4** | **5.3** | **5.7** | **6.2** | 4.4 |
| **(کورني انفلاسیون ( د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون)** | | **5.5** | **7.0** | **6.7** | **6.0** | **-1.3** | **-1.3** | **-3.8** | -3.1 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۲.۱. د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص درې میاشتنی پرمختیاوې

د کلني بدلونونو برعکس، د کابل د مصرفي توکو د بیې د شاخص درې میاشتني بدلونونه د ۲۰۱۴ کال په وروستۍ ربعه کې زیاتې شوي دي. د احصائیې د مرکزي ادارې د شمېرو پر بنسټ، د انفلاسیون عمومي نرخ د تیرې ربعې د ۰.۳ سلنې په پرتله د ۱۳۹۳ کال په څلورمه ربعه کې ۱.۶ سلنې (ربع په ربع) ته لوړ شوی دی چې اصلي لامل یې د خوراکي توکو

د بيو زياتوالی ګډل کيږي. د ټولو برخو په منځ کې، د سبزيجاتو بيې د تيرې ربعې د ۱۱.۰ سلنه ديفلاسيوني نرخ په پرتله په څلورمه ربعه کې ۱۸.۲ سلنې ته (ربع په ربع) زياتې شوې دي. د خوراکي توکو نورې فرعي برخې بيا متفاوته بدلونونه ښکاره کوي.

د خوراکي توکو د لوړې بيې له امله رامنځ ته شوي فشارونه تر يوه بريده پورې د ناخوراکي توکو په بيو کې د مناسبو بدلونونو له امله جبران شوي دي.

د مصرفي توکو د بيې د شاخص د ټوکرۍ دا برخه د تيرې ربعې په پرتله د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته رسيږي، حال دا چې د دريمې ربعې د ۰.۵ سلنې په پرتله راټيټه شوې ده.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د نا خوراکي توکو د انفلاسيون د راټيټيدو مهم لامل د ټرانسپورټ د لګښت کموالی دی.

۶.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بيې شاخص(ربعه په ربعه)




**۴.۳ جدول: د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې د هرې ربعې بدلونونه**

(د هرې ربعې د بدلونونو سلنه)

( د ۲۰۰۱ مارچ=۱۰۰)

| | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دويمه ربعه | دريمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دويمه ربعه | دريمه ربعه | څلورمه ربعه |
| عمومي شاخص | **0.9** | **1.5** | **0.3** | **3.9** | **-3.8** | **1.0** | **0.3** | **1.6** |
| خوراکي توکي او څښاک | **0.4** | **2.0** | **0.1** | **7.0** | **-1.2** | **-0.2** | **0.0** | **3.3** |
| وړه او حبوبات | -0.4 | 4.9 | 3.2 | 2.4 | -2.8 | 2.0 | 5.1 | -1.1 |
| غوښه | 5.1 | -2.6 | -0.8 | 2.5 | -0.5 | -2.5 | 4.4 | 1.3 |
| شېدې، پنير او هګۍ | -1.7 | -4.9 | 3.5 | 5.7 | 2.0 | -1.5 | 2.5 | 3.0 |
| غوړي او شحميات | -0.7 | 0.7 | 1.3 | -0.2 | -2.6 | -1.6 | -0.8 | -0.6 |
| تازه او وچه ميوه | 5.4 | 2.9 | -3.2 | -2.7 | 9.9 | 5.1 | -4.5 | 2.3 |
| سبزيجات | -2.6 | 3.4 | -5.3 | 36.2 | -6.6 | -3.9 | -11.0 | 18.2 |
| بوره او خواږه توکي | -6.1 | 0.9 | 2.3 | 1.7 | -5.2 | -5.6 | 6.0 | 0.0 |
| آچار، ترشي او .. | -0.3 | 2.2 | -0.2 | 3.0 | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 |
| غير الکولي مشروبات | 0.9 | 2.9 | 1.8 | 0.9 | 2.0 | -2.6 | 2.3 | 1.5 |
| غير خوراکي توکي | **1.2** | **1.2** | **0.4** | **1.8** | **-5.6** | **1.9** | **0.5** | **0.3** |
| تمباکو | 1.0 | 5.4 | 2.2 | 1.4 | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 |
| پوښاک | 0.3 | 1.8 | 0.1 | 3.6 | 2.2 | 5.2 | -0.1 | 2.6 |
| استوګنځی | 1.5 | 1.3 | -0.3 | 1.0 | -14.0 | 0.1 | -0.1 | 0.6 |
| فرنيچر او کورني توکي | 2.0 | 1.3 | 1.5 | 1.9 | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 |
| روغتيا | 1.7 | 1.3 | 2.4 | 2.3 | 1.6 | 0.8 | 3.7 | -2.0 |
| ترانسپورټ | -1.3 | 0.5 | 2.6 | 6.1 | 21.9 | 0.5 | 1.7 | -4.1 |
| اړيکې | 0.0 | -0.7 | -0.1 | 0.1 | -0.1 | -2.1 | -1.9 | -1.0 |
| تفريح او کلتور | 2.0 | -0.8 | 1.0 | -1.2 | 1.0 | 2.0 | 0.1 | -1.1 |
| زده کړه | 2.0 | -0.9 | -0.3 | 1.1 | 14.0 | -0.3 | 3.6 | 0.5 |
| ريستورانتونه او هوټلونه | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 0.8 | 2.9 | -2.0 |
| متفرقه | 1.1 | -0.2 | 1.9 | 2.2 | 0.4 | 3.2 | -1.9 | 3.3 |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت د کارکوونکو محاسبه

## ۲ـ د سیمې د انفلاسیون بهیر

دا برخه، د سیمې په اقتصادونو کې د بیو د عمومي کچې وروستي بدلونونه او د افغانستان پر اقتصاد باندې د هغه اغیزې رانغاړي.

د ۲۰۰۸– ۲۰۰۹ کلونو مالي کړکیچ د اغیزو له امله د کمزوره اقتصادي کړنو وروسته د سویلي آسیا هېوادونو په ۲۰۱۴ کال کې د کورنی ناخالصه تولیداتو مطلوبه وده تجربه کړې ده. له بلې خوا، په سیمه کې د انفلاسیون نرخ تر ارزوني لاندې ربعه کې د پام وړ راټیټ شوی دی. د افغانستان عمده سوداګریز شریکانو؛ پاکستان او هند تر کتنې لاندې دوره کې د انفلاسیون ټیټ نرخ تجربه کړی چې له امله یې په افغانستان کې د وارداتو بیې په ځانګړې توګه د سونګ موادو او خوراکي توکو په برخه کې لوړې شوي دي.

### ۱.۲ په پاکستان کې انفلاسیون

پاکستان په ۲۰۱۴ کال کې پریمانه کرنیز محصولات ترلاسه کړې. د سپتمبر په میاشت کې له ویجاړونکو سیلابونو سره بیا هم د پاکستان د غنمو تولیزه محصولات شاوخوا ۲۵.۳ ملیونه ټنه اټکل شوي چې د ۲۰۱۳ کال د ۲۴ میلیونو ټنو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د وریجو تولیدات هم د قناعت وړ دي، خو کچه یې له ۲۰۱۳ کال څخه لږه ټیټه ده. له همدې امله، د مصرفي توکو د بیو شاخص د خوراکي توکو فرعي شاخص د ارزوني لاندې دوره کې ټیټېدونکی بهیر ښکاره کوي. همدا ډول د نفتو د نړیوالو بیو د ټیټېدو له امله په پاکستان کې د ناخوراکي توکو فرعي شاخص راټیټ شوی دی.

د ۲۰۱۴ کال د څلورمې ربعې په پای کې، د پاکستان عمومي انفلاسیوني نرخ د تیر کال د ۹.۲ سلنې په پرتله ۴.۳ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د خوراکي توکو فرعي شاخص، د نا خوراکي توکو د شمېرو په پرتله د پام وړ ټیټوالی مونډلی دی. د خوراکي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۴ کال په ډیسمبر میاشت کې ۳.۴ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د ۹.۳ سلنې په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، نا خوراکي توکو د ارزونې لاندې ربعې په پای کې ۴.۹ سلنه ټیټ نرخ ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۹.۱ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.



۷.۳ ګراف: په پاکستان کې انفلاسیون

### ۲.۲ په هند کې انفلاسیون

په هند کې د ۲۰۱۳– ۲۰۱۴ کلونو په اوږدو کې د پولي سیاست د ټینګښت او د ټکټانې د نرخونو د لوړېدو په پایله کې د بیو په عمومي کچه باندې فشارونه راکم شوي دي. له څو کلونو دوه رقمي شمېرو وروسته، عمومي انفلاسیون د ۲۰۱۳ کال له پای څخه تر ۲۰۱۴ کاله پورې یو رقمي شمېرې ته راټیټ شوی دی. د ۲۰۱۳ کال په ډیسمبر کې د انفلاسیون عمومي نرخ ۹.۲ سلنه ؤ، په داسې حال کې چې یو کال وروسته ( د ۲۰۱۴ په ډیسمبر کې)، د انفلاسیون نرخ ۵ سلنې ته ورسیده چې د هندوستان د ریزرف بانک (RBI) لخوا له ۶ سلنه ټاکل شوې کچې څخه ټیټ دی.

که څه هم، د خوراکي توکو د بيو له امله په عمومي انفلاسيون باندې فشارونه زيات شوي دي، خو د کاليو او نفتو ټيټو بيو دا اغيزې/فشارونه جبران کړي چې له امله يې د عمومي انفلاسيون نرخ راټيټ شوی دی.

۸.۳ ګراف: په هند کې انفلاسيون




## ۳. د انفلاسيون لنډ مهاله ليد لوری

د خالصه وررودونکي هېواد په توګه، افغانستان لپاره اړينه ده چې په دواړو نړيواله او سيمه ايزه کچه د توکو په بيو کې پرمختياوې په غور سره وڅيړي.

د نفتو او سوداګريزو توکو د بيو د اوسنی کچې او همدا ډول په نړيواله کچه د پريمانه کرنيزو محصولاتو په پام کې نيولو سره تمه کيږي چې په ۲۰۱۵ کال کې د انفلاسيون نړيوال نرخ ډېر راټيټ شي چې په پايله کې به يې د سويلي آسيا سيمه د دې مودې په اوږدو کې د انفلاسيون له ټيټ نرخ څخه برخمنه شي. د دې سيمې د انفلاسيون نرخ په ۲۰۱۵ کال کې ۲.۶ سلنه اټکل شوی په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې ۳.۱ سلنه ؤ.

تمه کيږي چې د افغانستان د مصرفي توکو د بيې شاخص به د ۲۰۱۵ کال د لومړيو شپږو مياشتو په اوږدو کې ټيټېدونکی بهير ولري. د خوراکي توکو د فرعي شاخص د بيو د ټيټېدو بنسټيز لاملونه د خوراکي توکو نړيواله ټيټې بيې او په هېواد کې پريمانه کرنيز محصولات په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې، اټکل کيږي چې د مصرفي توکو د شاخص د ټوکرۍ د نا خوراکي توکو کټګورۍ به په همدې کچه کې پاتې شي.

## ۱.۳ خطرونه

په تيره لسيزه کې، په افغانستان کې د بيو کچه په نړيواله او سيمه ايزه بازارونو کې د بدلونونو په وړاندې شديداً زيان منونکې پاتې شوې ده. په اقتصاد کې د پام وړ پرمختګونو سره اوس هم زموږ هېواد په وارداتي توکو په ځانګړې توګه په خوراکي توکو اتکاء لري. له همدې امله، د برابرونکې لورې هر ډول لاسوهنې او بدلونونه په افغانستان کې د بيو په عمومي کچه باندې اغيز پريږدي.

سربېره پردې، د بهرنيو اسعارو په ځانګړې توګه د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ ټيکاو، په افغانستان کې د توليزه وارداتو په بيو کې د بدلون يو بل لامل ګڼل کيږي.

# ۴

## د بهرني سکتور پرمختیاوې

# ٤
# د بهرني سکتور پرمختیاوي

بهرنی سکتور د ارزوني لاندي دوري کي د جاري حساب د کسر او د پانګي د بهیدني (جریان) د کموالي له امله تر فشار لاندي پاتي دی. د سوداګری کسر ۲۳ سلنه کم شوی چي تمه کیږي نور هم ښه شي. د شته شمېرو پر بنسټ، د جاري حساب کسر د ۱۳۹۲ مالي کال له ۵,۵۹۲.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۳ مالي کال کي ۴,۳۹۲.۸۵ میلیونه ډالرو ته راټیټ شوی دی. تر ارزوني لاندي موده کي د خدمتونو او د صادراتو له لاري د عوایدو د جریانونو له امله د جاري حساب کسر راښکته شوی دی.

نړیواله خالصه زیرمو (NIR) ۵.۹۹ سلنه وده کړي چي د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کي د وارداتو شاوخوا ۱۱ میاشتي رانغاړي.

د افغانستان د بهرنی پوراینې (بدهي) د ونډي نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کي ۸ سلنه راټیټ شوی دی.

## ۱.۴ د ادینو بیلانس

### ۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس

د ارزوني لاندي کال په اوږدو کي د جاري حساب کسر ۴,۳۹۲.۸۵ میلیونه ډالرو ته رسیري چي د ۱۳۹۲ مالي کال د ۵,۵۹۲.۲۶ میلیونه ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۱ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

د تجارتي توکو د سوداګری د ښه کیدو او د خدماتو د جریانونو د زیاتیدو له امله جاري حساب ښه شوی دی. د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کي د صادراتو د عوایدو د زیاتیدو او د وارداتو د لګښتونو د کمیدو له امله د سوداګری کسر ۲۳ سلني ته راټیټ شوی دی.

همدا ډول د خدماتو حساب د بیا رغوني او ټرانسپورټ له سکتور څخه د زیاتو عوایدو په ترلاسه کولو سره لوړ شوی دی.

### ۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس

| | ۱۳۹۱ مالي کال | ۱۳۹۲ مالي کال | ۱۳۹۳ مالي کال |
|---|---|---|---|
| د جاري حساب بیلانس | - 4399.97 | - 5592.26 | - 4392.85 |
| د سوداګری بیلانس | - 5988.25 | -8241.30 | - 6345.32 |
| صادرات | 367.18 | 507.08 | 658.29 |
| واردات | - 6355.43 | -8748.38 | - 7003.61 |
| د خدمتونو حساب | - 71.69 | - 452.67 | -74.83 |
| د عوایدو حساب | 45.53 | 90.10 | 18.53 |
| جاري انتقالات | 1614.43 | 3011.60 | 2008.76 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴. پانګه ایز او مالي حسابونه

د پانګي په حساب کي د ډېریدني(مازاد) د کموالي اصلي لامل د دولت لخوا د پانګې په لیږدونو کي ټیټوالي په ګوته شوی دی. د پانګي د حساب خالصه جریان په ۱۳۹۳ مالي کال ۱,۶۲۲.۱۱ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی دی چي د ۱۳۹۲ مالي کال د ۲,۵۷۸.۲۷ میلیونه ډالرو په پرتله کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول د مالي حساب د اداینو بیلانس (BOP) چې د خالصه مالي شتمنیو او پوراینو د خالصه ګټې او زیان ترڅنګ په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۳۲ سلنه ډېریدنه (مازاد) ښکاره کوي. (۲.۴ جدول او ۲.۴ ګراف)

د دې ډول ډېریدنې اصلي لامل د هېواد په شتمنه ایزه زېرمو کې د پام وړ زیاتوالی دی. همدا ډول د شمېرو شننه ښکاره کوي چې په بهر کې د هېواد د مالي شتمنیو کچه ۲۱۴ سلنه راټیټه شوې ده په داسې حال کې چې تولیزه مالي پوراینې تر کتنې لاندې کال کې ۳۲۷ سلنې یعنې له ۴۲.۲۹ میلیونه ډالرو څخه ۹۵.۸۶– میلیونه ډالرو ته راښکته شوې دي چې لامل یې په هېواد کې د نا امنۍ له کبله لږ مالي جریان ښودل شوی دی.

**۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه**

| | ۱۳۹۱ مالي کال | د ۱۳۹۲ مالي کال | د ۱۳۹۳ مالي کال |
|---|---|---|---|
| پانګه ایز او مالي حسابونه | 623.15 | 2357.22 | 1357.63 |
| پانګه ایز حساب | 1604.16 | 2578.27 | 1622.11 |
| پانګه ایزې لیږدونې (انتقالات) | 1625.25 | 2588.18 | 1655.49 |
| مالي حساب | - 981.01 | - 221.05 | - 264.48 |
| شتمنه ایزه زېرمې | - 687.09 | - 273.89 | - 361.66 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه



۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حساب

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۱.۴ بهرنۍ مستقیمه پانګونه(FDI)

د شته شمېرو له مخې، د بهرنۍ مستقیمو پانګونو (FDI) بهیدنې (ورود) د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې ۴۲.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۴۸.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۱۱ سلنه کموالی موندلی دی.

د بهرنۍ مستقیمې پانګونې **(FDI)** په بهیدنې کې د دې ټیټوالي عمده لامل په هېواد کې د امنیتي او سیاسي نا ډاډمنتیا له امله د پانګوالو بې باوري ښودل شوې ده. ۳.۴ ګراف په ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ مالي کلونو کې د بهرنۍ مستقیمو پانګونو بهیدنې ښکاره کوي.



۳.۴ ګراف: بهرنۍ مستقیمې پانګونې

سرچینه: د افغانستان بانک، د پولي سیاست لوی آمریت/ بهرنۍ سکتور

### ۲.۴ د توکو سوداګري( د مال التجاره/ سوداګری)

د توکو د سوداګرۍ شمېرې ښکاره کوي چې د مال التجاره د سوداګرۍ د کسر واټن په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۶,۶۷۳.۷۵ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۸,۸۳۹.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د سوداګرۍ دا کسر په ۱۳۹۳ مالي کال کې د کورنۍ ناخالصه تولیداتو نژدې ۳۱ سلنه جوړوي.

**۱.۲.۴ واردات**

د تجارتي توکو (د مال التجاره) د سوداګرۍ د احصائیې له مخې، د توکو د ټولیزه وارداتو لګښت د ۱۳۹۲ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۳ مالي کال کې راکم شوی دی. د توکو د ټولیزه وارداتو لګښت د دریو مهمو وارداتي کټګوریو په څانګړې توګه (۱) د تیلي او روغني موادو له امله راکم شوی دی چې کچه یې د ۱۳۹۳ مالی کال په اوږدو کې ۱,۱۵۵.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي او د ۱۳۹۲ مالي کال د ۲,۱۶۷.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. (۲) همدا ډول صنعتي مواد د ۳۲ سلنه کمښت په درلودلو سره له ۱.۲۷۲.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۸۶۳.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي. (۳) پانګه ایزه توکي په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲,۹۲۹.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۳,۹۵۷.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د توکو د ټولیزه وارداتو لګښت تر ارزونې لاندې کال کې ۷,۲۹۴.۶۳ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ کال د ۹,۳۳۹.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۲ سلنه راټیټ شوی دی. بلې خوا ته، د مصرفي توکو د وارداتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲,۳۴۵.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱,۹۴۲.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه وارداتو کې د مصرفي توکو ونډه په ۱۳۹۳ مالي کال کې له ۲۰.۸ سلنې څخه ۳۲.۲ سلنې ته زیاته شوې ده.

برعکس، په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو (نفتي موادو) ونډه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې له ۳۲.۲ سلنې څخه ۱۵.۸ سلنې ته راښکته شوې ده او په ټولیزه وارداتو کې د پانګه ایزه توکو او نورو ونډه له ۴۲.۴ سلنې څخه ۴۰.۲ سلنې ته په ترتیب سره راټیټه شوې ده.

په هر حال، په ټولیزه وارداتو کې د پانګه ایزه توکو او صنعتي موادو د ونډې د کمیدو لامل د اقتصادي ودې کموالی دی.

**۲.۲.۴ صادرات**

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د صادراتو د کچې د زیاتیدو مهم لاملونه د افغانستان له سوداګریزو شریکانو سره د سوداګریزو اړیکو زیاتیدل، د مناسبې هوا له امله پریمانه حاصلات او د ټرانسپورټي اسانتیاوو زیاتیدل په ګوته شوي دي.

همدا ډول له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۶۲۰.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ثبت شوې ۴۹۹.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، د صادراتو ټولو کټګوریو په ۱۳۹۳ مالي کال کې لوړیدونکی بهیر درلود. تازه او وچه میوه او طبي نباتات په ټولیزه صادراتو کې په ترتیب سره شاوخوا ۴۴ سلنه او ۳۴.۲ سلنه ونډه ښکاره کوي چې له امله یې په ۱۳۹۳ مالي کال کې ټولیزه صادرات په بنسټیزه توګه ښه شوي دي.

د خوراکي توکو د صادراتو عواید په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲۷۲.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱۷۵.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵۵ سلنه د پام وړ زیات شوي دي.

د طبي بذرونو او د نورو صادراتو عواید د ۱۹ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲۱۲.۳۶ میلیونه ډالرو

ته رسیږي، حال دا چې په ۱۳۹۲ مالي کال کې یې کچه ۱۷۸.۸۶ میلیونه ډالرو ته رسیده.

د غالیو او ټغرونو د صادراتو عواید ۲ سلنه زیات شوي دي. همدا ډول د خرمنو او وړیو د صادراتو عواید ۴۹.۳۵ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۵۹.۵۴ میلیونه ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه راکم شوي دي.

۳.۴ جدول له ۱۳۸۹ کال څخه د ۱۳۹۳ مالي کال تر پای پورې د تجارتي توکو د سوداګرۍ مهمې کټګورۍ ښکاره کوي.



۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس
په میلیون ډالر

## ۳.۴ جدول: د تجارتي توکو سوداګري ( په میلیون ډالر)

| | ۱۳۸۹ | | ۱۳۹۰ | | ۱۳۹۱ مالی کال | | ۱۳۹۲ مالی کال | | ۱۳۹۳ مالی کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) |
| واردات | 5,154.31 | 100% | 6,388.37 | 100% | 6,419.67 | 100% | 9,339.60 | 100% | 7,294.63 | **100%** |
| صنعتي مواد | 602.48 | 11.7% | 614.77 | 9.6 % | 969.88 | 15.1% | 1272.14 | 13.6% | 863.19 | 100% |
| تیل او روغنیات | 1,022.66 | 19.8% | 2,184.59 | 34.2% | 1083.65 | 16.9% | 2167.37 | 23.2% | 1155.94 | 11.8% |
| مصرفي توکي | 803.67 | 15.6% | 857.38 | 13.4% | 1255.48 | 19.6% | 1942.85 | 20.8% | 2345.86 | 15.8% |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | 2,725.50 | 52.9% | 2,731.63 | 42.8% | 3,111 | 48.5% | 3957.24 | 42.4% | 2929.64 | 32.2% |
| صادرات | 388.37 | 100% | 375.03 | 100.0% | 261.63 | 100% | 499.81 | 100% | 620.88 | 40.2% |
| غالی او ټغر | 68.83 | 18% | 46.60 | 12.4 % | 8.4 | 3.2 % | 85.49 | 17.1% | 87.04 | 100% |
| خوراکي توکي | 156.35 | 40% | 133.39 | 35.6% | 104.23 | 39.8% | 175.92 | 35.2% | 272.13 | 14.0% |
| خرمن او وړی | 53.84 | 14 % | 28.07 | 7.5 % | 26.82 | 10.3% | 59.54 | 11.9% | 49.35 | 43.8% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 109.35 | 28 % | 166.97 | 44.5 % | 122.15 | 46.7% | 178.86 | 35.8% | 212.36 | 7.9% |
| د سوداګرۍ بیلانس | - 4,765.94 | | -6,013.34 | | -6,158.04 | | -839.79 | | - 673.75 | 34.2% |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | -28% | | -33% | | -31% | | -43% | | -31% | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۴ د سوداګرۍ لوری

تر ارزوني لاندې کال کې، د افغانستان د صادراتو عمده هیوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د مشترک المنافع (ګډو ګټو) خپلواکه هیوادونه (CWS) ؤ.

د توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، پاکستان د نورو صادراتي هیوادونو په منځ کې د ۳۴.۲۴ سلنې ونډې په درلودلو سره لومړی مقام درلود (۴.۴ او ۵.۴ جدولونه).

پاکستان ته د افغانستان د صادراتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کې ۲۱۲.۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته ورسیده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۲۰۱.۱۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۶ سلنه زیاته شوي ده. پاکستان ته د صادراتي توکو ستره برخه غالي او ټغرې، تازه او وچې میوې، مالوچ، طبي بذرونه او داسې نور توکي جوړوي. پاکستان ته د خوراکي توکو لکه د وچې او تازه میوې د صادراتو کچه ۶۱.۴ میلیونه امریکایي

ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د۴۱.۹۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۶ سلنه چټک زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې پاکستان ته د غالیو او ټغرونو د صادراتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۶۱.۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښیي.

هند، د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هېوادونو په منځ کې د ۲۴.۶۵ سلنې ونډې په درلودلو سره دویم ستر مقام لري. له افغانستان څخه هند ته د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۱۵۳.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۹۴.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۶۲ سلنه زیاتوالی لري. هند ته د ټولیزه صادراتو د زیاتیدو اصلي لامل د څرمنو او وړیو، د تازه او وچو میوو او د طبي بذرونو زیاتوالی په ګوته شوی دی.

ایران، د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هېوادونو په منځ کې د ۶.۵۹ سلنې ونډې په درلودلو سره دریم مقام لري. ایران ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۴۰.۸۹ ملیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۸.۸۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ایران ته د ټولیزه صادراتو ستره برخه وچه میوه، تیلي بذرونه او طبي بذرونه جوړوي.

چین د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د شاوخوا ۵ سلنې ونډې په درلودلو سره د افغانستان د صادراتو لپاره څلورم ستر هېواد دی. چین ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه ۳۱.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱۸.۶۰ ملیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۸ سلنه لوړه شوې ده.

همدا ډول، د افغانستان د صادراتو لپاره د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) د نورو هېوادونو په منځ کې د کابو ۴.۹ سلنې ونډې په درلودلو سره وروستی ستر ځای لري. د ګډو ګټو هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو کچه د تیر کال له ۲۷.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې کال کې ۳۰.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته یعنې ۹ سلنه زیاته شوې ده.

**۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری- د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه ( میلیون امریکایي ډالر)**

| | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګری بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 212.61 | 34.24% | 1360.89 | 18.66% | -1148.28 |
| هند | 153.05 | 24.65% | 117.32 | 1.61% | 35.73 |
| ایران | 40.89 | 6.59% | 1424.21 | 19.52% | -1383.32 |
| جرمني | 18.56 | 2.99% | 76.47 | 1.05% | - 57.91 |
| چین | 31.32 | 5.04% | 824.13 | 11.30% | - 792.81 |
| انګلستان | | 0.00% | 5.73 | 0.08% | - 5.73 |
| سعودي عربستان | 0.43 | 0.07% | | 0.00% | 0.43 |
| د امریکا متحده ایالات | | 0.00% | 78.13 | 1.07% | -78.13 |
| د ګډو ګټو هېوادونه(CIS) | 30.22 | 4.87% | 1739.20 | 23.84% | -1708.98 |
| جاپان | | 0.00% | 216.27 | 2.96% | - 216.27 |
| نور هېوادونه | 133.80 | 21.55% | 1452.31 | 19.91% | -1318.51 |
| مجموعه | 620.88 | 100% | 7,294.66 | 100% | (6,673.78) |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۵.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری- د ۱۳۹۲ کال لومړی نیمایي ( میلیون امریکایي ډالر)**

| | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګری بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 201.16 | 40.25 % | 1760.72 | 18.85 % | -1559.56 |
| هند | 94.48 | 18.90 % | 148.38 | 1.59 % | - 53.90 |
| ایران | 28.82 | 5.77 % | 1613.17 | 17.27 % | - 1584.35 |
| جرمني | 6.71 | 1.34 % | 254.73 | 2.73 % | - 248.02 |
| د ګډو ګټو هېوادونه (CIS) | 27.64 | 5.53 % | 2476.90 | 26.52 % | - 2449.26 |
| چین | 18.60 | 3.72 % | 392.29 | 4.20 % | - 373.69 |
| سعودي عربستان | 0.46 | 0.09 % | | 0.00 % | 0.46 |
| جاپان | | 0.00 % | 58.21 | 0.62 % | - 58.21 |
| انګلستان | | 0.00 % | 13.22 | 0.14 % | - 13.22 |
| د امریکا متحده ایالات | | 0.00 % | 74.92 | 0.80 % | - 74.92 |
| نور هېوادونه | 121.94 | 24.40 % | 2547.11 | 27.27 % | - 2425.17 |
| مجموعه | 499.81 | 100.00% | 9339.65 | 100.00 % | - 8839.84 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (دونډې سلنه)
د ۱۳۹۳ مالي کال




۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (دونډې سلنه)
د ۱۳۹۲ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۴: د سوداګرۍ ترکیب

۷.۴ او ۸.۴ ګرافونه د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ مالي کلونو ترمنځ د افغانستان د وارداتي توکو د ترکیب پرتلیزه انځور وړاندې کوي. د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې د پانګه ایزه توکو واردات د وارداتو په توکرۍ کې تر ټولو ستره برخه جوړوي، سره له دې چې ونډه یې له ۴۲.۴ سلنې څخه د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې ۴۰.۲ سلنې ته راکمه شوې ده. په ټولیزه واردتو کې د پانګه ایزو توکو د واردولو لګښت په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲،۹۲۹.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۳.۹۷۵.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په ۱۳۹۳ مالي کې دویمه لویه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده، چې کچه یې د ۱۳۹۲ مالي کال له ۲۰.۸ سلنې څخه ۳۲.۲ سلنې ته زیاته شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د مصرفي توکو د واردولو لګښت په ۱۳۹۳ مالي کال کې د شاوخوا ۳۲.۲ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲،۳۴۵.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۲۱ سلنې ونډې په پرتله زیاتوالی لري.

د دې زیاتوالي عمده لامل بهرنیو توکو لپاره کورنۍ لوړه تقاضا ده چې د ټاکلو خوراکي توکو لپاره یې ارزونې لاندې کال کې د لګښت کچه زیاته کړې ده.

په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو (نفتي موادو) د واردولو لګښت په ۱۳۹۳ مالي کال کې د ۱۵.۸ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱۱،۵۵.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۲۳.۲ سلنې ونډې یا ۲،۱۶۷.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله کابو ۴۷ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د صنعتي موادو کچه چې د وارداتو د توکرۍ په وروستي ردیف کې راځي، له ۱۳.۶ سلنې څخه ۱۱.۸ سلنې ته راټیټه شوې ده. د صنعتي موادو د ټولیزه وارداتو د واردولو لګښت تر ارزونې لاندې کال کې ۸۶۳.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۲۷۲.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۳۲ سلنه لږ شوی دی.

د صنعتي موادو لکه فلزونه، کیمیاوي سره یا پارو، کیمیاوي مواد او سیمنټو عرضه، د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله په ټول هېواد کې د پرمختیایي پروژو په شمېر کې د کموالي په پایله کې راکمه شوې ده.

۹.۴ او ۱۰.۴ ګرافونه د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ مالي کلونو ترمنځ د افغانستان د وارداتي توکو د ترکیب پرتلیزه انځور وړاندې کوي.

ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۷۸.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۱۹ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

همدا ډول غالی او تغرونه چې د افغانستان بنسټیز صادراتي توکي ګڼل کیږي، په ۱۳۹۳ مالي کال کې په ټولیزه صادراتو کي دریمه لویه ونډه درلوده.

د غالیو او تغرونو د صادراتو عواید په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۸۷.۰۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸۵.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په هر ترتیب، په ټولیزه صادراتو کې د څرمنو او وړیو ونډه تر ارزوني لاندې کال کې له ۱۱.۹ سلنې څخه ۷.۹ سلنې ته راټیټه شوې ده.

۹.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)
۱۳۹۳ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)
۱۳۹۲ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۷.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه )
۱۳۹۳ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه )
۱۳۹۲ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د تجارتي توکو د سوداګرۍ د شمېرو پر بنسټ، خوراکي توکي په ۱۳۹۳ مالي کال کې د ټولیزه صادراتو شاوخوا ۴۳.۸ سلنه تر ټولوستره ونډه درلوده. د خوراکي توکو د صادراتو عواید په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲۷۲.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده چې د تیر کال په پرتله ۵۵ سلنه (کال په کال) زیاتوالی ښکاره کوي چې د خوراکي توکو د کچې د زیاتیدو عمده لامل د تازه او وچې میوې په صادراتو کې د پام وړ یعني په ترتیب سره ۳۹ او ۶۹ سلنه زیاتوالی په ګوته شوی دی.

سره له دې چې طبي نباتات د افغانستان د ټولیزه صادراتو دویمهستره برخه جوړوي خو د ارزوني لاندې کال کې یې ونډه له ۳۵.۸ سلنې څخه ۳۴.۲ سلنې ته راټیټه شوې ده. د طبي نباتاتو د صادراتو عواید په ۱۳۹۳ مالي کال ۲۱۲.۳۶ میلیونه امریکایي

## ۵.۴ بهرنی پوراینې

د افغانستان بهرنی پوراینې (بدهي) د تیر کال په پرتله د ارزونې لاندې کال په پای کې ۸ سلنه یا ۲۱۱.۵۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکمې شوې دي. د ټولیزه بهرنیو پوراینو د ټیټوالي لاملونه د بهرنی سوداګرۍ د پور اداینې، د نړیواله خالصه شتمنیو (NIR) د اماناتو او د برداشت په ځانګړې حقونو (SDR) کې کموالی ګڼل کیږي. د برداشت ځانګړي حقونه (SDR) د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) لخوا ټاکل کیږي. د کورنې ناخالصه تولیداتو د بهرنیو پوراینو نسبت په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۱۱ سلنې ته رسیږي چې کچه یې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله کمه شوې ده.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پرمختیا نړیوالې ټولنې (نړیوال بانک)، د اسلامي پرمختیایي بانک (IDB) او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) ته د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه شوې، په داسې حال کې چې (نړیوال بانک) او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) ته د خدمتونو لګښت تادیه شوی دی.

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د ستر څو اړخیزه پور ورکونکي په توګه د پرمختیا نړیوالې ټولنې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ځینو اصلي پورونو ترځنګ د خدمتونو لګښت هم افغانستان ته بخښلی دی.

افغانستان ته د پاریس کلب د ټولیزه پورونو کچه ۹۳۳.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د روسیې فدراسیون ته ورکول کیدونکي دي. په بله وینا، افغانستان ته کوم پورونه چې د پاریس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنیو پورونو شاوخوا ۴۰.۹ سلنه جوړوي، چې د تیر کال په پرتله نږدې ۳ سلنه کموالی یې موندلی دی.

**۶.۴ جدول: د ۲۰۱٤ کال د ډیسمبر د ۲۱ په پای کې د بهرنیو پوراینو د اجزاوو ویشنه( په ذکر شوي واحدونو کې)**

| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراینې | 2,281.55 | 100.00 |
| دوه اړخیزه | 1,063.14 | 46.60 |
| د پاریس کلب | 933.02 | 40.89 |
| د روسیې فدراسیون | 933.02 | 40.89 |
| متحده ایالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 130.12 | 5.70 |
| څو اړخیزې ټولنې: | 1,218.41 | 53.40 |
| د پرمختیا نړیواله ټولنه ( نړیوال بانک) | 398.42 | 17.46 |
| د آسیا پرمختیایي بانک | 678.06 | 29.72 |
| د پیسو نړیوال صندوق | 94.21 | 4.13 |
| اسلامي پرمختیایي بانک | 45.93 | 2.01 |
| د اوپیک صندوق | 1.79 | 0.08 |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

سربېره پر دې، تولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته له پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه ۱۳۰.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱۳۴.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

افغانستان ته د څو اړخیزو کریډیټونو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۱،۲۱۸.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۳۹۶.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه راټیټه شوې ده.

۱۱.۴ ګراف: د بهرنۍ پوراینې پرتله: د ۱۳۹۲مالي کال څلورمه ربعه او ۱۳۹۳مالي کال څلورمه ربعه




سرچینه: د خزاینو ریاست، د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۶.۴ خالصه نړیواله زېرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۷،۰۷۸.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶،۶۷۸.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله نژدې ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د زیاتیدو عمده لامل د شتمنیو د زېرمو زیاتوالی دی چې د ارزونې لاندې کال کې ۷،۶۴۲.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي او د ۱۳۹۲ مالي کال د ۷،۱۸۳.۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۶.۴۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د پوراینې د زېرمو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۵۶۳.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۵۰۴.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۱.۷ سلنه زیاتوالی ښیي چې دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمې د کچې په پرتله د شتمنیو د زېرمو کچه لوړه ده.

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د پوراینې زېرمې د کچې د زیاتیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات په ګوته شوي چې د تیر کال د ۳۶۷.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۴۶.۶۲ میلیونه امریکایي ډالره ( ۲۱.۸۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه له ۱۳۶.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۱۱۷.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوې ده چې د تیر کال په پرتله یې (۱۴.۴۶ سلنه) ټیټوالی موندلی دی.

په شتمنیو کې د زیاتوالي عمده لاملونه د صادراتو عواید، نړیواله مستقیمه پانګونه، جاري لیږدونې (انتقالات)، په بهرنۍ امانات اخیستونکو شرکتونو کې د بهرنیو اسعارو د اماناتو له کبله عواید او د امنیتي ځواکونو څو ډوله لګښتونه دي.

۱۲.۴ ګراف: د تیرو ربعو په اوږدو کې خالصه نړواله زیرمې (په میلیون ډالر)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی حالت د پولي سیاست د ظرفیت لوړولو او د تادیاتو بیلانس د ملاتړ لپاره یوه ښه متکا چمتو کوي.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په منځنۍ ډول شاوخوا د ۱۱ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال کې چې هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

## ۷.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې، له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۳مالي کال پورې (میلیون امریکایي ډالر)

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۰ | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۱ | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | 5،764.05 | 23.22 | 6،471.94 | 12.28 | 6،678.62 | 3.19 | 7،078.92 | 5.99 |
| د شتمنی زېرمې | 6،130.38 | 22.71 | 6،866.79 | 12.01 | 7،183.33 | 4.61 | 7،642.81 | 6.40 |
| د پوراینې زېرمې | 366.34 | 10.91 | 394.85 | 7.78 | 504.71 | 27.82 | 563.89 | 11.73 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات | 227.72 | 4.00 | 245.00 | 7.59 | 367.65 | 50.06 | 446.62 | 21.48 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانات | 0.11 | -89.57 | 0.11 | 0.00 | 0.14 | 23.87 | 0.14 | 0.00 |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | 138.51 | 17.53 | 149.73 | 8.10 | 136.92 | -8.56 | 117.13 | -14.46 |
| ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 11.52 | | 12.84 | | 9.23 | | 12.57 | |
| خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 10.83 | | 12 | | 9 | | 12 | |

# ۵

# د حقیقي سکټور پرمختیاوې

## ۵
## د حقیقي سکتور پرمختیاوې

په تیره لسیزه کې افغانستان د هېواد د بیا رغونې او بیا جوړېدنې لپاره یو ښه فرصت درلوده. له دې وروسته افغانستان په منځني ډول د اقتصادي ودې تر ټولو لوړ نرخ ۹.۴ سلنه ثبت کړ چې په وروستی لسیزه کې بې ساري وده ګڼل کیږي. په منځني ډول د ودې د نرخ له زیاتیدو وروسته افغانستان د اقتصادي ودې د پام وړ ټیټوالی تجربه کړی چې د ۱۳۹۲ مالي کال له ۶.۵ سلنې څخه په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۲.۱ سلنې ته راښکته شوی دی.

د ټولټاکنو د اوږدې پروسې او د سیاسي او امنیتي انتقال له امله د پانګه اچوونکو او مصرفوونکو د باور د کمیدو په پایله کې په ټولیزه تقاضا باندې منفی اغیزې ډېرې شوي دي.

کرنیز محصولات په خپل بالقوه حالت کې پاتي دي؛ د تیر کال له ثبت شوې کچې څخه زیات شوي نه دي. د اوسنیو شاخصونو په پام کې نیولو سره تمه کیږي چې په ۱۳۹۴ کال کې به هم د اقتصادي ودې کچه ټیټه وي.

د کرنې سکتور په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۳.۷ سلنه (کال په کال) وده کړې ده چې د تیر کال د ۸.۳ سلنې ودې په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول ناکرنیز سکتورونه په ۱۳۹۳ مالي کال (تر ارزونې لاندې کال)کې د ودې ټیټ نرخونه درلوده. د صنعت سکتور د کلنۍ ودې نرخ ۲.۴ سلنه ثبت شوی او د خدماتو سکتور ۲.۲ سلنه وده کړې چې د تیر کال د ۴.۵ او ۶.۴ سلنې ودې په پرتله ټیټ شوی دی.

### ۱. کورني ناخالصه تولیدات (GDP) د تولیدی سکتور پر اساس

په ۱۳۹۳ کال کې (۲۰۱۴ – ۱۵ ) اقتصادي ودې د پام وړ ټیټوالی موندلی چې د دې ټیټوالي اصلي لامل د سیاسي او امنیتي انتقال له امله د ناډاډمنتیا په پایله کې د ناکرنیز سکتور د پام وړ کموالی په ګوته شوی دی.

واقعي کورني ناخالصه تولیدات په ۱۳۹۳ کال کې ۲.۱ سلنه اټکل شوي دي چې د ۱۳۹۲ کال د ۶.۵ سلنې په پرتله چټک ټیټوالی ښکاره کوي. د خدمتونو، تولیدي او بیارغونې د سکتورونو په شمول د نا کرنیزو سکتورونو وده د پام وړ راکمه شوې ده چې د دې کموالي اصلي لامل د ناډاډمنتیا له امله د پانګه اچونو ټکنی بهیر او د مصرفوونکو بې باوري ګڼل کیږي. د ټرانسپورټ او مخابراتو سکتورونه چې د خدماتو د سکتور مهمې برخې جوړوي د ارزونې لاندې موده کې ټیټه وده درلوده.

د کرنیز سکتور کړنې د قناعت وړ دي، خو د ۲۰۱۲ کال د ثبت شوې کچې په پرتله کمې شوي دي. همدا ډول د افغانستان اقتصاد اوس هم په کرنیز سکتور باندې ولاړ دی چې په دې برخه کې ډېری وګړي په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې رول لوبوي.

له هغه ځایه چې د افغانستان ډېری وګړي په کرنیز سکتور کې په فعالیت بوخت دي، له همدې امله په دې سکتور کې بدلونونه کولای شي د کورني ناخالصه تولیداتو بهیر په شدیده توګه اغیزمن کړي. د پریمانه موسمي بارانونو په پام کې نیولو سره، په ۱۳۹۳ مالي کال کې کرنیز محصولات ۳.۷ سلنه زیات شوي دي، چې د ۱۳۹۲ کال د ودې د نرخ په پرتله راکم شوي دي.

همدا ډول غلې دانې(حبوبات)، تازه او وچې میوې او څاروي د تیر کال په پرتله لوړه وده ښکاره کوي. د تازه میوو په تولیداتو کې د زیاتوالي مهم لامل په ۱۳۹۲ کال کې د بڼوالۍ ښه والی په ګوته شوی دی. له تازه میوو څخه ترلاسه شوي عواید د تیر کال د ۳.۲ سلنې په پرتله ۱۸.۹ سلنې ته زیات شوي دي. د کرنې نورې فرعي برخې ۴.۱ سلنې ته چټک ټیټوالی موندلی دی، په داسې حال کې چې تیر کال یې کچه ۲۵.۶ سلنه وه.

د صنعت سکتور د ودې کچه په ۱۳۹۳ کال کې راښکته شوې ده. د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا د خپرې شویو شمېرو پر بنسټ، دې سکتور په ۱۳۹۳ کال کې ۲.۴ سلنه

(کال په کال) وده کړې ده چې د تیر کال د ۴.۵ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د چاپ او خپرونې له سکتورونو پرته د صنعت د نورو ټولو فرعي سکتورونو د ودې کچې په ۱۳۹۳ مالي کال کې راټیټې شوي دي. د ټولو په منځ کې، منسوجات (نساجي)، د لرګیو محصولات، کیمیاوي مواد، غیر فلزي منرالي مواد او اصلي فلزونه د منفي ودې درلودونکي دي.

همدا ډول خدمتونه چې د کورني ناخالصه تولیداتو ستره برخه جوړوي په ۱۳۹۳ کال کې راکم شوي دي. د احصائیې د مرکزي اداري د شمېرو پر بنسټ، د خدمتونو د سکتور د ودې نرخ (کال په کال) ۲.۲ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۲ کال د ۶.۴ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د نورو په منځ کې، د ټرانسپورټ، زېرمه کونې او د ټولنې، ټولنیزو او شخصي خدمتونو کړنې په ۱۳۹۳ مالي کال کې تر ټولو خرابه شوې وې. د خدمتونو په دې فرعي سکتورونو کې د ودې نرخ په ترتیب سره له ۹.۱ او ۱۲.۹ سلنې څخه منفي ۱.۷ او منفي ۱.۲ سلنې ته ټیټوالی موندلی دی.

په دې برخو کې فشارونه تر یو حده پورې د دولت لخوا د ښو خدمتونو د ترسره کیدو په پایله کې راکم شوي دي. د دې فرعي سکتورونو عواید، د تیر کال د ۴.۲ سلنې په پرتله په ۱۳۹۳ کال کې ۸،۰ سلنې ته زیات شوي دي.

۱.۵ جدول: د سکتورونو له مخې کورني ناخالصه تولیدات (GDP) (د سلنې له مخې)

| | 1391 (2011-12) | 1392 (2013-14) | 1393 (2014-15) |
|---|---|---|---|
| کرنه | 25.39 | 24.67 | 24.32 |
| صنعت | 20.51 | 19.63 | 20.92 |
| خدمتونه | 50.28 | 51.74 | 51.30 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره

**۲.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو لخوا د واقعي کورني ناخالصه تولیداتو وده (د سلنې له مخې)**

| | ۱۳۹۱ (۱۲-۲۰۱۱) | ۱۳۹۲ (۱۳-۲۰۱۲) | ۱۳۹۳ اټکلیزه (۱۵-۲۰۱۴) |
|---|---|---|---|
| کرنه | 3.2 | 8.3 | 3.7 |
| غلې (حبوبات) | 42.8 | 2.3 | 3.7 |
| تازه میوې | 8.0 | 3.2 | 18.9 |
| وچې میوې | 2.0 | - 27.3 | - 26.2 |
| څاروي (کورنی ژوي) | 0.4 | - 1.7 | 0.1 |
| نور | -19.1 | 25.6 | 4.1 |
| **صنعت** | 7.8 | 4.5 | 2.4 |
| کان او کان کیندنې | - 1.1 | - 1.8 | - 2.2 |
| تولیدات | 7.3 | 1.2 | - 2.5 |
| خوراکي توکي، څښاک او تمباکو | 5.1 | 1.2 | 0.7 |
| منسوجات(نساجي)، پوښاک او څرمن | 1.1 | 0.4 | - 35.7 |
| د فرنیچر په شمول لرګي او د لرګیو تولیدات | 4.9 | 3.7 | - 25.2 |
| کاغذ، د کاغذونو تولید، چاپول او خپرول | 4.1 | 7.7 | 9.2 |
| کیمیاوي مواد، پترولیم، ډبرو سکاره، ربړ او پلاستیک | - 4.6 | 0.7 | - 16.2 |
| د پترولیم او ډبرو سکارو پرته نا فلزي منرالي مواد | 7.0 | 4.6 | - 26.1 |
| اصلي فلزونه | 755.7 | 5.9 | -76.9 |
| برېښنا، غاز او اوبه | 4.3 | 15.6 | 2.7 |
| بیا رغونه | 8.9 | 8.0 | 7.0 |
| **خدمتونه** | 16.0 | 6.4 | 2.2 |
| غونډ(عمده) پلورنه او پرچون پلورنه، ریسټورانټونه او هوټلونه | 25.0 | 0.4 | - 1.2 |
| غونډ پلورنه او پرچون پلورنه | 27.0 | - 1.5 | - 2.9 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 12.8 | 13.6 | 9.2 |
| ټرانسپورټ، زېرمې او مخابرات | 20.6 | 11.9 | 1.8 |
| ټرانسپورټ او زېرمې | 28.1 | 9.1 | -1.7 |
| پُست او پُسي مخابرات | 9.0 | 17.0 | 7.8 |
| مالي چارې، بیمه، املاک او سوداګري | 3.8 | - 10.9 | - 7.2 |
| مالي چارې | 2.9 | -11.3 | - 7.4 |
| بیمه | 68.3 | 2.3 | 2.3 |
| املاک یا جایدادونه او د سوداګرۍ خدمتونه | 3.4 | - 8.3 | - 4.5 |
| مالکیت او استوګنځایونه | 7.0 | - 6.3 | - 2.4 |
| د ټولنې، ټولنیز او شخصي خدمتونه | 13.3 | 12.9 | - 1.2 |
| دولتي خدمتونه | 11.6 | 4.2 | 8.0 |
| نور خدمتونه | - 14.8 | 4.8 | - 0.6 |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره**

*** لومړنی شمېرې**

## ۱.۱ کورني ناخالصه تولیدات د لګښتونو د کټګوریو پر اساس

دکورني ناخالصه تولیداتو د محاسبې یو تر ټولو دودیزه طریقه د لګښتونو روش دی چې ډېری پر بازار ولاړ اقتصادونو لخوا کارول کیږي. په افغانستان کې د تولید د میتود د عواملو ترځنګ د لګښتونو له روش څخه هم کار اخیستل کیږي چې د دولت او خصوصي سکتور مصرف، د پانګونو او خالصه صادراتو لګښتونه ښکاره کوي.

په ۱۳۹۳ کال کې د کورني ناخالصه تولیداتو د ټیټې ودې اصلي لامل د تیر کال په پرتله په خصوصي لګښتونو کې نسبتاً کم زیاتوالی ګڼل کیږي. د ټولیز مصرف دا کټګوری په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې سالمه ونډه رانغاړي. د احصائیې د مرکزي اداري لخوا وروستی خپرې شوې شمېرې په خصوصي لګښت کې ۰.۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د تیر کال د ۵.۶ سلنې په پرتله یې د ودې نرخ راټیټ شوی دی.

په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې د دولت د لګښت رول هم ډېر مهم دی. د خصوصي سکتور د لګښت پر وړاندې د دولت لګښت ( د ۱۳۹۲ کال له ۶.۳ سلنې څخه په ۱۳۹۳ کال کې ۷.۶ سلنې) ته لوړ شوی دی.

د خصوصي سکتور د لګښت په څیر، ثابته ناخالصه پانګونې هم د تیر کال په پرتله د ودې ټیټ نرخ ښکاره کوي. د کورني ناخالصه تولیداتو دې برخې په ۱۳۹۳ کال کې ۷.۱ سلنه وده ثبت کړې چې د تیر کال د ۱۲.۲ سلنې ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۳ کال کې د پانګونې په کچه کې د پام وړ ټیټوالي اصلي لامل په هیواد کې د ناډاډمنتیا زیاتوالی ښودل شوی دی.

له بلې خوا، د سوداګرۍ د کسر ټیټېدنه د اقتصاد لپاره یو ښه خبر دی. سره له دې چې د سوداګرۍ کسر لوړ دی خو تمه کیږي چې محدود یعني راکم شي. د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۳ کال کې ۶.۴ سلنه وده کړې ده چې د تیر کال د ۲۴.۹ سلنې په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، ټولیزه وارداتو د تیر کال د ۶.۹ سلنې زیاتوالي په پرتله په ۱۳۹۳ کال کې ۵.۹ سلنه منفي وده ثبت کړې ده چې له امله یې سوداګریز کسر ۷.۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

۱.۵ ګراف: د لګښت له مخې د کورني ناخالصه تولیداتو کلنی وده (۱۳۹۳)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره

۲.۵ ګراف: په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې د سکتورونو ونډه



۳.۵ جدول: د لګښت د کټګوريو له مخې اسمي کورني ناخالصه توليدات (کال په کال٪ ۵ )

| کټګوري | ۱۳۹۲ ۲۰۱۳-۱۴ | ۱۳۹۳ اټکليزه (۲۰۱۵-۱۵) |
|---|---|---|
| **د نهايي لګښت ټوليزه مخارج** | 5.7 | 1.8 |
| خصوصي مخارج | 5.6 | 0.9 |
| دولتي مخارج | 6.3 | 7.6 |
| **ثابتې کورنی ناخالصه پانګونې** | 12.2 | 7.1 |
| د ثابتې ناخالصه پانګې جوړښت | 12.2 | 7.1 |
| بيا رغونه | 13.5 | 12.8 |
| دوامداره پانګه ايزه توکي | 1.4 | -44.9 |
| د بيلانس منابع | 4.7 | -7.8 |
| **د توکو او نافکتوري خدمتونو صادرات** | 24.9 | 6.4 |
| د توکو صادرات | 28.8 | 7.4 |
| نا فکتوري خدمتونه | 9.9 | 2.1 |
| **کم شي: د توکو او نافکتوري خدمتونو واردات** | 6.9 | -6.0 |
| د توکو واردات | 5.4 | -6.8 |
| نافکتوري خدمتونه | 23.2 | 2.0 |
| د توکو په موجودی او د معلوماتو په اختلافونو کې بدلونونه | 15.2 | -15.2 |
| **د بازار په نرخ ناخالصه کورني توليدات** | 10.2 | 1.0 |

* لومړنی شمېرې

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره

## ۲. د ۱۳۹۴ کال ليد لوری

تمه کيده چې اقتصادي وده د ۱۳۹۳ کال له ۲.۱ سلنې څخه په ۱۳۹۴ کال کې ۳-۵ سلنې ته لوړه شي. د ۱۳۹۳ کال د چټکه اقتصادي ودې په پام کې نيولو سره، تمه کيږي چې په ۱۳۹۴ کال کې سياسي او امنيتي نا ډاډمنتيا راکمه شي.

د ملي يووالي د حکومت له جوړيدو وروسته مثبتې اقتصادي ودې ته هيلې زياتې شوي دي او تمه کيده چې نوی حکومت به په ادارو کې د سمونونو راوستلو د ژمنتيا تر څنګ د بسپنه ورکوونکو ملاتړ زيات کړي. همدا ډول اټکل کيږي چې په ۱۳۹۴ کال کې به اقتصاد وده وکړي او د انفلاسيون نرخ به د خوراکي توکو او نفتو د نړيواله مطلوبه بيو په مرسته په يو رقمي حد کې پاتې شي.

د دې ترڅنګ د صنعت او خدمتونو سکتورونه به په راتلونکو کلونو کې ښه والی پيدا کړي. د افغانستان نوی دولت ژمن دی څو په هبواد کې پانګونو ته د کورنيو او بهرنيو پانګه والو د هڅونې په موخه اسانتياوې برابرې کړي.

# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ٦
## د بانکي نظام د کړنو ځرنګوالی

د بانکي نظام شتمنی په ۱۳۹۳ مالي کال ( ۲۰۱۴ په ډیسمبر میاشت) کې ۴.۵۰ سلنې یا ۱۱.۰۴ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۲۰۱۳ د ډیسمبر د میاشتې د ۹.۷۸ سلنې ودې په پرتله نسبتاً کمه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل په ټولیزه اماناتو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.
د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو په ۱۳۹۳ مالي کال کې د ۷.۸۹ سلنه یا ۳.۷۱ میلیارده افغانی کموالي په درلودلو سره ۴۳.۲۳ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱۱.۳۳ سلنې ودې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا اداینې، تصفیې او خسارې حساب او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه او په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو اداینه، د کموالي لاملونه ګڼل کیږي.
امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او ارزښت یې ۲۱۸.۸۴ میلیارده افغانی ته رسیږي او د ټولیزه پوراینې په سلو کې ۹۶.۶۰ جوړوي، د تیر کال ( ۲۰۱۳ ډیسمبر) د ۸.۱۰ سلنې زیاتوالي په پرتله ۵.۳۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په اماناتو کې د دې کموالي لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه او پر اقتصاد باندې واکمنه ناډاډمنتیا ګڼل کیږي. د بانکي نظام ډیری امانات په امریکایي ډالرو (۶۲.۶۱ سلنه) او وروسته افغانی امانات ۳۴.۰۸ سلنه دي.
د بانکي نظام افغانی امانات د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشت د ۱۶.۶۲سلنې زیاتوالي پر وړاندې په سلو کې ۱۲.۶۴ درجې زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانات د ۲۰۱۳ کال په ډیسمبر کې د ۵.۲۸ سلنې زیاتوالي په وړاندې په دې کال کې ۱.۱۵ درجې زیات شوي دي.
د بانکي نظام پانګې په څلورمه ربعه کې پیاوړی وضعیت درلود او کچه یې د ۶.۶۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۳۰.۱۷ میلیارده افغانی ته رسیده چې د دې زیاتیدو اصلي لامل د بانکي نظام د ګټورتیا (نافعیت) زیاتوالی دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (Capital Adequacy Ratio-CAR) ۲۶.۴۶ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی.
د بانکي سکتور ګټه د دې کال په اوږدو کې ښه شوې ده چې ۲.۱۷ میلیارد افغانی ته رسیږي او د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د ۱.۴۳ میلیارده افغانی ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۹۰ سلنې او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۷.۳۵ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې د تیر کال په ډیسمبر کې د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۶۱ سلنه او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۸.۱۸ سلنه وه.
د پانګه اچوونکو د پانګې د ترلاسه شوې ګټې د کمیدو لامل د مخارجو د نسبت زیاتوالی په ګوته شوی دی. دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو څانګو د ارزونې لاندې کال له ګټو سره پای ته رسولی دی.
اوس مهال، د افغانستان بانکي نظام له ۱۵ جواز لرونکو بانکونو او د بهرنیو بانکونو له نمایندګیو څخه جوړ دی. د بهرنیو بانکونو یوې نمایندګی خپلې چارې ودرولې او خپل فعالیت یې یو بل خصوصي بانک ته سپارلی دی چې د دې پریکړې لامل په هېواد کې امنیتي اندېښنه ښودل شوې ده.

### ۱. د بانکي نظام شتمنی

د بانکي نظام شتمنی د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د ۹.۷۸ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۰.۴۵۰ سلنه وده ښکاره کوي.( ۱.۶ ګراف)

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه د پانګونې په برخه کې ثبت شوې چې د ارزونې لاندې کال کې ۳.۶۰ میلیارده افغانۍ (۳۱.۵۶ سلنه) زیاتوالی لرې، وروسته په ترتیب سره په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۱۱.۴۴ میلیارد افغانۍ (۱۱.۲۹ سلنه) او نورې ټولې شتمنۍ د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۱.۵۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې نګه (خالصه) پورونه، د بانکونو ترمنځ طلبات او د ټولیزو شتمنیو د ثابتو شتمنیو کټګورۍ په ترتیب سره د ۱۰.۱۵ سلنه یا ۴.۵۵ میلیارده افغانۍ، ۱.۱۴ سلنه یا ۰.۷۸ میلیارده افغانۍ او ۲.۹۸ سلنه یا ۰.۲۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ په افغانستان بانک باندې طلبات (۴۳.۹۳ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۶.۴۹ سلنه) نګه (خالصه) پورونه (۱۵.۶۹ سلنه)، پانګونې (۵.۸۵ سلنه) او "نورې شتمنۍ" (۵.۴۶ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو (۲.۵۷ سلنه) جوړوي. (۱.۶ جدول)

۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پورواینې ترکیب

| | د ۱۳۹۲ لیندۍ<br>د ۲۰۱۳ ډیسمبر | د ۱۳۹۳ لیندۍ<br>د ۲۰۱۴ ډیسمبر | د ټولیزه شتمنیو/ پورواینو سلنه | کال په کال وده |
|---|---|---|---|---|
| شتمنۍ | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | 101,374 | 112,820 | 43.93% | 11.29% |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 68,809 | 68,025 | 26.49% | -1.14% |
| پانګونې | 11,430 | 15,038 | 5.85 % | 31.56% |
| پورونه (خالصه) | 44,834 | 40,281 | 15.69% | -10.15% |
| ثابتې شتمنۍ | 6,797 | 6,594 | 2.57 % | -2.98% |
| نور | 12,507 | 14,037 | 5.46 | 12.23% |
| مجموعه | 245,751 | 256,795 | | 4.50% |
| پورواینې | | | | |
| امانات | 207 822 | 218,847 | 96.57% | 5.31% |
| پور اخیستنې | 5,620 | 3,981 | 1.76% | -29.16% |
| نور | 4,000 | 3,790 | 1.67% | -5.25% |
| مجموعه | 217,442 | 226,618 | | 4.21% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۱.۱ ناخالص پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیر کال راهیسې ۳.۷۱ میلیارده افغانۍ یا ۷.۸۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۸۴ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د پورونو بیا تادیه، تصفیه او د خسارې حساب او په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو په ورکولو باندې محدودیت د کموالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

د پور د پورتوفولیو په ډېرولو کې شپږ بانکونه مخکښه دي، په داسې حال کې چې ۸ بانکونو خپله پورتوفولیو راټیټه کړې ده. همدا ډول پاتې یو بانک ( نوی کابل بانک) د پور ورکولو په برخه کې ونډه نه ده اخیستې.

د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه کمه شوې ده. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ټولیزې پورتوفولیو د ۸۹.۰۶ سلنې ونډې په لرلو سره ۷.۲۲ سلنه یا ۲.۹۹ میلیارده افغانۍ ټیټوالی، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د پورتفولیو د ۲.۱۲ سلنې ونډې په درلودلو سره ۶۲.۶۵ سلنه یا ۱.۵٤ میلیونه افغانۍ ټیټوالی او دولتي بانکونو ۸.۸۱ سلنې ونډې په درلودلو سره۲۷.۸۷ سلنه یا ۰.۸۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه




### ۱.۱.۱. د پور د زیان زیرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زیرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړي تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي.

د ۲۰۱٤ میلادي کال د ډیسمبر ( د ۱۳۹۳ د لیندۍ) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زیرمې د تیر کال د ۴.۴۸ سلنې په پرتله د ټولیزه ناخالصه پورونو۶.۸۳ سلنه جوړوي.

### ۲.۱.۱. د کریډټ وېشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی ومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسي زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی.[۳] د سکتور له پراخې تجزیې څخه معلومیږي چې د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د ۸۱.۷۷ سلنې په پرتله ۷۵.۱۰ سلنه، د پور د پورتفولیو عمده برخه "د نورو سوداګریزو پورونو" په توګه ډله بندي شوې چې په عمده ډول د "ودانیز" سکتور لپاره (۱۲.۵۲ سلنه)، د "تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره ( ۸.۷٤ سلنه) د "غونډ پلورنې" لپاره (۴.۹۳ سلنه) او د "ځمکنې ټرانسپورټ" لپاره (۴.۸۷ سلنه) ځانګړې شوې ده. کرنیز او رهني پورونه یو څه کم شوي چې په ترتیب سره د ټولیزه پورونو ۲.۳٤ سلنه او ۷.۱٤ سلنه جوړوي. د "نورو پورونو" له برخو پرته، ودانیز او تعمیراتي سکتور، د تیلو او روغنیاتو سکتور، د غونډ (عمده)پلورنې، خدمتونو، ځمکنې ټرانسپورټ او د رهني پورونو پر سکتور

(۳) د ۱۳۹۳/۶/۲۶ نېټې ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحد المال

باندې تمرکز کول د پور ورکونې غالب بهیر جوړوي. د کوچنی او منځنی تشبثاتو (SME) او د کوچني کریډټ د سکتورونو پورونه ۱.۶۸ میلیارده افغانۍ ته کم شوي دي چې دا مهال یې کچه ۴.۹۰ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې دا ډول پورونه د څلورو بانکونو لخوا ورکول کیږي.

د پور ورکونې کچه لوړه شوې، که څه هم دا کچه د پور په ځینو کټګورۍ لکه کرنې، کان کیندنې او مخابراتو سکتورونو کې چې مهم اقتصادي سکورونه دي، ډېره لوړه شوې نه ده. د اقتصاد په څو سکتورونو باندې د پورونو د تمرکز له امله بانکونه د کړکیچن وضعیت ترڅنګ د کریډټ له خطر سره مخامخ کیږي چې له امله یې ټول بانکي سکتور اغیزمن کیدای شي، بانکونه باید د هغه مهمو سکتورونو بالقوه خطرونه له نږدې وڅاري چې د صعب الحصول پورونو نسبت یې ډېر وي. د پورونو شاوخوا ۸۰.۹۸ سلنه لومړی په کابل او بیا په هرات او بلخ ولایتونه کې ورکړل شوي حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پورونو د وېش په تناسب کې انډول په پام کې نه دی نیول شوی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې متنوع شي.

دا به ښه وي چې ټول بانکونه د پور ورکولو په پروسه کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري ویش

| نسبتونه | د ۱۳۸۷ کب د ۲۰۰۹ مارچ | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندۍ ( د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندۍ (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ دیسمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او د ودانیزې برخې پورونه | 0.19 | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02 % | 1.80 % |
| نور سوداګریز پورونه | - | - | - | - | - | - | |
| کان کیندنه | - | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07 % | |
| تولیدات | 0.01 | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36 % | |
| سوداګري | 0.51 | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | |
| اړیکي | 0 | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70 % | |
| خدمتونه | 0.09 | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | |
| اسانتیاوي | 0.01 | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05 % | |
| کرنیز پورونه | | | | | | | 0.27 % |
| څاروي او فارمونه | | | | | | | 0 % |
| تولیدات او صنعت ( د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | | 2 % |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | | 4 % |
| سمینټ او ودانیز مواد | | | | | | | 3 % |
| منسوجات ( نساجي) | | | | | | | 2.59 % |
| بریښنا | | | | | | | 0.35 % |
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | | 12.52% |
| خدمتونه | | | | | | | 4.79 % |
| هوټلونه او ریسټورانټونه | | | | | | | 1.20 % |
| مخابرات | | | | | | | 2.92 % |
| ځمکنی ټرانسپورټ | | | | | | | 4.87 % |
| هوایي ټرانسپورټ | | | | | | | 4.18 % |
| روغتیا | | | | | | | 0.71 % |
| رسنی، اعلانونه، او چاپ | | | | | | | 0.04 % |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | | 1.41 % |
| غونډ پلورنه | | | | | | | 4.93 % |
| ماشینونه | | | | | | | 0.12 % |
| نفت او روغنیات | | | | | | | 8.74 % |
| پرزه جات | | | | | | | 0.24 % |
| الکترونیک | | | | | | | 1.40 % |
| سمینټ او نور ودانیز مواد | | | | | | | 1.87 % |
| خوراکي توکي | | | | | | | 4.52 % |
| نور ټول توکي | | | | | | | 5.72 % |
| پرچون پلورنه | | | | | | | 3.92 % |
| لاري او ریل پټلی | | | | | | | 2.41 % |
| بندونه | | | | | | | 0.61 % |
| کانونه | | | | | | | 0.08 % |
| نوري بېخنسټیزې پروژې | | | | | | | 1.81% |
| مالي او پور ورکونکې ادارې | | | | | | | 0.00% |
| کرنیز پورونه | 0 | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38% | 2.34% |
| مصرفي پورونه | 0.02 | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24% | 0.26% |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 0.01 | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84 % | 7.14% |
| نور ټول پورونه | 0.05 | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41 % | 6.68% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۳.۱.۱. د پورونو ډله بندي

### ۱.۳.۱.۱. صعب الحصول پورونه

بانکونه باید هڅه وکړي چې د صعب الحصول پورونو د کچې د کمولو او د اعتباري خطر د مدیریت لپاره اقدامات پیاوړي کړي. بانکونه مکلف دي چې د پورونو لپاره غوښتنلیکونه په دقت سره وارزوي او د پور اخیستونکي مالي حالت له نږدې څخه وڅاري، څو ډاډه شي چې د پورونو په پراختیا سره د مالي نظام ثبات ته کوم زیان نه رسیږي.

د ۲۰۱٤ کال د ډیسمبر د میاشتې په پای کې د صعب الحصول پورونو کچه ۱.۱۱ میلیارده افغانی زیاته شوې چې د تیر کال د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۲.۳٤ میلیارده افغانیو یا ۵.۰۸ سلنې په پرتله ۳.٤۹ میلیارده افغانی دی چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۸.۰۹ سلنه جوړوي چې اصلي لاملونه یې د پورونو کمزوره کیفیت او د پور په ټولیزه پورټوفولیو کې کموالی په ګوته شوي دي. ۵۳.٤۱ سلنه صعب الحصول پورونه په یو خصوصي بانک پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۱.۲۷ سلنه جوړوي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د بانکي مؤسسو سره په نژدې همکارۍ کې له دې مؤسسو غوښتي دي چې د خلکو شتمنیو د کیفیت د پیاوړتیا لپاره خپل پلانونه طرحه او تطبیق کړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو پراخه ویش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه د سوداګرۍ سکتور د صعب الحصول پورونو ۴۳.۹۷ سلنه جوړوي او خدمتونه د صعب الحصول پورونو ۳۳.۶۵ سلنه جوړوي چې د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو دویم ستر سکتور ګڼل کیږي. د مخابراتو او تولیداتو د کریډېټ کیفیت خراب شوی، حال دا چې د سوداګرۍ، کرنې او اشخاصو ته د استوګنې د رهني پورونو د کریډېټ کیفیت ښه شوی دی.

۳.۶ ګراف: د پورونو د پورټوفولیو کیفیت




### ۲.۳.۱.۱ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)[۴] پورونه په تیر کال کې ۱.۷۹ میلیارده افغانی زیاتوالی درلود او ۶.۳۲ میلیارده افغانی ته ورسید چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۳.۹۵ سلنه یې جوړوله.

### ۳.۳.۱.۱. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه[۵] ۲.۳۹ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۵.۵۵ جوړوي او د تیر کال (د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر) په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه دقیقې څېړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ کې وشمېرل شي.

۴. معکوس ډله بندي شوي پورونه: د ۱۳۹۲/۰۹/۱۶ نېټې ۰۳/۹۲ ګڼې مکتوب له مخې هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ـ۵۳۹ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

۵. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۶۰-۳۱ ورځې تیرې شوي وي.

### ۴.۳.۱.۱. په خساره کټګورۍ کې پورونه[۶]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۶۸ میلیونه افغانۍ یا ۰.۳۹ سلنه جوړوي چې د تیر کال راهیسې ۲۹۲ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي. په خساره کټګورۍ کې د پورونو ۱۶۸میلیونه افغانۍ په دریو بانکونو پورې اړه لري.

### ۲.۱. د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیر کال ( د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر) راهیسې د ۰.۷۸ میلیارده افغانۍ کموالي ترڅنګ د ټولیزه شتمنیو ۲۶.۴۹ سلنه جوړوي چې د بانکونو ترمنځ طلباتو کې دا ټیټوالی په یو شمېر بانکونو پورې اړه لري، بانکي نظام که چېرې معتبره پور اخیستونکي ترلاسه نه کړي د خپلو اماناتو یوه برخه په نورو مالي ادارو کې، د هېواد دننه او یا له هېوادو څخه بهر د اماناتو په توګه ږدي چې وروسته د اړتیا په صورت کې دا شتمنۍ د نقدینه ګۍ یا د لږ خطر لرونکو پور اخیستونکو لخوا د پور د غوښتنلیکونو د ترلاسه کولو سره، په لوړه کچه عاید راوړنکو شتمنیو باندې بدلیدای شي. (۴.۶ ګراف)

۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو تر منځ د خپل منځي طلباتو ونډه




### ۳.۱ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې[۷] پورټوفولیو په ۱۳۹۳ مالي کال کې ۳۱.۵۶ سلنه یا ۳.۶۰ میلیارده افغانۍ زیاتوالی موندلی دی. د بانکي نظام د پانګې پورټوفولیو ۱۵.۰۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۵.۸۵ سلنه جوړوي او ستره برخه یې د بانکي نظام په اوو بانکونو پورې اړه لري. له هېواد څخه بهر د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له څلورو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو له دوه نمایندګیو سره تړاو لري.

### ۴.۱. په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو بله ستره کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۳.۹۳ سلنه جوړوي چې د تیر کال راهیسې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۱۱.۴۴ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په خزانه کې د پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو د زیاتوالي عمده لامل د بانکي سکتور په اماناتو کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقرریو سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

### ۲. پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې د ۱۳۹۳ مالي کال ( ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر) په پای کې ۲۲۶.۶۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال ( ۲۰۱۳ کال ډیسمبر) د ۲۱۷.۴۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۹.۱۷ میلیارده افغانۍ یا ۴.۲۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتیدو اصلي لامل د بانکي نظام د اماناتو

(۶)په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتاټې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

(۷)پانګې اچونې چې په پور پاڼو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې رانغاړي.

زیاتوالي په ګوته شوی دی. د ټولیزه پوراینې نورې برخې د تیر کال په پرتله کمې شوي دي.

امانات د بانکي نظام د پوراینې تر ټولو لویه برخه (۹۶.۵۷سلنه) جوړوي، چې دا په بانکي نظام د خلکو د ډاډ، د عامه اړیکو او د بازار موندنې د ښو پالیسیو ښکارندوي کوي.

"پور اخیستنې " او "نورې پوراینې" په ترتیب سره دویم او دریم ځای لري. (۱.۶ جدول)

۵.۶ ګراف: پوراینې ۹.۱۷ میلیارده افغانی یا ۴.۲۲ سلنه زیاتې شوي




سرچینه: د مالي چارو د ځارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

## ۱.۲. امانات

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د ۸.۱۰ سلنه زیاتوالي په پرتله د ۲۰۱۴ کال په ډیسمبر کې ۱۱.۰۲ میلیارده افغانی یا ۵.۳۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام امانات د ۲۰۱۴ کال په لومړیو دریو ربعو کې ټیټېدونکی بهیر درلود؛ د دې کموالی لاملونه د ولسمشریزه ټولټاکنو اوږده پروسه او پر اقتصاد باندې واکمنه ناډاډمنتیا ګڼل کیږي. د تیرې ربعې په اوږدو کې، امانات د لوړېدونکي بهیر ترڅنګ ۱۳ سلنه زیاتوالی کړی دی.

په بانکي نظام کې کوم امانتونه چې په افغانی اینبودل شوي د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱۶.۶۲ سلنې زیاتوالي په وړاندې ۱۲.۶۴ سلنه زیات شوي دي چې د ټولیزه اماناتو ۳۴.۰۸ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې په ډالرو اینبودل شوي امانتونه د ۲۰۱۳ کال په ډیسمبر کې د ۵.۲۸ سلنې زیاتوالي په وړاندې ۱.۱۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی چې بیا هم د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۲.۶۱ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو تر ټولو زیاته برخه ۱۴۰.۶۹ میلیارده افغانی راجذب کړې، خو د تیر کال د ۱۶.۳۵ سلنې زیاتوالي په پرتله ۸.۹۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۴.۲۹ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو ونډه د ۲۰۱۳ کال په ډیسمبر کې ۵۷.۴۲ میلیارده افغانی ته زیاته شوې چې د بانکي سیستم د ټولیزه اماناتو په سلو کې۲۶.۲۴ جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۲۰.۷۲ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۹.۰۵ سلنه ټیټوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۹.۴۷ سلنه جوړوي.

د اماناتو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانات د ټولیزه اماناتو ۷۸.۲۴ سلنه جوړوي چې د ۱۱.۲۹ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري، د بانکي نظام د سپما امانات د ۹.۸۳ سلنه زیاتوالي او د ټولیزه اماناتو د ۱۸.۳۴ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم مقام کې راځي، په داسې حال کې چې د بانکي نظام مودیزه (میعادي) امانات د اماناتو د پورټوفولیو ۳.۴۱ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر میاشتې راهیسې ۲۰.۸۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۶.۶ ګراف: په افغانۍ اینبودل شوي امانات




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۷.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکیب




## ۲.۲ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په توليزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۲۹.۱۶ سلنې کموالي سره د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر میاشتې په پای کې ۳.۹۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر د میاشتې د ۶۷.۸۱ سلنه زیاتوالي په پرتله د بانکي نظام د توليزه پوراینې ۱.۷۶ سلنه جوړوي. په پور اخیستنه کې د دې ټیټوالي بنسټیز لامل د دوو بانکونو تصفیه او تسویه ګڼل کیږي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پوروړي دي.

## ۳. نقدینه ګی (سیالیت)

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانات اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي د خو د نقدینه ګی څخه د راولاړې شویو ستونزو د مخنیوی لپاره

۸.۶ ګراف: د اماناتو ۱.۹۹ سلنه ټیټوالی




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي




سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتیب، بانک باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

### ۱.۳ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

بانکي سکتور د نقدینه ګی کچه په توليزه توګه په دې دوره کې زیاته ده چې د توليزه شتمنیو ۷۳.۲۱ سلنه نغدي شتمنۍ جوړوي. په منځنۍ ډول د ټول بانکي نظام د نقدینه ګی کچه ۷۳.۶۰ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینه ګی نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی.

### ۴. پانګه

د افغانستان بانک د بانکي نظام د پانګې د تقویې او ټینګښت په موخه، د مقرراتي پانګې کچه له ټاکل شوي ټیټ حد څخه ۱.۰۰ میلیارد افغانۍ ته لوړه کړې ده او ټول بانکونه اړ دي چې د خپلې مقرراتي پانګې کچه ټاکلي حد ته ورسوي.

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۰.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۶.۶۰ درجې یا ۱.۸۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې لامل یې د بانکي نظام د ګټورتیا (نافعیت) زیاتوالی دی.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت ۲۶.۴۶ سلنه دی. (۳.۶ جدول).

سلنه یا ۷۴۱ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام په ګټه کې د زیاتیدو بنسټیز لاملونه په غیر ټکتاني عوایدو کې زیاتوالی او په غیر ټکتاني لګښتونو کې کموالی په ګوته شوي دي. په داسې حال کې چې د تیر کال په اوږدو کې په غیر ټکتاني عوایدو کې کموالی او د معاشونو په مصارفو کې زیاتوالی راغلی ؤ.

په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د تیر کال له ۰.۶۱ سلنې څخه ۰.۹۰ سلنې ته زیات او د پانګه اچونکو له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټې نسبت له ۸.۱۸ سلنې څخه ۷.۳۵ سلنې ته ټیټ شوی دی. (۳.۶ جدول)

۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه

| نسبتونه | ۱۳۸۷ (د ۲۰۰۹مارچ) | ۱۳۸۸ (د ۲۰۱۰مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۲مارچ) | ۱۳۹۱ (د ۲۰۱۲ډیسمبر) | ۱۳۹۲ (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | ۱۳۹۳ (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | 29.81 | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.20 | 26.46 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 29.72 | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.78 | 26.09 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 1.15 | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.08 | 8.09 |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | 1.74 | 1.41 | -20.08 | 0.24 | -1.21 | - 0.54 | 0.61 | 0.90 |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) | 10.61 | 10.35 | - 520.66 | 1.9 | -17.9 | - 7.17 | 8.18 | 7.35 |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنی کچه ) | 40.02 | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.07 | 73.60 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنی ونډه | 23.8 | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 62.16 | 73.28 |

*له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۵. ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام په ۱۳۹۳ مالي کال( د ۲۰۱۴ په ډیسمبر) کې په ټولیزه توګه ۲.۱۷ میلیارده افغانۍ ګټه کړې ده چې د تیر کال د ورته دورې د ۱.۴۳ میلیارده افغانۍ ګټې په پرتله ۵۱.۵۶

په ټولیزه توګه دوو بانکونو ۳۶۶ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د ۲۰۱۳ کال په ډیسمبر کې ۵۸۷ میلیونه افغانۍ زیان د دریو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلي عاید ( Core Income) پر بنسټ، یو بانک په زیان کې دی، حال دا چې تیر کال هم یو بانک په زیان کې ؤ.

په ټولیزه توګه خصوصي بانکونه، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ او دولتي بانکونه په ګټه کې دي. (۱۰.۶ ګراف)

## ۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زيان

| | ۱۳۹۲ (د ۲۰۱۳ ډيسمبر) | ۱۳۹۳ ( د ۲۰۱۴ ډيسمبر) | د هرې ربعې د سلنې بدلونونه |
|---|---|---|---|
| د ټکتاني عايد | 9,051 | 9,659 | 6.71% |
| د ټکتاني لګښت | 1,692 | 1,893 | 11.87% |
| د ټکتاني خالص عايد | 7,359 | 7,765 | 5.51% |
| غير ټکتاني عايد | 5,412 | 5,313 | -1.83 % |
| غير ټکتاني لګښتونه | 6,341 | 5,788 | 8.72% |
| د معاشونو مصارف | 3,212 | 3,551 | 10.55% |
| کريډيټ (اعتبار) چمتو کول | 1,173 | 1,124 | - 4.17% |
| له ماليې څخه مخکې ګټه/زيان | 2,045 | 2,615 | 27.87% |
| له ماليې څخه وروسته ګټه/زيان | 1,437 | 2,178 | 51.56% |

۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتيا




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه




۱۲.۶ جدول: نهايي خالصه ټکتانه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

### ۶. د اسعارو خطر

د اسعارو پرانيستي عمومي وضعيت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نيول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټوليزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانيستي وضعيت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لرې، پرته له څلورو بانکونو څخه چې يوه بهرنۍ نمايندګۍ په کې هم شامله ده، د اسعارو د پرانيستي عمومي وضعيت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعيت (امريکايي ډالرو او يورو) له ټاکل شويو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دغه بانکونه بايد د خپل بهرنيو اسعارو پرانيستي وضعيت د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد سره برابر کړي؛ که نه نو د پورته ذکر شويو اسعارو په ارزښت کې د ټيټوالي او يا هم د بې ارزښته کيدو له امله به دا بانکونه نور هم زيانمن شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغيزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۸.۲۷ ميلياره افغانۍ ډيريږي او د دې برعکس راکميدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۱.۶۵ ميليارد افغانيو په کچه بدلون راولي او کمیدل يې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

### ۷. د ټکتاني د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ټکتانې د نرخ د حساس وضعيت څخه برخمن دی. خو بيا هم د بانکونو د ټکتاني نرخ د حساسيت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکتاني خالص عايد به په راتلونکو ۱۲ مياشتو کې په بازار کې د ټکتانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زياتوالي (د ټکتانې د زياتيدونکي نرخ د شاک) له امله ۱.۷۰ ميلياره افغانۍ ته زيات شي.

برعکس، که چیرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۷۰ میلیارده ټیټ شي. که چیرې د یو بانک د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، او په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | رحمت الله حیدري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | سمیع الله بهارستاني |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | عبدالله مسعود |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | عبدالله صافی |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | احمد جواد ساداد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| ژباړه: | عین الله عیان او مسعود ودان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو عمومي آمر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |

د زیاتو معلوماتو لپاره:



| | |
|---|---|
| ټلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۴۷۶۱ |
| فکس: | +93 (0) 202100305 |
| برښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |

د پولي سیاست لوی آمریت
برېښنالیک: mp@dab.gov.af
ټلیفون: +۹۳ ۲۱۰ ۰۲۹۳






د پولي سیاست لوی آمریت
برېښنالیک: mp@dab.gov.af
ټلیفون: +۹۳ ۲۱۰ ۰۲۹۳